# ملالی

**علمي او څېړنیزه مجله**

ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه

علمي چارو معاونیت

څېړنیز مرکز آمریت

**مجلې نوم:** ملالۍ علمي او څېړنیزه مجله

**د امتیاز څښتن:** ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه

**مسئول مدیر:** پوهنیار حبیب الرحمن رحماني

**ډیزاین:** محمد فهیم وقار

**کال:** کب، ۱۴۰۰ ل.

**ګڼه:** لومړۍ

**ګچه:** 10.4 x 7.6

**د مخونو شمېر:** ۱۳۴

**پته:** دوهمه عینو مېنه، ختیځ لور ته، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان.

**برېښنالیک** Info@malalay.edu.af

**د اړیکي شمېره:** 0703300634

**د چاپ ځای:** رحیمي مطبعه کندهار

**د چاپ حقوق ئې محفوظ دي.**

## د دې ګڼې خپرونکي

| شمېره | خپرونکی | موقف | موبایل شمېره | برېښنالیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | عصمت الله سلیمي | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0700325093 | Esamat.salimi2004@gmail.com |
| ۲ | پوهنیار عبدالمالک نیازی | د مؤسسې عمومي رئیس | 0703300632 | Malalay.hei@gmail.com |
| ۳ | سمیع الله عزام | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادان | 0703931702 | samiullah.ezam@gmail.com |
| ۴ | محمدانور انوري | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0705290052 | afghananwari52@gmail.com |
| ۵ | نویدالرحمن سروري | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0780606220 | nawidurrahmansarwary@gmail.com |
| ٦ | صبغت الله مسرور | د کیفیت تضمین او لوړاوي آمر | 0707885653 | samasroor73@gmail.com |
| ۷ | ډاکټر خلیل احمد کاکړ | د طب پوهنځي استاد | 0703140094 | Khalilahmad01.ka@gmail.com |
| ۸ | نوماند پوهنیار محمد هاشمي | د طب پوهنځي استاد | 0707210465 | Mg.hashami2010@gmail.com |
| ۹ | عبدالرحمن اڅکزی | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0704782018 | achakzaiabdulrahman@gmail.com |
| ۱۰ | شجاع آرین | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0798527829 | shujaaryen@gmail.com |
| ۱۱ | عابدالرحمن حبیبي | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0731007677 | abidrahmanhabibi@gmail.com |
| ۱۲ | ډاکټر احمد شاه عمر | طب پوهنځي رئیس | 0700302681 | dr.ahmadshah31@gmail.com |

## پیلیزه

د لوړوزده کړو مؤسســـــې او پوهنتونونه درې مهمې وظیفې لري، د تعلیم په وســـیله د معلوماتو انتقال، د علمي بحثونو او څېړنو په واسطه د معلوماتو تولید او د ټولنې پرمختګ. ذکرسوې درې وظیفې یوه له بلې سره د نوم له مخې جلا دي خو د اثر او اغیز له مخې یوه له بلې سره نه بیلیدونکې قوي تړاو لري. تعلیمي عملیه له یوې خوا مســـلکي کادرونه روزي چې د ټولنې په مختلفو برخو کې خدمت کوي او له بلې خوا د علمي څېړنو لپاره د معلوماتو غنې میدان برابروي او څېړنې هم په خپل نوبت سره د تعلیمي عملیې کیفیت لوړوي، د ټولنې ستونزې په ډاګه کوي او د حل لپاره یې منا سبې تګ لارې وړاندې کوي؛ نو ویلی سو چې دغه درې ګونې وظیفي هغه مثلث دی چې هره ضلع یې د بلې د وجود ضمانت کوي او ضعف یې د بلې د کمزورۍ لامل ګرځي.

علمي څېړنې د پرمختګ له مهمو او اســـاسي عواملو څخه شـــمېرل کېږي، چې د ټولنې په مختلفو اقتصـــادي، اجتماعي اوکلتوري برخوکې ستونزې تشخیصوي او د حل لپاره یې دا سې منا سبې لارې چارې وړاندې کوي، چې د انتاج او تولید په کمیت او کیفیت باندې مثبت اغیزکوي. علمي څېړنې په هغه وخت کې د ټولنې په پرمختګ کې ملموس بدلون راو ستلی سي چې نتائج یې په صحیح توګه وکارول سي او له ذیدخله بنسټونو سره شریک سي.

د علمي څېړنو اهمیت ته په کتو سره پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤ سسات دې برخې ته ډېره توجه کوي؛علمي څېړنو ته ځانګړی مرکز، بودجه اوهغه و سایل چې څېړونکي ورته د څېړنو پرمهال ضرورت لري آماده کوي څکه چې پوهنتونونه او مؤ سسات د علمي څېړنو پرته یواځې تعلیمي مراکزګرځي چې د نورو له خوا لا سته راوړل سوي علوم تدریسوي په خپله د معلوماتو د تولید نو ښت او ابتکار نه لري چې د پوهنتونونو له مهمو موخو او ا هدافو څخه ګڼل کیږي، چې د هغو په رڼاکې په ملي او بین المللي کچه اعتبارترلاسه کوي.

ملالۍ د لوړوزده کړو مؤسسه علمي څېړنوته د اهمیت په نظر ګوري او د تحصیلي مثلث هغه ضلع بولي چې د مؤسسې د پرمختګ ضـــمانت کوي، له همدې کبله یې د علمي څېړنو لپاره جلامرکز، د ماســـتري ســـند لرونکی آمر، کافي بودجه او د څېړنو د نشرـلپاره ئې(ملالۍ علمي څېړنیزه مجله) تا سیس کړې ده، چې دغه یې لومړۍ ګڼه ده چې په مختلفو حقوقي، قضایي، اقتصادي، تحصیلي اوطبي برخوکې یې اته څېړنې اویوه سروې احتوا کړې دي، په دې هیله چې د ټولنې ذیدخله مراجع به یې له نتائجو څخه د تولید د کیفیت او کمیت په برخه کې لازمه ا ستفاده کړې وي او په دې سره به ملالۍ د لووړوزده کړومؤسسې خپل ماموریت منعکس کړی وي او په ټولنیزي، اقتصادي او کلتوري وده کې به یې د هیواد په پرمختګ کې ونډه اخیستې وي.

په پای کې لو ستونکو ته د ملالۍ علمي څېړنیزي مجلې مبارکي وایم او ترڅنګ یې له ټولو ا ستادانو او اداري کارمندانو څخه د زړه له کومې مننه کوم -په ځانګړې ډول د څېړنیز مرکز له محترم آمر حبیب الرحمن رحماني صـــاحب څخه چې د یادې مجلې په تهیه او ترتیب کې یې شپه او ورځ زیار ګاللی دئ.

**پوهنیار عبدالمالک نیازی**

**د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې رئیس**

# د مطالبو فهرست


**د کندهار پر اقتصاد د سود اغېزې.............................................................. 1**

عصمت الله «سلیمي»

**په اسلام کې معلولینو ته پاملرنه.............................................................. 24**

پوهنیار عبدالمالک نیازی

**په کنـدهار کي د جنایي عـدالت په تأمین کي د مدافــع وکــیل رول ........................35**

عبدالرحمن «اڅکزی» او سمیع الله «عزام»

**د کندهار په تعلیمي او تحصیلي خصوصي سکتور کي د کارمندانو د عدم رضایت عوامل...........47**

محمدانور «انوري»، عصمت الله «سلیمي» او شجاع «آرین»

**په کنـدهار کي اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي کچه او څرنگوالی.......................... 65**

نویدالرحمن «سروري» او عابدالرحمن «حبیبي»

**په کندهار ولایت کې د (USAID) د مرستو اغېز .............................................85**

صبغت الله مسرور

**سټرس مدیریت د روغتیایي کارکوونکو تر منځ: د کرونا په جریان کي د ځان او نورو ساتنه ...... 99**

ډاکټر خلیل احمد کاکړ

**په کاربو هایدریتونو کي د مونو سکرایډونو ساختماني جوړښتونه........................... 114**

نوماند پوهنیار محمد هاشمي

**کندهار ولایت کي د میکروب ضد درملو د استعمال سروې .................................... 126**

ډاکټر احمد شاه عمر

# د کندهار پر اقتصاد د سود اغېزې

عصمت الله سليمي
د سياسي علوم او نړۍ والي اړيکي څانګې استاد
0700325093
Esamat.salimi2004@gmail.com

**لنډيز**

داچې انسانان الله (ﷻ) پيدا کړي دي نو د ژوندانه له پاره ئې هم ورته ټاکلي معيارونه، اصول او قواعد ورکړي دي. د انسان په ژوند کي صحت او اقتصاد هغه فکتورونه دي چي انسان ئې له تنظيم بغير له ژوند څخه ناهيلی کېږي، نو مي لازمه وګڼله تر څو د مسلمان امت په منځ کي پر هغه برخه څېړنه وکړم، چي نن زموږ ټولنه ورڅخه ستونزي ګالي، چي اوسني اقتصادي معاملات دي. دا چي د معاملاتو له پاره اسلامي شريعت ځانګړي اصول او قواعد لري، غواړم پر هغه اړخ ئې څېړنه وکړم چي داسلامي شريعت له طرفه ور باندي بنديز لګېدلی دئ، تر څو د ټولني نظم ګډوډ نه کړي، چي هغه برخه سود (ربا) (interest) دئ. دا چي سود الله تعالی حرام بللی دئ، نو په همدې څېړنيزه مقاله کي اوسني روان معاملات او هغه اړخونه څېړل سوي دي کوم چي له همدغه حرام عمل سره تړلي دي، لکه د جاهليت ربا(سود)، تجارتي ربا(سود)، اضافي ربا(رباالفضل)، د بانکي ربا(سود) چي په اوسني ټولنو کي همدا ټول جريان لري او د همدغه ستونزي د حل په موخه مي همدا څېړنه چمتو کړې ده، تر څو مي خپله ايماني وجيبه اداکړې وي او هم مي د اوسنۍ مسلماني ټولني له پاره يو داسي څه بديل کي وړاندي کړي وي چي د همدغه ناجائز عمل پر ځای ورڅخه ژوند کي کار واخلي او د اسلامي شريعت په پلي کولو سره هم خپل ځان اوهم نوره مسلمانه ټولنه له کړاونو څخه وژغوري. تيرو څېړونو ته د کتني پر اساس دا ثابته سوه چي سود د تجارتي معاملاتو او ټولني له پاره يو ضرر رسوونکی فکتور دئ. دا چي په کندهار ښار کي په زياتره معاملاتو کي د سود موجوديت تر سترګو کېدی او تر اوسه کومه څېړنه د سود او د هغه اغېزې پر اقتصاد باندي په کندهار ښار کي نه وه تر سره سوې نو مي د همدې خلا د ډکولو په موخه نوموړې څېړنه تر سره کړه. دغه څېړنه تر يوې اندازې کتابتوني او تر ډېره پکښې د لمړنۍ ډاټا څخه استفاده سوې ده چي د پوښتنليکونو او مرکو له لاري را ټوله سوې او بيا وروسته د SPSS په واسطه تحليل سوې ده. په دې څېړنه کي مشخص سوالونه جواب سوي لکه: په کندهار ښار کي له سودي قرضي فرصت څخه تر کومه حده خلک استفاده کوي؟ په کندهار ښار کي د سود قرضي فرصت په مقابل کي کوم اسلامي بديلونه وجود لري او کارول کيږي؟ په کندهار ښار کي تر کومه حده مالي مؤسيسات له سودي سيستمونو څخه استفاده کوي؟ په کندهار ښار کي په کومو تجارتي معاملاتو کي سودي مداخله وجود لري؟ څېړونکي داسي توقع کوي چي په کندهار ښار کي په ډېره کمه اندازه سره اسلامي قرضي فرصتونه موجود دي. همدا مشکل اساسي لامل وو، چي همدا څېړنه ورباندي تر سره سوه.

**کليدي کلمات:** اقتصاد، سود، پانګوال، کندهار، مالي مؤسيسات

**پېژندنه**

دا چې افغانستان یو اسلامي هیواد دئ او ټول خلک او مالي مرکزونه ئې باید د اسلامي قواعدو په نظر کې نیولو سره تجارتي معاملات تر سره کړي او حلاله روزي تر لاسه کړي، باید ټول هغه معاملات چې غیر اسلامي دي؛ لکه سود، احتکار او همدې ته ورته نورو غیري اسلامي معاملاتو اړوند پوره پوهاوی ولري. خو بد بختانه د کندهار ولایت په زیاتره بانکونو او تجارتي معاملاتو کې د سود کړنه یا رباه تر سترګو کیږي، نو په هکله ئې باید حقیقي څېړنه وسي چې ولې خلک د سود د مخینوي په خاطر د اسلامي تجارتي معاملاتو څخه استفاده نه کوي؟ باید څرګنده سي چې هغه اسلامي بانکونه چې په کندهار ولایت کې په فعالیت بوخت دي، تر کومه حده د سودي بانکونو او سودي سیستمونو په له منځه وړلو کې مهم تمام سوي دي؟ په مختلفو هیوادونو کې د څېړونو پر اساس دا جوته سوې ده چې د فقر او نشه یي توکو د استعمال اساسي عامل سود دئ او هغه بانکونه چې په ټاکلي سود سره سرمایه ګذارانو ته پیسې په قرض ورکوي، قرض اخیستونکی نه سي کولای چې د سود د مقدار د زیاتوالي په وجه قرض سوی مقدار تادیه کړي، نو بالاخره بانکونه د پانګې له کمښت سره مخ سوي دي. څرنګه چې د سود نرخ او سرمایه ګذاري په خپل منځ کې مسقیمه اړیکه لري، د سود په ټیټ نرخ سره ټول سرمایه ګذاران زړه ښه کوي، تر څو د مالي مرکزونو څخه په زیات مقدار سره پیسې په قرض واخلي او په خپله سرمایه ګذاري کې زیاتوالی را ولي او برعکس.

د دي له پاره چې په ټولنه کې هر هغه کس چې د سرمایه ګذارۍ بشپړ مهارتونه لري، په پوره اطمینان سره قرض ترلاسه کړي او د خپلو مهارتونو څخه په استفاده سره سرمایه ګذارۍ ته زړه ښه کړي، باید د سود مخه ونیول سی، ځکه په اسلامي ټولنو کې زیاتره د سود د موجودیت په خاطر دې ته زړه نه ښه کوي چې د بانکونو څخه قرض واخلي او په قرض باندي د ربحې د تادیې د وهم (بیري) په خاطر له سرمایه ګذارۍ څخه مخ اړوي، کوم چې د هیواد په سطحه د پرمختګ او ملي ناخالص تولید د کموالي سبب کیږي.

په کندهار ښار کې د پانګې اچوني د زیاتوالي په موخه تجاران ، مالي مؤسیسات او دولت باید هڅه وکړي، تر څو د سودي سیستمونو د مخنیوي په خاطر اسلامي بدیلونه په وجود راوړي. دا چې په کندهار ښار کې تر کومه حده خلک په سودي بانکونو کې خپله سپما په ټاکلي سود سره د امانت په شکل ږدي او تر کومه حده د ټاکلي سود په مقابل کې له بانکونو څخه قرض اخلي، یوې علمي څېړنې ته ئې ضرورت درلود او همدارنګه دا چې په بانکونو او معاملاتو کې د سودي سیستمونو څخه استفادې پر سرمایه ګذارۍ او په مجموع کې پر اقتصاد تر کومه حده اغېزې پرې ایستلي، په دې څېړنه کې به په واضح شکل سره څرګنده سي. د دې څېړنې اساسي موخه همدا ده چې په کندهار ښار کې د سودي سیستمونو تاثیرات پر سرمایه ګذارۍ او په مجموع کې پر اقتصاد باندي د اسلام له نظره بر رسي کړو.

په کندهار ښار کې تر زیاته حده د خلکو پوهاوی د سود د منفي اغېزو او همدارنګه د اخروي تاوانو په هکله کم دئ، دا چې هر سیستم که اسلامي وي او که سودي خو متخصیصي کاري قوې ته ضرورت لري، خو بد بختانه دا چې په کندهار ښار کې د اسلامي اقتصاد اړوند په زیاته اندازه سره علمي لیکني اوڅېړني نه لیدل کیږي نو ور سره د اسلامي بانکدارۍ اړوند تخصص او د پوهاوي کچه ډېره کمه تر سترګو کیږي.

الحمدالله اوس مهال په کندهار ښار کې تر زیاته حده په خلکو کې د پانګوالۍ مهارتونه لیدل کیږي، خو دا له یو طرفه د غربت له وجه په کافي اندازه سره پانګې ته لاس رسی نه لري او له بل طرفه په مالي مؤسیساتو کې د سود شتون سرمایه ګذاران د پانګوني

څخه مخ په ښه کړي دي. د دې له پاره چي په کندهار ښار کي پانګونه زیاته سي او سرمایه ګذاران او بزګران زړه ښه کړي، چي د مالي مؤسیساتو څخه د موثري پانګوني په موخه قرضونه ترلاسه کړي، باید د ربحې یا سود مخه ونیول سي.

### د څېړني ستونزه

داچي په کندهار ښار کي تر زیاته حده خلک خپل اسلامي قیوداتو ته په کلکه پاملرنه سره خپل د عاید لاس ته راوړلو په هڅه کي دي، خو بد بختانه د سرمایه ګذارۍ د مهارتونو په لرلو سره بیا هم د سرمایه ګذارۍ له پاره په کافي اندازه پانګي ته لاس رسی نه لري او هغه مالي مؤسیسات چي اوس مهال په کندهار ښار کي په فعالیت بوخت دي، تر ډېره حده په سودي سیستم باندي ولاړ دي، نو د کندهار ښار زیاتره ماهر پانګوال د اسلامي ارزښتونو د ساتلو په خاطر زړه نه ښه کوي تر څو د پانګوالي له پاره له مالي مؤسیساتو څخه په سود سره قرض واخلي، چي پایله به ئې د کندهار ښار په سطحه د سرمایه ګذارۍ کمښت وي او د وخت په تېرېدو د کندهار اقتصادي وده کموالی مومي.

### د څېړني اهمیت

په هره ټولنه کي د مختلفو ستونزو د حل په خاطر تر مختلفو عنوانو لاندي څېړني تر سره کیږي. دا چي په کندهار ښار کي په مالي سکتورونو کي سود او سودي معاملات تر سترګو کېدل او په دې خاطر تر څو پوه سو چي ولي مالي مؤسیسات په اسلامي هیواد افغانستان کي دا شان معاملاتو ته اړ سوي دي او تر کومه حده په دا شان معاملاتو کي ښکېل دي نو یوې علمي څېړني ته ضرورت لیدل کیږي. له بله اړخه دا چي د افغانستان د تجارت قانون ټول پر اسلامي شریعت باندي اتکا لري او د افغانستان اوسېدونکي ئې په عملي کولو سره مکلف دي نو که دوی له مالي مرکزونو څخه قرض اخلي، هغه باید له اسلامي قانون سره په ټکر کي نه وي، یعني په سودي ډول سره نه وی. دا چي د کندهار ښار د اوسېدونکو له پاره د قرض اخیستني اسلامي فرصتونه په نسبت سودي قرضي فرصتونو ته ډېر کم دي، باید دلایل ئې د یوې علمي څېړني په مرسته سره وڅېړل سي.

### د څېړني موخه

د دې څېړني موخه دا ده؛ تر څو په کندهار ښار کي سودي معاملات او د هغو اقتصادي اغېزې وڅېړل سي، تر څو د کندهار ښار په سطحه د منفي اقتصادي اغېزو د مخنیوي او سرمایه ګذارۍ د لا زیاتوالي په موخه د ښه تګلاري او سودي سیستم بدیل ومونډل سي او عملي سي.

### د څېړني سوالونه

- په کندهار ښار کي له سودي قرضي فرصت څخه تر کومه حده خلک استفاده کوي؟
- په کندهار ښار کي تر کومه حده مالي موسیسات له سودي سیستمونو څخه استفاده کوي؟
- په کندهار ښار کي په کومو تجارتي معاملاتو کي سود وجود لري؟

### تیرو څېړونو ته کتنه

لکه څنګه چي سود په اسلام کي یو ناجائز عمل بلل سوی دئ نو موږ د خپلي عقیدې له مخي دا وایو چي هر هغه عمل چي په اسلام کي ناروا وبلل سو، خامخا د دنیا او آخرت زیانونه ورسره ترلي دي، یعني په دنیا کي هم د زیان او نقصان سبب ګرځي او خیرت کي هم. دلته مو د هغو علماوو او لیکوالانو څېړني او لیکني را اخیستي دي چي دائي څېړلې ده چي سود څومره مضره او تاواني معامله

ده؛ د ټولنې، فرد او هيواد له پاره ځومره خطرناک زهر دي، چې نن زموږ ټولنه ورباندي اخته ده. الله(ﷻ) دي ور څخه زموږ مسلمان امت ته نجات ورکړي.

د اقتصاد او تمويل په يو نړۍوال علمي ژورنال کي د (Derbel and Dammak 2010) څېړونکو له خوا يوه څېړنه تر سره سوې ده. د دې څېړنې په پايله کې دا په ډاګه سوې ده، هغه هيوادونه چې د غيري اسلامي تمويل مېتودونو څخه استفاده کوي په نسبت د هغو هيوادو چې د اسلامي تمويل د مېتودو څخه استفاده کوي، د قوي اقتصاد لرونکي دي او متاثره سوي نه دي. د دې څېړنې اساسي هداف دا وو؛ چې وښيي ايا اسلامي تمويل د اقتصادي بهرانو له پاره حل کېدای سي او که نه؟ نو بالاخره د وار(VAR) موډل څخه په استفادې سره پورته ذکر سوي څېړنکو د فرانسې، امريکا، اندونيزيا او سعودي عربستان هيوادونو شاخصونه تحليل کړل، چې پايله ئې دا سوه؛ چې په امريکا متحده ايالاتو کي د بحران پر وخت مارکېټ منفي اغېز اخيستی وو.

مشتاق صديقي (2016م.) وايي؛ څرنګه چې سپما او سرمايه ګذاري د اقتصادي ودي له پاره له ډېرو مهمو فکتورونو څخه دي، د سود نرخ د همدې دواړو فکتورونو ټاکوونکی فکتور بلل سوی دئ، خو له بله طرفه د اسلامي علماوو له نظره ربا او يا په سپما او سرمايه ګذارۍ باندي رباء په اسلام کي منع ده، لهاذا د زياترو مسلمانانو هڅه دا وي چې د رباء له لاري عايد کم کړي. د دې څېړني هدف دا وو چې د مسلمانانو د همدغه مالي تصميم تاثير پر سپما او سرمايه ګذارۍ باندي معلوم کړي. د څېړني په پايله کي دا ښودل سوې ده چې مسلمانان په اسلامي هيوادونو کي په سپما باندي عايد ته ارزښت نه ورکوي او رباء يا د سود نرخ پر سرمايه ګذارۍ باندي منفي تاثير لري، يعني د سود د نرخ او سرمايه ګذارۍ تر منځ اړيکه منفي ده.

له پورته څېړني څخه دا په ډاګه سوه چې په اسلامي هيوادونو کي د دې له پاره چې سرمايه ګذاري زياته سي او ور سره کاري فرصت رامنځ ته سي نو بايد بانکونه او تجاران په خپلو معاملاتو کي د رباء څخه په کلکه مخنيوی وکړي، ځکه څېړني دا ښوولې ده چې په اسلامي هيوادونو کي د رباء او سرمايه ګذارۍ تر منځ منفي اړيکه وجود لري.

يوه بله څېړنه چې په (2005م) کال کي د شميم احمد له خوا د رباء او د هغه له منځه وړلو په ارتباط تر سره سوې ده. دوی د خپلي څېړني په پايله کي دا ښوولي دي چې د رباء د لمنځه وړلو له پاره يوازې او يوازې ګټه او تاوان د شريکو بانکونو موجوديت له منځه وړلای سي، يعني اوس مهال چې کوم بانکونه خلکو ته قرضونه ورکوي، هغه يوازې او يوازې د يوې معلومي ګټې په مقابل کي چې سود دئ، ورکول کېږي، بلکي د مشتري او بانک په منځ کي تاوان او ګټه شريک نه وي.

بله څېړنه د امريکا هيواد په کلفورنيا ايالت کي چې سود د سګرېټ څکولو او نورو نشه يي توکو کارولو له پاره لاره هواره وي، ترسره سوې ده. دغي څېړني د(1984 او 1987) کلونو له احصايې څخه په استفاده چې کوم ارقام لاسته راوړي دي، معلومه کړې ده چې د سود اخيستونکې ګټه چې بېله کوم تکليف او زحمته لاس ته راوړل کيږي، زمينه سازي کوي تر څو همدا معامله‌ګر د زيات راحت او عياشۍ له وجې نشه يي توکو کارولو ته مخه کړي. دوهم هغه ډله خلک دي چې سود اخلي او بيا ئې د ادا کولو له پاره زيات زحمت ګالي، چې د همدې تشويش او نه جبران په موخه مجبور کيږي چې مختلفو نشه يي توکو ته مخه کړي، تر څو خپلې ستونزې او تشويشونه په رفعه کړي (Donoldphilip 2016_2018).

هغه څېړنه چې دانسانانو د جسماني قوت د کمزورۍ د عواملو تر عنوان لاندې په ارجنټاين او ډينمارک هيوادونو کې تر سره سوې ده؛ ښيي چې سود له هغو عواملو څخه دئ چې د همدغو معامله‌گرو صحت ته زيان رسوي. دوه عمده عوامل ئې په گوته کړي دي؛ چې يو ئې د زياتو عوايدو لاسته را وړلو په وجه د الکولو او نورو مشروباتو زيات استعمال دئ، دوهم د هغې گټې نه لاسته راوړل چې د سودي بانکونو له خوا ورڅخه پر ټاکلې موده غوښتل کيږي. همدغه عوامل د دې سبب گرځيدلي چې روحي تشويشونه ايجاد کړي او د ټولني ځوانان له ناوړه پايلې سره مخ کړي. حل لاره ئې دا ښوولې چې د سود نرخونه دې په نړۍ کې ټيټ سي، تر څو گټه ئې هم محدوده سي او جبران يا د سود د گټې اداينه هم امکان پذيره وگرځي (Bang 2012).

## د څېړني کړنلاره

دا څېړنه کمي ده او له تشريحي مېتود څخه په کښې استفاده سوې ده چې په کندهار ښار کې د سودي معاملاتو د څرنگوالي او د هغو د تاثير په اړه شننه ده. د کار کوونکو نظرونه او معلومات د فوق الذکر موضوع په اړه د پوښتنليک له لارې را ټول سوي دي. دا څېړنه د لومړني او دوهمي ډاټا لرونکې ده، چې د لومړني ډاټا را ټولولو له پاره له پوښتنليک او انټروۍ څخه استفاده سوې ده او دوهمي ډاټا له معتبرو کتابو او ژورنالو څخه راټوله سوې ده. د څېړني پوښتنليک له درو برخو څخه مشتمل سوی دئ، چې يوه برخه ئې د جواب ورکوونکو په اړه معلومات دي، دوهمه برخه ئې د سودي معاملاتو په اړه معلومات دي او درېيمه برخه ئې هغه پوښتني دي چې له پانگوالو څخه سوي دي.

څرنگه چې نوموړې څېړنه پر لومړني او دوهمي ډاټا ولاړه ده، نو د همدې موخي په پار د کندهار ښار د بېلا بېلو سيمو څخه د (random sampling) مېتود دئ او بل ئې (judgmental sampling) مېتودونو په کارولو سره (۱۷۰) کسان د نمونې په توگه ټاکل سوي دي، چې په دې نمونه کې سوداگران، صرافان او عام تجاران شامل دي. د ټاکل سوو کسانو لخوا (۱۵۰) پوښتنپاڼې ډکې سوي دي. لومړنۍ ډاټا د پوښتنليکو او د ديني علماؤ سره د مرکو له لارې تر لاسه سوې او بيا د SPSS په واسطه تحليل سوېده ده او دوهمي معلومات د قران کريم، احاديثو او ديني کتابونو څخه راغونډ سوي دي. پاته دې نه وي چې د همدې څېړني له پاره د داسې طريقو څخه استفاده سوې ده چې دتجارانو رازونه او حقوق پايمال نه سي او همداسې د ټولني هغه ارزښتونو ته زيان و نه رسيږي چې د ټولني د عقيدې او کلتور اړوند وي او يا هم داسې څه وړاندې نه سي چې زموږ داسلامي شريعت اړوند معاملاتو له پاره خنډ واقع سي.

## د سود (رباء) معنی او مفهوم

سود په لغت کې زياتوالي، نمو، ترقي او پورته والي ته وايي او د شريعت په اصطلاح کې سود (رباء) هغه زياتوالي ته وايي چې پرته د مالي عوض څخه لاسته راوړل کيږي. همدارنگه د سود په اړه زياتو علماؤ مختلف تعريفونه کړي دي، چې موږ ئې يو څو په مختصر ډول ذکر کوو: ابوبکر جصاص سود داسې تعريفوي: «چې سود داسې قرض دئ چې د ټاکلې مودې له پاره په دې شرط ورکول کيږي چې قرض اخيستونکی به ئې د بيرته سپارلو پر وخت له اصلي قرض سره سره ټاکلی زياتوالی هم ورکوي.»

له دې تعريف څخه لاندې څو خبرې څرگنديږي:

الف: سود زياتوالی دئ، پر اصلي مبلغ باندې.

ب: دا پر اصلي قرض باندي داسي يو تفاضل دئ چي بيرته ورکول ئې يوه معاهده وي يا په خپله خوښه منل سوې وجيبه ده.

ج: دا يو معين تفاضل دئ، چي تر معين وخت وروسته تاديه کيږي يعني د ټاکلي مودې په مقابل کي اخيستل کيږي. ابن قدامه حنبلي د سود تعريف داسي کوي: «په ځانګړو شيانو کي زياتوالي ته سود وايي، چي په کتاب الله (ﷻ)، نبوي سنتو او د امت په اجماع (اتفاق) سره حرام سوی وي.» او د قران کريم په آيت کي داسي تعريف سوی دئ: چي سود عبارت له هغه زياتوالي څخه دئ چي پرته له عوض څخه وي. [هر زياتوالی چي پرته له عوض څخه وي، هغه سود دئ.] د جامع صغير تعريف داسي دئ: هر هغه قرض چي څه ګټه وکړي، رباء (سود) دئ.

**د سود شرعي حکم:**

په اسلام کي سود ورکول او سود اخيستل حرام دئ، په قطعی حرمت سره . او حرمت يی د الله(ﷻ) په جامع او تلپاتي کلام سره ثابت دئ، چي فرمايي: (وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا) (سورة القره: ٢٧٥)

ژباړه: حال دا چي حلال کړی دئ الله(ﷻ) تجارت او حرام کړی ئې دئ سود.

**د حرمت علت**

د سود د حرمت د علت حکمت او فلسفې په اړه اړوند مفسرينو ويلي دي؛ چي الله(ﷻ) سود ځکه حرام کړی دئ؛ چي په دغه ناوړه کاروبار کي د ټولني له پاره ډېرV زيات تاوانونه دي، چي له هغو څخه يو هم اخلاقي زيانونه دي.

په قران کريم کي د سود په اړه زيات شمېر آيتونه راغلي دي، چي په هغو سره سود حرام سوی دئ او د هغه په هکله ئې سخت او شديد موقف نيولی دئ، حتی تر دې چي سود خوړونکي ته ئې داسي اعلان کړی دئ؛ چي سود پرېږده او که ئې نه پرېږدې نو د الله(ﷻ) او د هغه د رسول (ﷺ) سره جنګ ته تيار سه. نو له دې څخه دا معلوميږي، چي سود د الله (ﷻ) په نزد ډېر لوي جرم دئ، ځکه چي الله(ﷻ) ورته بد ويلي دئ او الله(ﷻ) په قهر او غوسه کوي، يعني پر الله(ﷻ) باندي خپل بې وزله بنده ګان دومره ګران دي چي د دوی د مظلوميت په خاطر سود خوړونکو ته د جنګ اعلان کوي.

د سود د ګناه په اړه په يو حديث شريف کي راغلي دي چي د سود ګناه دوه اويا(٧٢) حصې ده، کمه حصه ګناه ئې داسي ده لکه يوکس چي له خپلي مور سره زنا وکړي. په قران کريم کي الله(ﷻ) د سود خوړونکي په هکله داسي فرمائي:

(الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَى فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ وَمَنْ عَادَ فَأُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ) (سورةالبقره: ٢٧٥).

ژباړه: هغه کسان چي سود خوري، نه پاڅيږي، مګر د هغه چا د پاڅېدو په څېر چي شيطان په لمس (لاس راښکلو) سره د ده حواس خراب کړي وي، دا په دې خاطر چي وايي بيع خو هم د سود په څېر ده، حال دا چي الله(ﷻ) بيع حلاله کړې ده او سود ئې حرام کړی دئ، نو چا ته چي د خپل رب له لوري موعظه راغله نو ډډه ئې وکړه، ده ته هم هغه پخوا تېر سوي دي او کار ئې الله(ﷻ) ته (محول) دئ او څوک چي بيا بيرته ور وګرځيدی، نو دوی دوږخيان دي، په هغه (دوږخ) کي تل پاتي دي.

همدا رنګه په قران کریم کې د سود د تباهۍ او صدقې د تائید په اړه داسې راغلي دي.

(يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ)(سورة البقره: ٢٧٦).

ژباړه: الله(ﷻ) سود تباه کوي او صدقې ته وده ورکوي او الله(ﷻ) هیڅ ګناه ګار کافر نه خوښوي.

یعني سود د تباهۍ وسیله ده او صدقه د ودې او پراخوالي باعث ده او په سود سره ګټه او پانګه دواړه تباه کیږي او په صدقې سره به الله(ﷻ) ستا په شتمنیو کې برکت اچوي او هم به الله(ﷻ) د صدقې په بدل کې تا ته اجر او ثواب درکوي او سود د سخت زړو کافرانو او ګناه‌ګارانو کار دئ، ځان ور څخه وساتئ! ځکه چې الله(ﷻ) سود نه خوښوي او هغه خوک چې ایمان ئې راوړی وي، نېک عملونه کوي، لکه: لمونځ، روژه، زکات، جهاد او داسې نور چې په دې سره الله (ﷻ) د دوی اجر تضمین کړي، نه ویره پر سته او نه به غمجن سي او همدا رنګه په بل ځای کې الله(ﷻ) فرمائي:

(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ)(سورة البقره: ٢٧٨)

ژباړه: ای مؤمنانو له الله(ﷻ) څخه و وېرېږئ او پاتي سود پرېږدئ، که ایمان لرئ.

(فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ)(البقره: ٢٧٩)

(وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ)(سورة البقره: ٢٨٠)

ژباړه: که پوروړی له تنګسې سره مخ وو نو بیا تر پراخۍ انتظار کول دي او که ئې وبخښئ ډېر درته غوره ده که پوهېږئ.

(وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ).

ژباړه: له هغې ورځې څخه وبېرېږئ چې الله (ﷻ) ته په کښې ورګرځئ، چې بیا به هر چا ته خپلې لاسته راوړني پوره ورکړل سي او ظلم به پرې نه کیږي.

یعني که ایمان لرئ نو له سود څخه ډډه وکړئ. سود خوړل د ایمان خلاف کار دئ او له الله(ﷻ) او د هغه د رسول(ﷺ) سره د جګړې مترادف دئ (سود خوړونکی دي له الله(ﷻ) او د هغه د رسول (ﷺ) سره جګړې ته تیار سي) کوم نظام چې پر سود ولاړ وي، له الله(ﷻ) څخه باغي نظام دئ.

له دې مبارکو آیتونو څخه دا معلومیږي چې الله(ﷻ) به پر سود متکي نظامونه هرو مرو له جګړو سره مخامخ کوي. پر سود ولاړه ټولنه به ورو ورو هغې مرحلې ته ورسیږي چې ثروت د څو محدود شمېر شتمنو په لاس کې پرېوځي او د ټولني اکثریت به له مسکنت او لوږې سره مخامخ سي، شتمن ورځ په ورځ مزید شتمن او نادار نور هم نادار کیږي. دغه حالت په دې دواړو طبقو کې کرکه او نفرت راپیدا کوي، چې دا کرکه او نفرت اخر تر دې حده پورې رسیږي چې محرومه طبقه د شتمنو پر ضد پاځون کوي، چې حتی په دې پاځون کې له سلاح څخه هم کار اخیستل کیږي، یعني محرومه طبقه د خپلې آزادۍ په خاطر له شتمنو سره هر قسم مقابلې ته ځان اماده کوي، ځکه چې دوی بله لاره نه لري، چې د دې په نتیجه کې به اخر د جګړې اور خامخا بلیږي. دا د علیم او حکیم ذات(ﷻ) د دغې وینا مصداق دئ چې وایي سود خور که سود نه پرېږدي نو له الله (ﷻ) او د هغه له رسول(ﷺ) سره دې جګړې

ته تیارسي. له دې مبارک آیت څخه داڅرګندیږي چي که سود خور د سود څخه لاس وا نه خلي نو اسلامي حکومت په دې مکلف دئ چي د دوی پر ضد د جګړې اعلان وکړي.

**د رباء یا سود ډولونه**

رباء (سود) پر څلورو عمده برخو وېشل سوی دئ:

1). د جاهلیت رباء (سود).

2). تجارتي رباء (سود)

3). اضافي رباء (ربالفضل)

4). بانکي رباء (سود)

**ربوالجاهلیت (دجاهلیت سود)**

د جاهلیت سود عبارت له هغه سود څخه دئ چي د اسلام څخه مخکي په عربو کي ئې رواج درلود. لکه څرنګه چي دا سود بالکل څرګند او واضح وو نو ځکه قران کریم زیات نه دي تشریح کړي او صرف د هغه د حرمت په هکله ئې خبرداری ورکړی دئ. کله چي آیت کریمه نازل سو، ټولو مسلمانانو سود پرېښود، پرته له دې چي دوی ته څه شک او شبهه پیدا سي او نه ئې د دې موضوع په هکله زیاته تشریح وغوښتله.

دې سود ته په کتابو کي ربالقران هم ویل سوی دئ، ځکه چي د دې سود حرمت د قران کریم په مبارکو آیتونو باندي سوی دئ. همدا رنګه د دې سود بیان د حضرت محمد (ﷺ) په مقدسو احادیثو کي هم سوی دئ. امام ابن قیم ئې څرګند سود بولي او ځیني نور پوهان ئې خفي سود بولي.

د جاهلیت د سود ځیني نقات په لاندي ډول دي.

۱. د جاهلیت سود داسي وو، چي یو کس به پر بل کس باندي یو شی په قرض خرڅ کړ، خو چي کله به د قرض وخت پوره سو او قیمت به ئې اداء نه کړ نو تر هغه وروسته به نور وخت ور کول کېدی خو په دې شرط چي قیمت ئې ور باندي زیاتولو.

۲. ځینو خلکو به قرض اخیستی نو د پیسو یا مال څښتن ته به ئې ویل چي ما ته دومره مهلت راکړه (وخت به ئې ورته معین کړ) زه به تاته دومره ګټه درکړم (د ګټې مقدار به هم څرګند وو).

۳. کله به داسي هم کېدل چي د قرض اخیستلو په وخت کي به وخت او د ګټې اندازه معلومېدل، چي د اصل مال څخه به دومره زیات ورکول کیږي او ورکول به ئې لازمي وي.

۴. داسي هم کېدل چي د قرض په مقابل کي به ئې میاشت په میاشت ورځخه ګټه اخیستله او چي کله به وخت پوره سو نو بیا به ئې اصل مال او ګټه دواړه ور څخه اخیستل او که د اصل مال ورکول به وځنډېدل نو بیا به ئې د سود فیصدي پر زیاتوله. دا د سود هغه څلورډولونه ول چي په عربو کي رواج ول.

او د همدې سود په هکله قران کریم په صراحت سره د حراموالي حکم کړی دئ او هیڅا د تفصیل غوښتنه و نه کړه، ځکه چې ټولو خلکو ته لکه لمر داسي څر ګنده وه چي ربا (سود) کوم کار او معاملي ته ویل کیږي.

**اضافي ربا(ربوالفضل)**

دا له هغه زیاتوالي څخه عبارت دئ چي په دوو هم جنسو شیانو کي رامنځ ته کیږي، د مثال په توګه: سره زر د سرو زرو او سپین زر د سپینو زرو په مقابل کي اګر که د ښه والي او د جنس په لحاظ یو له بل سره بېلتون و لري. په دې هکله ستر دلیل د حضرت عباده بن ثامت(ع) روایت دئ چي رسول الله(ﷺ) فرمایلي دي: «الذهب باالذهب والفضة باالفضة والبرباالبرو الشعیرباالشعیروالتمرباالتمروالملح باالملح مثلاًسوایداًبیدفاذاختلفت هذهالاصناف فبیعواکیف شتم اذاکان یداًبیدٍ»

یعني سره زر په سرو زرو، سپین زر په سپینو زرو، غنم په غنمو، وربشي په وربشو، خرما په خرما، مالګه په مالګه، مثل په مثل، برابر په برابر، لاس په لاس.

وروسته هر کله چي صنفونه دا جناسو بدل سي، بیا څرنګه مو چي خوښه وي لاس په لاس به ئې خرڅوئ. دا سود په هم جنسو شیانو کي او لاس په لاس وي، مګر هغه سود چي د هم جنسو او یا غیر هم جنسو شیانو د تبدیل په صورت کي چي نېټه په کښې وي (لاس په لاس نه وي) منځ ته راځي، دې ته رباالنسیهٔ(د وروسته والي سود)وایي، مثلاً: که یو نفر بل نفر ته اوس درې کیلو غنم ورکړي، په دې شرط چي یو کال وروسته به څلور کیلو غنم ورکوي، دې ته رباالنسیهٔ ویل کیږي، ځکه په دې کي چي کوم زیاتوالی راځي، هغه د وخت په مقابل کي دئ.

**تجارتي ربا ( تجارتي سود)**

تجارتي سود هغه سود ته ویل کېږي چي کله خلک د تجارتي معاملو له پاره قرض واخلي او بیا په هغه باندي قرض ور کونکي ته زیاته ګټه او برخه ورکړي. په اوسني وخت کي دا معامله ډېر زیات رواج لري، چي خلک له مالدارو څخه په سود قرض اخلي او په هغه باندي تجارت کوي.

**بانکي سود**

په اوس وخت کي بانکونه له خلکو څخه پیسې اخلي او د هغه په مقابل کي د یو معین وخت له تېرېدو وروسته څو فیصده سود ورکوي او هم خلکو ته قرض ورکوي او د معین وخت له تېرېدو وروسته څو فیصده سود ورڅخه اخلي. د بانک زیاته برخه معاملې په همدې سود ور کولو او سود اخیستلو باندي ولاړي دي، ځکه چي په کم سود باندي قرض اخلي او په زیاته فیصدي سود سره قرض ورکوي، مثال: د خلکو څخه په لس فیصده سود قرض اخلي او په پنځلس فیصده سود هغه خلکو ته چي قرض ته ضرورت لري، قرض ورکوي.


## د راټولي سوي ډاټا تحليل

سود په غير مسلم هيوادونو کي د اقتصادي رفا له پاره له اړينو فکتورونو څخه شمېرل کيږي. د دوی په اند په تجارتي راکړو ورکړو کي خورا اړين رول لوبوي مګر اسلامي تجارتي معاملات له ډېره وخته په اسلامي نړۍ کي رواج موندلی دئ، چي اوس مهال د کاروبارونو له پاره خورا اړين ثابت سوی دئ. د دې له پاره چي په کندهار ښار کي د سود په اقتصادي اغېزوخبر سو، نو دا څېړنه په کار اچول سوې ده. د څېړني په پايله کي دا ځرګنده سوه چي پانګوالو د سودي قرضونو څخه ناخوښي ښودلې او دا ئې ويلي چي په بانکي او ورته نورو مالي مؤسساتو کي د سود کچه په زياته اندازه ده. سربېره پر دې، په زراعتي برخه کي د دوی څخه پوښتنه سوې، چي ايا په ورته برخه کي د سود استعمال سته او که نه؟ نو په جواب کي اکثريتو پانګوالو ويلي چي دوی ئې په اړه بشپړ معلومات نه لري او پرې خبر نه دي. همدارنګه، د پانګوالو څخه د سپما په لګولو کي پوښتنه سوې، چي دوی ئې په کومه برخه کي لګوي؟

په پايله کي دا جوته سوه؛ چي پانګوال سپما د ثابتي شتمنۍ په توګه ساتي. د يادوني وړ ده، چي د پانګوالو څخه د سود د هغو اغېزو په هکله هم پوښتنه سوې وه چي پر هيواد ئې لري. په پايله کي (58) کسانو ويلي ول، چي ډېره منفي اغېزه اچوي او فقط(18) کسانو ويلي ول، چي ډېره مثبته اغېزه اچوي او (8)کسانو ويلي ول، چي دوی ئې په اړه خبر نه دي.

| | پوښتنه | د ځواب ورکوونکو تعداد | جواب ډول |
|---|---|---|---|
| 1 | د سود د اغيزې پر هيواد، په دې اړه هم پوښتنه سوې وه | 58 | منفي اغېزې |
| 2 | د سودي قرضونو څخه نه رضايت | 80 | ناراضه |
| 3 | په مالي مؤسساتو کي د سود کچه | 80 | زياته اندازه |
| 4 | په زراعتي برخه کي د سود اړوند پوښتنه سوې ده | 70 | نه دئ خبر |
| 5 | دسپما لګولو (ساتلو) اړوند پوښتنه سوې ده | 70 | ثابت ډول |
| 6 | د سود د اغيزې پر هيواد په دې اړه هم پوښتنه سوې وه | 18 | مثبتي اغېزې |

جدول (۱)




چارټ (۱)

د لاندي دوهم جدول پوښتنو لپاره د (Likert scale) د میتود څخه په استفادې د (1) څخه بیا تر(5) پوري کود نمبر کارول سوی، چي (1) ئې د لږ او (5) ئې د زیات په معنی دئ.

| شمېره | پوښتني | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | په کندهار ولایت کي زیاتره مالی موسیسات قرضونه په سود سره ورکوی | 0.6 | 17.3 | 20.7 | 26.7 | 29.3 |
| 2 | په کندهار ښار د سودي بانکونو په مقابل کي د اسلامی بانکونو موجودیت ډېر کم دی | 7.3 | 11.3 | 10 | 51.3 | 20 |
| 3 | په کندهار ښار کي د صرافی اړونده معاملاتو کي سود ډېر کم تر سترګو کېږی. | 0 | 4.7 | 7.3 | 28.7 | 59.3 |
| 4 | په کندهار ښار کي مضاربت او مرابحه د سودي قرض بدیل دي | 5.3 | 11.3 | 18 | 40.7 | 11.3 |
| 5 | په کندهار ښار کي د سود زیاته کچه په مالی یا بانکی سکتور کي وجود لری | 6 | 2 | 9.3 | 26 | 56.7 |
| 6 | په عامو تجارتی معاملاتو کي سود په ډېره کمه اندازه سره تر سترګو کېږی. | 59.3 | 20 | 6.7 | 8 | 6 |
| 7 | د زراعتی سکتور په برخه کي زیاتره قرضونه په سودی شکل سره دي. | 6 | 9.3 | 10.7 | 54 | 20 |
| 8 | د کورونو او ودانیو اړونده معاملاتو کي سود په ډېره کمه اندازه سره وجود لری. | 6 | 9.3 | 10.7 | 54 | 20 |
| 10 | د سودی بانکی سیستمونو په رامنځ ته کېدو سره سرمایه ګذاری په کندهار ښار کي زیاتوالی کړی | 0 | 48.7 | 23.3 | 20.7 | 7.3 |
| 11 | په کندهار ښار کي مزارعت د زراعتي پورونو په رامنځ ته کولو کي د سودي قرض بدیل کېدای سی. | 38.7 | 5.3 | 13.3 | 12 | 4 |
| 12 | تاسو د اسلامي تمویل په هکله څومره پوهاوی لری؟ | 0 | 48.7 | 23.3 | 20.7 | 7.3 |
| 13 | تاسو په کوم شکل سره خپل سپما ساتی ؟ | 14 | 1.3 | 1.3 | 69.3 | 14 |

جدول (۲)


**تفصیلي تحلیل**

په لومړي جدول کي د ځواب ورکوونکو څخه په کندهار ولایت کي د مالي مؤسساتو له لوري د قرضونو په سود ورکولو په اړه پوښتنه سوې، چي په کندهار ښار کي د مختلفو مالي مؤسساتو له لوري ئې صورت نیولی وي. په جدول کي ښوول کېږي چي په کندهار ښار کي اکثره مالي مؤسسات قرضونه په سود و مشتریانو او تجارانو ته ورکوي او هغوی چي دا برخه ئې جواب کړې، شاوخوا (44) کسان دي، چي (29.3٪) برخه د ټوله نمونې تشکیلوي. سربېره پر دې،(40) کسانو هم ویلي چي هو ډېری بانکونو همدغه تګلاره مخته وړې ده.

جدول1 په کندهار ولايت کي زياتره مالي موسيسات قرضونه په سود سره ورکوي


| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| ډېر کم | 9 | 6.0 | 6.0 | 6.0 |
| کم | 26 | 17.3 | 17.3 | 23.3 |
| مناسب | 31 | 20.7 | 20.7 | 44.0 |
| زيات | 40 | 26.7 | 26.7 | 70.7 |
| ډېر زيات | 44 | 29.3 | 29.3 | 100.0 |
| Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په شکل(1) کي ښوول سوي، چي په کندهار ولايت کي سودي قرض په مالي مؤسساتو کي ډېر دئ. سربېره پر دي چي يوازي 20. (67 ٪) سلنه جواب ورکوونکو د مناسب جواب ورکړي.




شکل (1)په کندهار ولايت کي زياتره مالي مؤسيسات قرضونه په سود سره ورکوي.

په دوهم جدول کي د جواب ورکوونکو ځخه د سودي بانکونو په مقابل کي د اسلامي بانکونو د شتون په اړه پوښتنه سوې. په جواب کي څرګنده سوه، چي جواب ورکوونکي تقريباً اکثرو دا په ګوته کړې چي اسلامي بانکونه په کندهار ښار کي ډېر کم دي. دا سلنه شاوخوا د ټوله ډاټا (51.3٪) تشکيلوي چي له (150) ځخه (77) کسانو ويلي.




**شکل (2) په کندهار ښار کي د سودي بانکونو په مقابل کي د اسلامي بانکونو موجوديت ډېر کم دئ.**


جدول (2) په کندهار ښار کي د سودي بانکونو په مقابل کي د اسلامي بانکونو موجوديت ډېر کم دئ.

| Valid | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| ډېر کم | 11 | 7.3 | 7.3 | 7.3 |
| کم | 17 | 11.3 | 11.3 | 18.7 |
| مناسب | 15 | 10.0 | 10.0 | 28.7 |
| زيات | 77 | 51.3 | 51.3 | 80.0 |
| ډېر زيات | 30 | 20.0 | 20.0 | 100.0 |
| Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په جدول(3) کي دا ښوول سوه چي پانګوال په مضاربتي راکړه ورکړه باندي نظر و مشارکتي راکړه ورکړي ته لږ پوهاوی لري. يعني د ټولو جواب ورکوونکو ځخه (52) کسانو په مضاربتي راکړي ورکړي باندي پوهاوی نه درلودی. همدارنګه، په دريم شکل کي هم ښودل کيږي چي اکثريتو همدا نظر ورکړی چي د کندهار ښار د صرافۍ اړونده راکړه ورکړه کي سودي معاملات صورت نيسي.


جدول (3) په کندهار ښار کې د صرافۍ اړونده معاملاتو کې سود ډېر کم تر سترګو کیږی.

| | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| کم | 7 | 4.7 | 4.7 | 4.7 |
| مناسب | 11 | 7.3 | 7.3 | 12.0 |
| زیات | 43 | 28.7 | 28.7 | 40.7 |
| ډېر زیات | 89 | 59.3 | 59.3 | 100.0 |
| Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |




شکل(3) په کندهار ښار کې د صرافۍ اړونده معاملاتو کې سود ډېر کم تر سترګو کیږي.

هغو کسانو چې دا ښوولې چې د صرافۍ په کاروبار کې سودي معاملات صورت نیسي شاوخوا (59٪) سلنه برخه تشکیلوي او فقط (5٪) شاوخوا کسانو ویلي چې د صرافۍ په راکړه ورکړو کې سودي معاملات خاص صورت نه نیسي.




شکل 4 په کندهار ښار کې مضاربت او مرابحه د سودي قرض بديل دي

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | نه يم پرې خبر | 20 | 13.3 | 13.3 | 13.3 |
| | ډېر کم | 8 | 5.3 | 5.3 | 18.7 |
| | کم | 17 | 11.3 | 11.3 | 30.0 |
| | مناسب | 27 | 18.0 | 18.0 | 48.0 |
| | زيات | 61 | 40.7 | 40.7 | 88.7 |
| | ډېر زيات | 17 | 11.3 | 11.3 | 100.0 |
| | Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |


جدول(4)

جدول(5 ) په کندهار ښار کي د سود زياته کچه په مالي يا بانکي سکتور کي وجود لري.

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | نه یم پرې خبر | 7 | 4.7 | 4.7 | 4.7 |
| | ډېر کم | 2 | 1.3 | 1.3 | 6.0 |
| | کم | 3 | 2.0 | 2.0 | 8.0 |
| | مناسب | 14 | 9.3 | 9.3 | 17.3 |
| | زیات | 39 | 26.0 | 26.0 | 43.3 |
| | ډېر زیات | 85 | 56.7 | 56.7 | 100.0 |
| | Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په جدول (4) کي د پانګوالو څخه دا پوښتل سوي چي آيا مضاربت او مرابحه د سودي قرض بديل دئ او کنه؟ د همدې پوښتني د حل په موخه د دوی څخه د پوښتن پاڼي له طريقه پوښتل سوي او بلاخره په جواب کي دا لاسته راغلي چي (61) کسانو ويلي چي مضاربت او مرابحه د سودي قرض ښه بديل دئ، کوم نوع معلومات او پوهاوی نه لري. همدارنګه، په شکل (4) کي هم ښوول سوي چي(40.67٪) سلنه جواب ورکوونکي دا ويلي چي دوی مرابحه او مضاربت د سودي قرض خورا ښه بديل بولي.

په جدول (5) کي د پانګوالو څخه دا پوښتل سوي چي ګواکي په بانکونو او يا نورو مالي سکتورونو کي د سود کچه شتون لري او کنه. يعني پانګوال که د پانګي لګوني له پاره زړه ښه کړي، نو آيا هڅالته به خپلي شتمنۍ په کاروبار ولګوي؟ د دې پوښتني د حل په موخه د دوی څخه پوښتل سوي چي په جواب کي تقريباً اکثريت جواب ورکوونکو دا ويلي چي په بانکونو کي د سود زياته کچه وجود لري، چي دا برخه د ټوله جواب ورکوونکو د ليست اکثريت برخه تشکيلوي چي(85) کسان کيږي.





شکل 5 په کندهار ښار کي د سود زياته کچه په مالی يا بانکی سکتور کي وجود لری

جدول (5) ښخه په څرګنده توګه دا جوتیږي چي په بانکونو او ورته نورو مالي مؤسساتو کي د سود کچه ډېره ده، نظر نورو ادارو او کاروباري مراکزو ته.

جدول (6 ) په عامو تجارتي معاملاتو کي سود په ډېره کمه اندازه سره تر سترګو کيږي.

| Valid | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| نه يم په خبر | 51 | 34.0 | 34.0 | 34.0 |
| ډېر کم | 38 | 25.3 | 25.3 | 59.3 |
| کم | 30 | 20.0 | 20.0 | 79.3 |
| مناسب | 10 | 6.7 | 6.7 | 86.0 |
| زيات | 12 | 8.0 | 8.0 | 94.0 |
| ډېر زيات | 9 | 6.0 | 6.0 | 100.0 |
| Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په جدول (6) کي د جواب ورکوونکو ښخه دا پوښتل سوي چي په زراعتي سکتور کي د سود استعمال تر کومه حده پوري دئ؟ په دي سلسله کي (51) کسانو چي اکثريت برخه تشکيلوي، دا ويلي چي دوی هيڅ په دي اړه بشپړه معلومات نه لري او (38) کسانو بيا ويلي چي ډېره په ټيټه کچه په زراعتي سکتور کي د سود راکړي ورکړي صورت نيسي. شکل (6) چي د ډاټ پلاټ په ډيزاين کي جوړ سوی نوموړی جواب په خورا واضح بڼه ښکاره کوي.




شکل (6) په عامو تجارتي معاملاتو کي سود په ډېره کمه اندازه سره تر سترګو کيږي.

جدول(7 ) د کورونو او ودانيو اړونده معاملاتو کي سود په ډېره کمه اندازه سره وجود لري.

| Valid | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| ډېر کم | 9 | 6.0 | 6.0 | 6.0 |
| کم | 14 | 9.3 | 9.3 | 15.3 |
| مناسب | 16 | 10.7 | 10.7 | 26.0 |
| زیات | 81 | 54.0 | 54.0 | 80.0 |
| ډېر زیات | 30 | 20.0 | 20.0 | 100.0 |
| Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په جدول (7) کې د پانګوالو څخه دا پوښتل سوي چې د کورونو او ودانيو په سوداګريزو راکړو ورکړو کې د سود استعمال څرنګه دئ؟ چې (81) کسانو د دې جواب ورکړی چې په اړوند معاملاتو کې د سود استعمال کم دئ او پانګوال او یا کاروباریان لږ پر لګیا دي. همدارنګه په شکل (7) کې هم ښوول سوي چې اکثریت برخه چې (54٪) تشکیلوي هغوی د زیات موافق جواب ورکړی او دا ئې څرګند کړي دي چې د کورونو او ودانيو په معاملاتو کې د سود د کچې استعمال ټيټ دئ او پانګوال ډېر لږ په دې اړونده برخه کې سودي معاملات په کار اچوي.





شکل (7) د کورونو او ودانيو اړونده معاملاتو کي سود په ډېره کمه اندازه سره وجود لری.

جدول(8 ) تاسو په کوم شکل سره خپل سپما ساتئ؟

| Valid | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| په شرعي شکل سره په اسلامي بانکداري کي | 21 | 14.0 | 14.0 | 14.0 |
| په غیری اسلامي شکل سره په سود بانکداري کي د یو ټاکلی سود په مقابل کی | 2 | 1.3 | 1.3 | 15.3 |
| په کورونو کي ئې په نغد شکل سره ساتو | 2 | 1.3 | 1.3 | 16.7 |
| د ثابتي دارايي په شکل سره ئې ساتو | 104 | 69.3 | 69.3 | 86.0 |
| نور | 21 | 14.0 | 14.0 | 100.0 |
| Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په جدول (۸) کي د پانګوالو څخه د هغوی د سپما د ساتلو په اړه پوښتنه سوې. په جدول (۸) کي ادا ښودل کيږي چي اکثره پانګوال ئې د ثابتي دارائي په شکل سره خپله سپما ساتي، چي (۱۰۴) کسانو د ټوله نموني څخه دا ډول جواب ورکړی چي دا سلنه تقريباً د ټوله نموني (69.33٪) برخه تشکيلوي. همدرانګه (21) کسانو بيا ويلي چي دوی ئې په شرعي شکل سره په اسلامي بانکداري کي په کار اچوي چي ادا يوه ټيټه برخه تشکيلوي.





شکل 8 تاسو په کوم شکل سره خپل سپما ساتی ؟

جدول (9) تاسو د اسلامي تمويل په هکله څومره پوهاوی لرئ؟

| Valid | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| نه يم پري خبر | 73 | 48.7 | 48.7 | 48.7 |
| ډېر کم | 35 | 23.3 | 23.3 | 72.0 |
| کم | 31 | 20.7 | 20.7 | 92.7 |
| مناسب | 11 | 7.3 | 7.3 | 100.0 |
| Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په جدول (9) کي د جواب ورکوونکو څخه د هغوی د اسلامي تمويل په اړه پوښتنه سوې چي آيا دوی په دې اړه معلومات لري او کنه؟ په جدول (9) کي ادا ښودل کيږي چي اکثريت کسان په دې اړه هيڅ معلومات نه لري، چي تقريباً (48.7٪) سلنه برخه د ټوله نموني تشکيلوي او (73) کسان دي. سربېره پر دې (35) کسانو ويلي چي دوی د اسلامي تمويل ډېر کم معلومات لري.





شکل (9) تاسو د اسلامي تمويل په هکله څومره پوهاوی لرئ؟

جدول(10 ) د سودي قرضي فرصت په رامنځ ته کېدو سره سپيا زياتوالي کړی دئ.

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| Valid | نه یم پرې خبر | 73 | 48.7 | 48.7 | 48.7 |
| | ډېر کم | 35 | 23.3 | 23.3 | 72.0 |
| | کم | 31 | 20.7 | 20.7 | 92.7 |
| | مناسب | 11 | 7.3 | 7.3 | 100.0 |
| | Total | 150 | 100.0 | 100.0 | |

په جدول (10) کي د جواب ورکوونکو څخه ادا پوښتل سوي چي آيا د سودي قرضي د فرصت په رامنځته کېدلو سره سپيا زياتوالی کړی او کنه؟ په پايله کي ادا څرګنده سوه چي اکثريت کسانو چي(73) سلنه کيږي ادا ويلي چي دوی په دې اړه معلومات نه لري. مګر (31) کسانو بيا ويلي چي سوي قرضي فرصتونه په تيټه کچه د سپيا په زياتوب کي اغېزه ښکاره کړي او فقط (11) کسانو بيا ويلي چي په مناسبه اندازه ئې زياتوب راوستلی دئ.





شکل (10) د سودي قرضی فرصت په رامنځ ته کېدو سره سپيا زياتوالی کړی دئ

جدول(11 ) ستاسو له نظره سود د يو هيواد پر اقتصاد څه ډول اغېزه اچوي؟

| Valid | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|
| ډېره زياته مثبته اغيزه اچوي | 40 | 26.7 | 26.7 | 26.7 |
| مناسبه مثبته اغيزه اچوي | 58 | 38.7 | 38.7 | 65.3 |
| غير متنفر | 8 | 5.3 | 5.3 | 70.7 |
| منفي اغيزه اچوي | 20 | 13.3 | 13.3 | 84.0 |
| ډېره زياته منفي اغيزه اچوي | 18 | 12.0 | 12.0 | 96.0 |
| نه يم پرې خبر | 6 | 4.0 | 4.0 | 100.0 |
| **Total** | 150 | 100.0 | 100.0 | |

شکل (11) ستاسو له نظره سود د یو هیواد پر اقتصاد څه ډول اغیزه اچوي؟




په جدول( 11 ) کې د پانګوالو څخه په دې اړه پوښتنه سوې ده چې سود د هیواد پر اقتصاد څه اغېز درلودای سي؟ په پایله کې دا وښوول سوه چې اکثریت پانګوالو ویلي چې سود د یو هیواد پر اقتصاد غیر مثبته اغېزه اچوي، چې دا تعداد د ټوله نمونې څخه (58) کسان کېږي. سربېره پر دې، (40) کسانو بیا ویلي چې سود د یو هیواد پر اقتصاد خورا ډېره مثبته اغېزه اچوي. چې دا ټوله راټوله سوې ډاټا (38.7٪) سلنه برخه تشکیلوي او هغوی چې ویلي چې ډېره مثبته اغېزه اچوي، هغوی (12٪) سلنه برخه تشکیل کړې ده.

## مباحثه

طبیعي خبره ده، چې کله کومه څېړنه ترسره کېږي د یو لړ مشکلاتو او خنډونو سره به ضرور مخامخ کېږي، دا چې همدا څېړنه د کندهار په ولایت کې لومړی څېړنه وه او د همدې سیمې د عاداتو او کلتورونو سره ئې پوښتني په ټکر کې وې، تر ډېره خلګو نه غوښتل چې پوښتنو ته صحیح او درست جواب ووایي، د همدې خنډونو سره مو د امکان تر حده کوښښ وکړ، تر څو دقیق او کره ډاټا راجمع کړو او د همدې سیمي په اقتصادي جریان کې د سود کچه معلومه او وڅېړو.

د تیرو څېړونو سره مو پرتله دا ده چې مخکنۍ څېړني په پرمختللو او د پرمختګ په حال کې هیوادونو کې ترسره سوي مګر زموږ څېړنه په یوه غریب او وروسته پاته هیواد کې ترسره سوې، د سود اړوند څېړني عادتاً په هغه ټولونو کې ترسره سوي وې چې هلته ټولنه او کاروباري خلګ د سود سره عادت او یا هم وربانديي پوره معلومات لري، مګر زموږ په ټولنه کې یو خو د سود سره کاروباري کسان نابلده ول او هم د عقیدوي اړخه ورسره کلک په ټکر کې ول، د همدې پرتلې څخه دا معلومه سوه چې د همدې سیمي د تجارانو له پاره یوه اسلامي تجارتي تګلاره برابره سي، تر څو بانکونه ورته د همهغه تګلارې او اصولو په نظر کې نیولو سره د تجارت او پانګوالۍ زمینه مساعده کړې وي.

د همدې څېړني څخه موږ ته مثبته لاسته راوړونه دا ده چې د کفري نړۍ د دومره زیاتو کوښښونو او هڅو سره هم الحمدلله د کندهار ولایت په اقتصادي راکړه ورکړه او معاملاتو کې د سود کچه بیخي ټيټه او پر نشت حساب ده، حال دا چې په موجوده بانکونو کې تر ډېره حده سود او سودي معاملات شتون لري، د همدې مثبت والي راز په دې کې دئ چې په کندهار ولایت کې د تعلیم الاسلام راډیو د ممبر اواز او نورو شرعي خپرونو د لاري د کندهاري اولس له پاره مسلسلي خپروني نشرېږي، د همدې نشراتو تاثر دئ، چې زموږ په ټولنه کې غیرمشروع (سودي) کاروبار دنشت سره برابر دئ.

دا يو اصل دئ چي کله يوه څېړنه مثبتي پايلي لري، د هغه ترڅنګ به ضرور منفي پايلي هم لري، د همدې څېړني څخه به ضرور هغه مالي مؤسسات متضرر کيږي چي غواړي په کندهار ولايت کي سودي کاروبار ته وده ورکړي او هم به د هغه بانکونو او پانګوالو له پاره ستونزه وي چي دلته ورته د ثابتي ګټي (سود) زمينه نه وي مساعده او د هيواد څخه بهر هم نه سي کولای چي خپلي پيسې انتقال کړي.

د دې له پاره تر څو مو خپله ټولنه د همدې سودي او غير جائز کاروبار څخه همداسي سالمه ساتلې وي، بايد چي نوري څېړني د سودي معاملاتو بديل ته خاصي سي، تر څو په ټولنه کي هغه اړتياوي رفعه سي چي په تجارتي او سودګريزو راکړو ورکړو کي وجود لري.

وړانديزونه مو دا دي چي ديني علما بايد د اسلامي تجارت، سود او د هغه د ناوړه اغېزو اړوند ليکني وکړي او عامه تبليغات وکړي. بل ځل که چا غوښتل په دې هکله څېړنه وکړي نو وړانديز مي دا دئ، چي د هيواد په کچه ئي وکړي. دولت بايد د اسلامي بانکي سيستمونو په شتون کي زياتوالی رامنځ ته کړي. دولت بايد د معاملاتو په ښه ډول سره نظارت تر سره کړي، تر څو پر سودي معاملاتو لوړه جريمه وضع کړي. راتلونکي څېرونکي بايد د سودي معاملاتو د مخنيوي پر برخه ډېر تاکيد وکړي.

دولت بايد هغه مالي مرکزونه مجازات کړي چي سود ته زمينه برابروي. هغه تجاران چه په غير اسلامي شکل سره معاملات تر سره کوي بايد لوړ ماليات ورڅخه واخيستل سي او يا هغه تجاران چي د اسلامي تجارتي معاملاتو اړوند پوهاوی و نه لری، بالکل اجازه ورنه کړل سي تر څو تجارت وکړي.

**ماخذونه**

قرانکريم سورة البقره، آيت ٢٧٥ ، ٢٧٦، ٢٧٧ ، ٢٨١

سيد مودودی ابوالاعلی، (١٣٩٦). سود از نظر اسلام واقتصاد

پوهنمل زاهدي احمدزی، (١٣٨٢). د تجارت اسلامی قانون ، ص ٧٤-٧٥ ـ ٨۴ ـ ٨٧-٩٢

محمد تقي عثمان ، (١٣٨٣). اسلام او نوی اقتصاد

آيت اللّٰه شهيد بهشتی حسينی دکتور سيد محمد، (١٣٨٧). بانکداری ، ربا وقوانين مالی اسلام

Shamim Ahmad, (2005). Undestanding and Eliminating Riba,

Derbel, “et al.”, ( 2010) .Can Islamic Finance Constiture a solution to Crisis?

Mushtagu, (2016). Effect of interest rate on economic performance: evidence from Islamic and non-Islamic economies,

# Impacts of Interest on Economy of Kandahar

Esmatullah Salimi

Lecturer

**Abstract**

Humans are social beings. They have guiding principles. Health and economy are the factors that must be organized, otherwise human will not have a very good life. In respect to this, I have tried to start a research about one of the above mentioned factors: current transactions. Islam has spectacular guiding lines for transactions, despite this I wanted to research about interest, which is forbidden, to keep society organized. I wanted to discuss here interest-related aspects: past time interest, transactional interest, surplus interest, banking interest. I have done this research about this problem. This will make me do what I must do as a Muslim, and also I will give people another option instead of doing business with interest. It will result in a safe life. Literature review proved that interest is a dangerous factor for both transactions and society. It seemed that some people were doing business here with interest but we could not find any research conducted about this, so I tried to conduct one. In this research, questionnaire and interviw are used for data collection and the SPSS is used for the analysis of the data. During the research, we have asked some questions: how much people seize this opportunity of interest in Kandahar city? Are there any other options that people can make them their choices instead of taking or giving loans with interest? Which organizations run interest related systems in Kandahar city? In which transactions does interest exist? Researcher hoped that he would find very less Islamic loaning opportunities. This was the problem that made him do this research.

**Keywords**: economy, Investor, Kandahar, Banking organizations

# په اسلام کي معلولينو ته پاملرنه

پوهنيار عبدالمالک نيازی
د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې عمومي رئيس
۰۷۰۳۳۰۰۶۳۲
Malalay.hei@gmail.com

**لنډيز**

معلولول انسانان لکه ړانده، ګوډان، کاڼه او داسې نور هغه چې عضوي ستونزې لري په هروخت کې د ټولنې يوه برخه جوړوي. د تاريخ په اوږدو کې له دغو انسانانو سره د غير اسلامي تمدنونو د پلويانو له لارې غير انساني او د عاطفې څخه ليري چلند سوی او د دوي د تبعيد څخه نيولې تر وژلو پورې حکومتونو ته طرحې وړاندی سوي دي. د دغه څېړنې موخه داده چې معلوم کړو اسلامي شريعت د دوي په اړه کوم دريځ لري او سلامي حکومتونو د دوی پر وړاندې کوم غبرګون ښودلی او کومې اسانتياوي ئي ورته برابرې کړي دي. په دغه څېړنه کې له کتابتوني مېتود څخه استفاده سوې او ترڅنګ ئي معتبر اسلامي ويپپاڼې او ژورنالونه پلټل سوي. په ټولنه کې معلول انسانان د ټولنې هغه محسنين دي چې د چا له کبله چې الله تعالی پر ټولنې باندې رحمېږي. معلول انسانان په کلي ډول عاجز او ناتوانه نه دي بلکه ټولنه او چارواکي ناتوانه سوي دي چې له دوی څخه د ټولنې په پرمختګ کې لازمه استفاده نه کوي. ډيرو معلولو اشخاصو معلوليت چيلنج کړی او د معلوليت سره يي داسې چارې ترسره کړي چې ډيری سالم اشخاص ورڅخه عاجز سوي دي. اسلام معلول انسانان له شاقه مکلفيتونو څخه معاف کړي او په دې اړه يي ور څخه هر ډول حرج لرې کړی دی. په پخوانيو اسلامي حکومتونو کې معلولينو ته د معاشاتو په شمول د ژوند په ټولو برخو کې اسانتياوې برابرې سوي. اسلام د دې ترڅنګ معلوليت ته د يوې ستونزې په نظر کتلي او د مخنيوي لپاره يي په احتياطي تدابيروباندې امر کړی دی. د دې څېړنې موندنې او نتائج د هرې ټولني لپاره اهميت لري په ځانګړي ډول افغانۍ ټولنې ته خورا ډېر مهم دي ځکه چې افغانان تر هر چا زيات معلولين لري.

**مهم لغاتونه:** اسلام، انسان، معلول، ناتوان

**مقدمه**

معلول ته په عربي کې د معاق، مقعد، او عاجز (ناتوانه) کلمات استعمال شوي، مګر کله چې د معلولينو موضوع ته په نړيواله کچه توجه وشوه او د دوی ستونزې تر څېړنې لاندې ونيول شوې. په دې نظريه کې پرمختګ راغی او د دوی پر وړاندې د عاجز او ناتوانه اصطلاح کارول ښه ونه ګڼل شول، ځکه چې دا خلک په حقيقت کې ناتوانه او عاجز نه دي، بلکه ټولنه عاجزه ده چې له دوی څخه د دوی د وړتيا مطابق کار واخلي. په دې خلکو کې اوس هم د کارکولو توانايي موجوده ده په دوی کې داسې شخصيتونه شته چې په صحتمندو انسانانو کې نه ليدل کيږي، د دوی ډيری داسې کارونه کولای شي چې د ټولنې نور طبقات يې نه شي کولای.
منفي القاب او نومونه لکه ګنګ، شل او نور دېته ورته اصطلاحات د کوچنيانو او په ځانګړې ډول د معلولينو پر ذهنونو باندي بده اغيزه کوي او د دوی په ټولنيزو اړيکو منفي تاثيرات کوي خو د دې برعکس ښه الفاظ او ښه نومونه کارول دوی ته ښه روحيه ورکوي. اسلام هم موږ هڅولي يو چې خپلو اولادونو ته ښه نومونه انتخاب کړو او په همدغو انتخاب شوو نومونو يې را وبولو. (وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ) (الحجرات، ۱۱) او يوبل په بدو نومونو مه يادوئ دغه کار(بدنومونه اخيستل) په اسلام کې ډير بد دي د ګناه له مخې (تفسير ابن كثير / دار طيبة - 7 / 376) .

**په تېر تاريخ کې د معلولينو حالت:** روماني حکومت او پخوانيوو فرعونيانو هڅه کوله چې له معلولينو څخه ځان خلاص کړي، د روم قانون کې ګونګ په معتوه (بېهوده) سره توصيف شوی وه. فيلسوف آرسطو دا نظريه درلوده چې د کمزورې سمعي قوې خاوندان زده کړه نه شي کولای. همدا راز افلاطون به ويل چې معلولين له پرمختللو ښارونو څخه بهر وباسئ، ځکه چې دوی د ټولنې د اوږو بار دي د دوی په موجوديت کې ټولنه پرمختګ نه شي کولای. د انګريز پخواني قانون د معلولينو ځينې ډلې له انساني حقوقو محروم کړې وې.( سيكولوجية الإعاقة للقذافي، 15،1988) خوبيا هم د زماني په تېريدو سره دغه قوانين بدل شول او انساني روحيه يې غوره کړه، دوی وکولای شول د ځينو طبي نباتاتو په مرسته د کوڼوالي درملنه وکړي او په دې کار کې تر ډېره بريده برياڼي هم شول.( تأهيل ورعاية متحدي الإعاقة 151:152،2004 او التأهيل المهني لذوي الاحتياجات الخاصة **أفنيخر ،5:1999)**

**په اوس وخت کې افغانستان د نړۍ په هيوادونو کې تر هر چا زيات معلولين لري**. د اسيا بنسټ يوې نوي سروې موندنې ښيي چې په افغانستان کې شاوخوا اتيا سلنه وګړي په يو ډول معلوليت اخته دي، چې روغتيايي پاملرنې ته اړتيا لري.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون يو تازه راپور ښيي چې اکثره معلوليت لرونکي افغانان خپلو لومړنيو بشري حقونو ته لاسرسی نه لري. د دغه کمېسيون يوه کمېشنره بنفشه يعقوبي وايي ''په افغانستان کې معلوليت لرونکي وګړي له مختلفو جدي ستونزو سره مخامخ دي: اکثره معلوليت لرونکي افغانان د روغتيا، زده کړو او کار په څير خپلو اساسي بشري حقونو ته کافي او بشپړ لاسرسی نه لري.''

**د څېړنې اړتيا او اهميت**

په افغانستان کې د پيدايشي معلوليت تر څنګ دوامدار جنګونو د معلولينو کچه زياته کړې ده . دلته نه يواځې داچې د پيدايشي معلوليت د مخنيوي لپاره بشپړ تدابير په کار نه دي اچول سوي ترڅنګ يې دوامدره جنګونو هره کورنۍ د معلوليت له کړکيچ سره مخ کړې ده. د حکومت، ټولنې او افرادو له خوا هم د معلولينو سره په تعامل کې داسې رويه نه ليدل کيږي چې د معلولينو مادي او معنوي اړتياوې پوره کړي.

په دې څېړنه کې د معلولینو مقام واضح سوی او په اړه یې د حکومتونو، ټولنو او افرادو مسؤلیتونه روښانه سوي. تر ټولو مهمه دا چې په دې څیړنه کې معلولین د ټولنې هغه محسنین ثابت سوي چې له کبله یې ټولنه د الله تعالی د رحمت مورد ګرځي. د دغه مقالې په لوستلو سره به د معلولینو په ذهنونو کې د کمترۍ احساس لمنځه ولاړسي او په ټولنه کې به ورته د فعال ګډون هوډ پیداسي.

### د څېړني موخي

- په اسلام کې د معلولینو مقام پیژندل.
- د معلولینو پر وړاندې د حکومت او ټولنې مسؤلیت په نښه کول.

### د څېړني پوښتني

1. ایا معلولین په ریښتیا د ټولنې د اوږو بار دي او که په ټولنه کې د پرمختګ لپاره څه کولی هم سې؟
2. ایا په اسلام کې د معلولیت د مخنیوي لپاره وقایوي تدابیر موجود دي؟
3. ایا معلولیت داسې عیب دی چې له کبله یې معلول توهین او تحقیر سي؟

### د څېړني میتودولوژي

ددې لپاره چې د څېړنې د ترسره کولو لپاره کافي اړین اړوند معلومات ترلاسه سي. تر ډېره بریده پوري هڅه سوې ده چې د معلولینو د حقوقو په اړه اسلامي سرچینې وپلټل سي. دا یوه کتابتوني څېړنه ده، چې له تشریحي څېړنیز میتود څخه پکښې استفاده سوې ده. په دغه څېړنه کي له قرآن کریم، د احادیثو له کتابونو او نورو داخلي او دباندنیو معلوماتي سرچینو، معتبرو کتابونو ، مقالو او ویبپاڼو څخه ګټه اخیستل سوې ده، تر څو د موضوع په هکله په خاص ډول په پښتو ژبه کي شته خلا ډکه سي.

### اسلامي شریعت کي د معلولینو مقام

اسلام پرته له کوم توپیر څخه د ټولنې ټولو طبقاتو ته د احترام په نظر کتلي او په ځانګړي ډول یې ضعیف او ناتوانه خلکو ته جدي پاملرنه کړې ده. معلول او ضعیف انسانانو د اسلامي نظام تر چتر لاندې د کمترۍ احساس نه دی کړی. د اسلام په تاریخ کې موږ داسې بیلګه نه لرو چې ناتوانه اوضعیف خلک په یو ځای کې پرته له پاملرنې څخه ژوند وکړي بلکه همیشه یوڅوک د دوی د حمایې لپاره د دوی تر څنګ درېدلی دی.

د قرآنکریم په بې شمیره آیاتونوکې له ضعیف او ناتوانه خلکو سره د همدردۍ او مرستې مفکوره پرته ده، موږ دلته د بیلګې په توګه یادونه کوو: ۱- {لیس علی الضعفاء ولا علی المرضی ولا علی الذین لا یجدون ما ینفقون حرج إذا نصحوا لله ورسوله ما علی المحسنین من سبیل والله غفور رحیم } (التوبة، 91) دغه آیت کریمه په واضحه توګه دلالت کوي چې مریضان او ضعیفان د الله له طرفه د جهاد له دندې معاف دي، یعنې که د سالمو او صحتمندو مسلمانانو سره په جهاد کې شریک نه شي په دوی حرج او تکلیف نشته.

۲- په قرانکریم کې د حرج کلمه په تکراري ډول له معلولینو څخه نفي شوې ده: لومړی په سورة نورکې: ( لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا) (النور، ٦١) یعنې باک نه لري که ړوند، ګوډ، مریض د اقاربو او خپلوانو په کورونو کې د هغوی له اجازې پرته څه وخوري.( تفسیر ابن کثیر، دار طیبة –٦ / ٨٦)

دوهم په سوره فتح کې: (لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَنْ يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا) (الفتح، ۱۷) دلته هدف دادی چې که دوی له جنګ څخه شاته شي نو په دوی حرج او تکلیف نشته. الله تعالی دوی له جهاد څخه معاف کړي دي او دوی يې معذور بللي.

## په قرآنکريم کې د پاملرنې بې ساري بېلګه:

قرآنکريم د معلولينو پر وړاندې د پاملرنې داسې بېلګه بيان کړې ده چې تر قيامته د انسانانو په غوږونو کې زمزمه کيږي او هغه داسې بې سارې پاملرنه ده چې نه د اسلام څخه مخکې او نه وروسته د هغې مثال په انساني ټولنو کې ليدل شوی او نه به وليدل شي.
هغه مثال دادی چې الله تعالی خپل خوږ پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ته د عبدالله بن ام مکتوم په وجه عتاب ورکړ!! عبدالله بن ام مکتوم په سترګو ړوند وو، يوه ورځ د معمول په څير رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی چې په مجلس کې ورسره کنبيني. رسول الله صلی الله عليه وسلم په دی مهال د ابوجهل، عتبه، اُبی ابن خلف، اُميه ابن خلف اوشيبه په ګډون د قريشو له مشرانو او سردارانو سره غونډه درلوده او هغوی ئې اسلام ته را بلل. ناڅاپه عبدالله بن ام مکتوم (د خديجې رضی الله عنها د ترورځوی) د غونډې ځای ته راغی او وئې ويل: يارسول الله! ارشدني (ای د الله رسوله ماته لارښودنه وکړه) د ده ناڅاپي راتګ او د مجلس اخلال، پيغمبر عليه السلام ته نا مناسب وبرېښېد او پرې نا راضه شو. غوښتل ئې په دې حساس وخت کې ئې څوک مزاحم نشي. تمه يې دا وه چې که د قريشو له دغو مشرانو څخه هرڅوک يې ايمان راوړي نو د قريشو ډير کسان به له مخالفته لاس واخلي، له مسلمانانو سره به يوځای شي، اسلامي دعوت به ومني او لږ ترلږه مخالفت به يې راکم شي. دغه احساس د دې باعث شو چې پيغمبر عليه السلام د قريشو سردارانو ته زياته توجه وکړه.
الله جل شانه د ټولو رب دی او د هغه سبحانه وتعالی په نزد کې د چا اجتماعي حيثيت اهميت نلري، د پيغمبر عليه السلام په دې حرکت ناراضه او يوه مکمله سوره ئې په همدې اړوند نازله کړه : (عَبَسَ وَتَوَلَّى (1) أَنْ جَاءَهُ الْأَعْمَى (2) وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُ يَزَّكَّى (3) أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرَى (4) أَمَّا مَنِ اسْتَغْنَى (5) فَأَنْتَ لَهُ تَصَدَّى (6) وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّى (7) وَأَمَّا مَنْ جَاءَكَ يَسْعَى (8) وَهُوَ يَخْشَى (9) فَأَنْتَ عَنْهُ تَلَهَّى (10) (عبس، ۱-۱۰) ترجمه: تريو ئې کړ تندی او مخ ئې واړولو چې کله ورته راغی هغه ړوند، څه شی ته خبر کړې، ښايي (ده غوښتل چې) ځان تزکيه کړي، يا پند واخلي او پند ئې ګټور کړي، خو چا چې استغنا به ئې کوله، نوستا وه ورته خاصه پاملرنه، اوڅه پره ئې پرتا نشته که ځان نکړي تزکيه، خو څوک چې په تلوار راغی ستا خواته او ويرې و اخيستی، نوتاکړه له هغه بې پروايي. (د قرآن پلوشې، جزء ۳۰ ، ص ۷۰)
په دغه آياتونو کې الله تعالی خپل پيغمبر او اسلامي امت ته دا واضحه کړه چې ړوند مؤمن د الله پر وړاندې د کافرانو له مشرانو اوسردارانو ډير غوره دی. پيغمبر عليه السلام د دغې سورې له نزوله وروسته وفرمايل: زه خپل رب د عبدالله بن ام مکتوم په وجه عتاب کړم، له دغې ورځې وروسته چې کله به هم عبدالله بن ام مکتوم د ده خواته راتلو نو خپل څادر به ئې ورته وغوړاوو او ډير احترام او عزت به ئې کاوو. دوه ځله ئې په خپل غياب کې او د جنګ جبهو ته د تلو په مهال هغه د مدينې منورې د چارو مسؤل او خپل ځای ناستی ټاکلی وه.

## د عبدالله ابن ام مکتوم د شکايت له کبله د شريعت په عام حکم کې يوه استثناء

عبدالله بن ام مکتوم د معلوليت او غريبۍ سره سره د الله په وړاندې زيات وزن او قدر درلود. يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی په ډيره ناکراره لهجه يې وويل ای د الله رسوله! داسې آياتونه نازل شوي چې له مخې يې مجاهدين په ناستو ( هغو معذورو خلکو چې جهاد ته نه شي تللی) بهتره ګڼل شوي موږ خو ځکه جهاد ته نه شو تللی چې معذور يو، ده لاخپلې خبرې نه وې ختمې

کړي چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د وحې نازلیدو کیفیت راغی زید بن ثابت ناست وه هغه ته يي وويل چې د مجاهدينو او قاعدينو آيتونه چې اوس نازل شوي تلاوت کړه هغه تلاوت شروع کړ: لا يستوي القاعدون... کله چې يې دغه ځای تلاوت کړ رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې بېغ وکړ چې ولیکه غير اولي الضرر(پرته له معذورو خلکو) نو دلته الله تعالی د عبدالله بن ام مکتوم عذر واورید او د هغه پر اساس یي په قرآنکريم کې له عام حکم څخه مستثنی کړل، د دې استثنا څخه مخکې په مطلقه توګه مجاهدين په ناستو خلکو بهتره ګڼل شوي وه هغه که معذور وي او یاغير معذور، مګر الله پاک د عبدالله بن ام مکتوم د شکایت په اساس ناست معذور خلک له دغه عام حکم څخه وويستل او يواځې هغه ناست خلک په عام حکم کې پاتې شول چې پرته له عذرڅخه جهاد ته نه ځي.

## معلولينو ته د خلفاوو او فقهاوو پاملرنه

د راشدينو خلیفه ګانو له ډلې څخه عمر بن الخطاب رضي الله عنه لومړی شخص وه چې د ضعیفانو او معلولينو د حقوقو خونديوالي لپاره ئي قانون تصويب کړ چې له مخې يې د ضعیف او ناتوانه ماشومانو لپاره ديوان جوړ شو او د بيت المال له خوا نه د هغوی لپاره د تمويل چارې تصويب شوې.

عمر بن عبدالعزيز په اسلامي دولت کې د معلولينو تعداد او احصائیه معلومه کړه او وليد بن عبدالملک په ۸۸ هـ کال کې د جذام مريضانو لپاره ځانګړې شفاخانه جوړه کړه، او هرځای ناستي او ړوند مريض ته ئي يو يو خدمتګار مقررکړ. له دوی سره به د روغتون په داخل کې ډير ښه سلوک کيده. په حلب ښار کې د يوې شفاخانې په وقفي فايل کې داسې ليکل شوي وه : ( هر يو ليوني ته دې دوه خدمت کوونکې مقرر شي هر سبا به يې لمبوي پاک کالی به ورته اغوندي، لمونځ به ورباندې کوي، د يو خوش آواز قاري په واسطه به ورته د قرآنکريم تلاوت اوروي او بيا به يې تازه هواء ته وباسي ) (النمو النفسي في الطفولة والمراهقة لموسی فاروق عبد الفتاح . 2001،209:210).

کله چې اسحاق بن قبيصه ته په عراق کې د معلولينو چارې وسپارل شوې هغه وويل: په الله سوګند چې زه به د معلولينو داسې خدمت وکړم او دوی ته به داسې اسانتياوې برابرې کړم چې خپلوان يي له ده سره تر روغو اوسالمو خلکو نه زيات محبت وکړي.

اموي دولت کې هم معلولينو ښه مقام درلود، د دوی په دور کې د مجانينو لپاره په لويو ښارونوکې ځانګړې شفاخانې جوړې شوې، په خپله خليفه مامون د ړندو خلکو او ضعيفه ښځو لپاره په بغداد او نورو لويو ښارونو کې کورونه جوړکړل. سلطان قلاوون د معلولينو لپاره لوی روغتون جوړ کړ.

اسلامي علماوو هم معلولينو ته ډيره پاملرنه کړې ده. امام ابوحنيفه رحمة الله عليه د معلولينو په اړه ځانګړی قانون استنباط کړ چې له مخې يې په اسلامي دولت لازمه ګڼلې وه چې د معلولينو کفالت په غاړه واخلي، همدا راز امام رازي د (درجات فقدان السمع) تر عنوان لاندې کتاب وليکه چې په هغه کې يې د سامعې (اورېدو) قوې په اړه اوږد بحث کړی دی او د دی قوې مختلفې درجې يې معلومې کړي دي. ابن سينا هم د کوڼوالي د پېښيدو په اسبابو ليکنه کړې چې دا ټولې هڅې د دوی په پاملرنې دلالت کوي (کيف تعامل الاسلام مع المعاقين – موقع صيد الفوائد).

## معلول علماء

مسلمانانو يواځې معلولينو ته پاملرنه او هغوی ته په اسانتياوو برابرولو بسنه نه ده کړې، بلکه په عمل کې يې د معلول او ناتوانه له مفکورې سره مبارزه کړې، هغوی په عملي ډګر کې دا ثابته کړې چې عضوي نيمګړتيا د علم او پرمختګ مانع نشي کيدای او معلول د ټولنې د اوږو بار نه بلکه په ټولنه کې فعاله ونډه اخيستی شي او د ټولنې لپاره د خدمت مصدر ثابتيدای شي.

دلته د بیلګې په توګه د یو لړ هغو مسلمانو علماو څخه یادونه کوو چې له معلولیت سره سره د علم او ادب د کاروان مخکښان ثابت شوي:

١- ابان بن عثمان په غوږو دروند وو، خوبیا هم د خپلې زمانې، ذکي، فقیه او نحوي عالم وو ډیر نصوص یې په یادو زده ول. (إنباه الرواة على أنباه النحاة - (1 / 123))

٢- محمد بن سیرین، په غوږو دروند وو او سامعه قوه یې ضعیفه وه، خو د دې سره سره د احادیثو راوي او د خوبونو معبر وو.(33-110هـ=653-729م) (الأعلام للزركلي - 6 / 154)

٣- دعبل الخزاعي (148 - 246 هـ = 765 - 860 م) حاضر ځوابی شاعر وو، د شاعرانو په طبقاتو کې یې په زړه پورې کتاب هم لیکلی دی.( الأعلام للزركلي - 2 / 339)

۴- عبد الرحمن بن هرمز الأعرج. نوموړی عالم په پښه ګوډ وو خو بیا هم وتوانېد چې په علمي ډګر کې د امام، حافظ، او حجت په څیر علمي القاب تر لاسه کړي، د قراءت علم یې د ابوهریره څخه په مستقیمه توګه حاصل کړی وه، د دې ترڅنګ یې د قرآنکریم نسخې هم لیکلې دي. (سير أعلام النبلاء ـ تح الأرنؤوط - (5 / 69))

۵- حَاتِمٌ الأَصَمُّ بنُ عنوَانَ بنِ يُوْسُفَ البَلْخِيُّ : نوموړی زاهد، واعظ، د حکمت خاوند په غوږو دروند وو. په زهد تقوی او حکمت کې په زړه پورې نصیحتونه لري د دې امت په لقمان باندې یې شهرت درلود. (سير أعلام النبلاء - (11 / 484))

په اوس وخت کې هم ډیر مثالونه لرو چې د هغو له جملې څخه د سعودي عربستان نامتو عالم مرحوم شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله وو، هغه سره له دې چې په بشپړه توګه په سترګو ړوند و، خوبیا هم د دې وخت ستر امام زاهد او عالم شخص وو.

٦- عطاء رضی الله عنه له شکل نه تور، کړپ سترګی، چیته پوزه، په یو لاس او یوه پښه شل د لیدونکو په نظر ډیر حقیر معلومیده، خو اسلام ور څخه ستر عالم، امام او مفتي جوړ کړ، خلکو به ورته د مسائلو لپاره مراجعه کوله او زرګونو شاګردانو ته یې په خپل لاس د علم تاج ورکړی، د خلکو په وړاندې یې ډیر قدر او عزت درلود. ( كتاب رعاية المعاق بين الشرائع السماوية: ص11- 12)

## قرآنکریم او نبوي احادیثو کې د معلولینو ټولنیز مقام

اسلامي شریعت د معلولینو په شمول ټول وګړي د ټولنې یوشان افراد ګڼي او له دوی څخه د ټولنې په پرمختیا کې د دوی د وړتیا مطابق کار اخلي، عبدالله ابن ام مکتوم په دواړو سترګو ړوند صحابي په هغه مهال چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه غزا کې د ګډون لپاره ووت د مدینې منورې سرپرست والي وټاکل شو.

اسلام کې د بهترۍ معیار تقوا او له الله تعالی څخه ویره ده، په دې اړه په واضحه توګه ټولو افرادو ته اعلانوي چې که کوم مسلمان په یومصیبت کې اخته شو هغه د ده شخصیت ته تاوان نه رسوي او نه په ټولنه کې د ده ارزښت کموي د دوی ترمنځ د فضیلت معیار یوازې تقوا ده، مال، جاه، ظاهري مظهر اوشکل د انسان په شخصیت لوړاوي کې اغیزه نه لري، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډیرو احادیثو کې دې مطلب ته اشاره کړې چې د هغو له جملې څخه د حجة الوداع حدیث دی چې د اسلام ډیرو سترو اصولو او قواعدو ته پکې یادونه شوې ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع پرمهال داسې وفرمایل: [ يا أيها الناس ألا إن ربكم واحد وإن أباكم واحد إلا لا فضل لعربي على أعجمي ولا لعجمي على عربي ولا لأحمر على أسود ولا أسود على أحمر إلا بالتقوى] (مسند أحمد بن حنبل - (5 / 411)) ای خلکو خبر اوسئ چې ستاسو ټولو رب یو دی، خبر اوسئ چې په اسلام کې عربي په عجمي او عجمي په عربي فضیلت نه لري همدا راز سور په تور اوتور په سور بهتري نه لري مګر په تقوا سره.

د دې لپاره چې د انسانانو له فکرونو څخه د ځمکې پر مخ د دوی ترمنځ د رنګ او مال په اساس توپیرونه ختم شي داسې وفرمایل: « إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ ». (صحيح مسلم ـ مشكول وموافق للمطبوع - (8 / 11)) یعنې الله پاک ته ستاسو شکل اومالي حیثیت اعتبار نه لري بلکه ستاسو زړونه او عملونه اعتبار لري.

### له توهین او مسخرو څخه ممانعت سوی

اسلام د ټولني غړي يو پر بل باندې له مسخرو څخه منع کړي، الله تعالی فرمايي : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ] (الحجرات، ١١) ای مؤمنانو په تاسو کې دې يو قوم پربل قوم مسخرې نه کوي کيدای شي د الله پروړاندې مسخره کړای شوي خلک له مسخره کوونکو غوره وي همدا راز ښځې دې هم پر نورو ښځو مسخرې نه کوي کيدای شي د الله پر وړاندې مسخره کړای شوې ښځې د مسخره کوونکو ښځو څخه غوره وي او تاسو خپل منځ کې يو بل ته طعنه مه ورکوئ او يو بل په بدو نومونو مه يادوئ دغه کار(بد نومونه اخيستل) په اسلام کې ډير بد دی د ګناه له مخې، که څوک له دې کار څخه توبه ونه کړي پس دې دوی له حد نه تيري کوونکي او ظالمان. (تفسير ابن كثير / دار طيبة - (7 / 376))

په کومه ټولنه کې چې سالم او صحتمند خلک پر معلولو خلکو مسخرې کوي او هغوی ته په ټيټه سترګه ګوري دا کار معلولينو ته تر اصلي مصيبت څخه هم ډير درد ناک دی. ډير داسې معلولين شته چې په خپل حالت صبر کوي، مګر د يو چا له خوا ورته د احتقار نظر هيڅکله نشي هېرولای. د صحت خاوندان بايد په دې ښه پوه شي چې دوی ته ورکړل شوی د صحت دغه نعمت د الله له طرفه يو عطا او بخښښ دی (وَمَا بِكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ فَمِنَ اللَّهِ) (النحل، ٥٣) کوم نعمت چې تاسو ته درکړل شوی هغه د الله له طرفه دی.

کوم ذات چې دوی ته يې دغه نعمت ورکړی د هغه په بيرته اخستلو هم قادر دی، او هغه چاته يې ورکولای شي چې تراوسه ترې بې برخې وه چې له کبله يې د نعمت خاوندانو په سترګو کې ټيټ وه، الله تعالی د عزت او ذلت ورکوونکی دی (قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) (آل عمران، ٢٦) ووايه اې محمد! (په داسې حال کې چې ته تعظيم کوونکی يې د خپل رب) ای د ټولو مالکه ته ورکوونکی يې، ته منع کوونکی يې، ته چې څه وغواړې هغه کيږي، اوچې نه يې غواړې هغه نه کيږي، ته عزت ورکوې چاته دې چې خوښه وشي او ته ذلت ورکوې چاته دې چې اراده وشي، د تاپه لاس کې خير دی، ته په هرشي قادر يې. (تفسير ابن كثير / دار طيبة - (2 / 29))

### معلولين د ټولنې محسنين دي

معلولين او ضعيفان پر ټولنې بار نه بلکه د ټولنې محسنين دي. څکه چې الله تعالی د دوی په سبب د ټولنې افرادو ته رزق ورکوي، رسول الله صلى الله عليه وسلم سعد بن ابي وقاص ته داسې وويل: (هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلاَّ بِضُعَفَائِكُمْ) (صحيح البخاري - حسب ترقيم فتح الباري - (4 / 44)) تاسو سره مرسته او تاسو ته رزق يواځې د ضعيفانو په سبب درکول کيږي.

د دې ترڅنګ اسلام د معلولينو د نفسي ارامتيا او له دوی څخه د کمي احساس د ختمولو په موخه داډ ورکوي چې دغه عضوي بيماري چې دوی پرې اخته دي د دوی انساني کرامت او عزت ته تاوان نه رسوي او نه په ژوند کې د دوی ارزښت کموي، څکه چې حقيقي معلولوليت هغه دی چې د انسان دين، اخلاق اوعقيده کمزورې کړي الله تعالی فرمايي: (فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ) (الحج، ٤٦) يعنې حقيقي ړوند والی د سترګو ړوندوالی نه دی بلکه د بصيرت او زړه ړوند والی دی چې انسان د ظاهري سترګو شتون سره سره له حقيقت پيژندنې ړوند کړي. (تفسير ابن كثير / دار طيبة - (5 / 438))

### معلوليت تقديري پيښه ده

خوبيا هم د دې سره سره اسلام معلوليت له پام څخه نه دی غورځولی او نه يې پر معلولينو د هغه اغيزه له پامه غورځولې، له همدې کبله اسلام معلولينو ته د هغو مصيبتونو په مقابل کې چې د دوی جسم، مال، او اولادونو ته متوجه وي د صبر درس ورکوي، که موږ هر يو په خپل چاپيريال کې وګورو خامخا به موږ ته په ژوند کې داسې ستونزې رامعلومې شي چې اسانتياوې يې راوړې وي او

داسې مشکلات به وګورو چې د عادي انسانانو څخه یې لوړ شخصیتونه جوړ کړي وي په دې اړه الله تعالی فرمایي: (مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ (22) لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ) (الحدید، ۲۲-۲۳) ای مؤمنانو که تاسو ته مالي ستونزې لکه قحطي، طوفان، لوږه او یا هم بدني ستونزې لکه مرض د اولادونو مړینه رسیږي هغه د واقع کیدو تر مخه الله تعالی په لوح محفوظ (د تقدیر په کتاب) کې د ځای او وخت په شمول په بشپړه تفصیل سره لیکلي دي، د دغو کارونو اجراء په خپل ټاکلي وخت الله تعالی ته اسانه ده، موږ د دې لپاره تاسو ته د تقدیر او زموږ د ازلي پریکړو په اړه خبر درکوو چې تاسو خفه نه شي په هغه نعمت چې له تاسو څخه اخیستل کیږي، او خوشحالي (تکبر) ونه کړې په هغه څه چې تاسوته درکول کیږي، الله تعالی نه خوښوي تکبر او فخر کوونکي په خلکو باندې. (أيسر التفاسير للجزائري - (4 / 212))

لومړی ایت هغه ازلي حقیقت بیانوي چې له مخې یې د نړۍ حوادث، پېښې او هغه څه چې انسان ورسره په ژوند کې مخ کیږي هغه ټول د الله په قضاء او قدر سره کیږي، دوهم آیت کریمه انسان ته د دغو حوادثو پر وړاندې د مناسبې کړنلارې لارښونه کوي هغه داچې د مصیبت پرمهال به د الله له رحمت څخه ناامیده کیږي نه او د نعمت په وخت کې به فخر اوتکبر نه کوي.

په نبوي احادیثو کې هم دغه مطلب تایید شوی رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: « عَجَبًا لأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَاكَ لأَحَدٍ إِلاَّ لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ » (صحيح مسلم ـ مشكول وموافق للمطبوع - (8 / 227)) د مسلمان مؤمن ټول کارونه د ده په خیر دي، که ده ته د خوشحالي اسباب ورکول شي او دی پرې شکر اداء کړي دا د ده لپاره خیر ده او که مصیبت ورته ورسیږي او دی پرې صبرو کړي بیا هم د ده لپاره خیر ده. په یو بل حدیث قدسي کې الله تعالی فرمایي: إِنَّ اللَّهَ قَالَ إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ. (صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري - (7 / 151)) که یوڅوک د سترګو له نعمت څخه محروم کړم او دی په هغه حالت صبر وکړي، زه به ورته په عوض کې جنت ورکړم.

## د معلولیت د مخنیوي لپاره وقایوي تدابیر

اسلام د معلولیت د مخنیوي لپاره بېلابیلې لارې چارې په کاراچولې دي:

۱ – د موروثي معلولیت د مخنیوي په اړه یې مسلمانانو ته امر کړی چې په ښه خاندان کې واده وکړئ. رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي: « تخيروا لنطفكم وانظروا أين تضعونها ، فإن النساء يلدن أشباه إخوانهن وأخواتهن ، وانكحوا الأكفاء ، وانكحوا إليها » (معرفة الصحابة ـ محقق - (22 / 273)) تاسو د خپلو نطفو لپاره د ښه خاندان څخه د ځان لپار ښځې انتخاب کړئ، یعنې له هغوی سره نکاح وکړئ، ځکه چې ښځې د خپلو ورونو او خویندو مشابه اولاد راوړي، او تاسو له خپل کُف (سیال) سره نکاح وکړئ اوسیال ته یې ورکړئ.

۲- د هغو امراضو د مخنیوي لپاره چې معلولیت ترې پیداکیږي د اسلامي فقه قواعد موږ ته د تعقیم اجازه راکوي، دوکتور مصطفی سباعي د فقهي قواعدو په استناد د هغو اشخاصو لپاره چې په دغسې ارثي ناروغیو اخته دي تعقیم جائز ګڼلی او د هغوی لپاره یې درې شرطونه وضع کړي:

۱. د دغو مرضونو د انتقال حتمي والی.

۲. د طبي لارو څخه د شفاء موندنې ناشونتیا.

۳. ورثوو ته د دغو مرضونو د انتقال د مخنیوي لپاره پرته د مصاب شخص د تعقیم څخه د بلې وسیلې نه شتون.

۳ – د زنا حرام والی ځکه چې د اخلاقي فساد او جنسي بې لارۍ په نتیجه کې خطرناک ساري مرضونه انتقال مومي لکه زهري بیماري چې د شل کیدو، ړندیدو، جسماني بې نظمۍ او د خولې د سرطان سبب کیږي. الله تعالی له همدې کبله زنا او د زنا اسباب په کلکه حرام کړل. الله تعالی د اړونده موضوع په اړه فرمایي: (وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا) (الإسراء، ۳۲) الله تعالی په

دې آيت کې خپل بنده ګان له زنا او زنا ته له نيږدې کيدو څخه منع کړي، ځکه چې زنا ډيره لويه ګناه ده او ډيره بده لار ده. ( تفسير ابن كثير / دار طيبة - (5 / 72))

۴– ټول نشيي توکي لکه دخانيات، شراب او...حرام شول ځکه چې دغه شيان انساني وجود، عقل او قوې ته ضرر رسوي او د انسان د هلاکت سبب کيږي الله تعالی فرمايي: (وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ) (البقرة، ۱۹۵) تاسو خپل ځانونه په خپله له هلاکت سره مه مخ کوئ. د معلوليت د مخنيوي لپاره چې کوم اسباب دلته ياد شول هغه د بيلګې په توګه وه نور ډير اسلامي هدايات دي چې د معلوليت د مخنيوي لپاره ترې ګټه اخيستلی شو.

**پايله**

معلول او ځانګړي اړمن خلک د هرې ټولنې يوه برخه تشکيلوي، افغانۍ ټولنه تر هرې بلې ټولنې زيات معلولين لري. اسلام معلولينو ته زياته پاملرنه کړې او د دوی مادي او معنوي اړتياو پوره کولو په موخه يې ځانګړې لارښوونې کړې دي. اسلام معيوبيت تقديري پيښه ګڼلې او معلولين يې له هر ډول اذيت او توهين څخه ژغورلي دي او ترڅنګ يې هغوی د ټولنې داسې محسنين معرفي کړي چې له کبله يې افراد د الله د رحمت مورد کرځي. اسلام د معيوبيت مخنيوي لپاره پر احتياطي تدابيرو امر کړی او ټول هغه اسباب چې د معلوليت لامل کيږي منع کړي دي. معلول انسانان د ټولنې د اوږو بار نه بلکه د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخيستلی سي.

په هغه مهال چې د نړۍ د مختلفو عقلي نظرياتو درلودونکو د معلولينو په وړاندې قهرجنې او عاطفې نه بې برخې پريکړې وکړې چا به ويل چې د کمزورو عقلي قوو خاوندان اعدام کړئ، او چا ويل چې په داسې کارونو يې وګمارئ چې د توهين نه ډک وي. موږ وليدل چې نبوي تګلاره په بشپړه توګه له عاطفې او رحم څخه ډکه لاره ده. اسلامي شريعت دغو حاجتمنو ته پوره پاملرنه وکړه او د دوی لاسنيوي ته يې په خپلو کارونو کې لومړيتوب ورکړ. هغوی ته يې اسانتياوې برابرې کړې، په مصيبت اخته خلکوته يې احترام او عزت ورکړ، د هغوی پوښتنه او عيادت يې وجيبه وګرځوله. پردې سربېره ئې هغوی ته په دعاء باندې خلک وهڅول، پر هغوی ملنډې او استهزاء کول يې حرام کړل، له هغوی سره مقاطعه کول يې منع کړل، په تکليفي احکامو کې يې په دوی اسانې راوستله او حرج يې ورڅخه لرې کړ.

زموږ ډيری معلولين د معلوليت له کبله د توهين او تحقير سره مخکيږي په داسې حال کې چې معلوليت تقديري پيښه ده تر ډيره حده د انسان د اختيار څخه بهر ده د معيوبينو توهين په حقيقت کې د الله تعالی په تقدير اعتراض دی نو له دې کبله معلولين بايد توهين نه سي بلکه د نورو سالمو انسانانو په څير محترم وګڼل سي. معيوبين د ټولنې د اوږو بار نه دي؛ که موږ د معلولينو چارې په ښه توګه مديريت کړو، صلاحيتونه او وړتياوې يې په کار واچوو، نه يوازې داچې دوی به د ټولنې د اوږو بار ونه اوسئ بلکه د ټولنې په پرمختګ کې به اغيزمنه ونډه ولري. ډيری معلولين د معلوليت له کبله د روحي ستونزو سره مخ دي، که ټولنه داسلام د هداياتو مطابق د دوی مقام او فضيلت درک کړي او معلولين هم په ټولنه کې خپل ځانونه محترم محسوس کړي په دې سره به تر ډيره بريده د دوی په روحي او رواني ستونزو کې کمی راسي. ډيری معلولين په ټولنه کې د کمترۍ له احساس سره مخامخ دي که حکومت معلولينو ته د دوی د وړتيا مطابق د کار اوکسب زمينه برابره کړي داچاره به هغوی په خپل ځان باوري کړي او د کمترۍ احساس به يې په خود کفايي بدل سي. جنګونه او نا امني د معلوليت تر ټولو غټ لامل دی که د نورو احتياطي تدابير ترڅنګ جنګ ختم سي او سوله راسي دابه د معلوليت په مخنيوي کې ډيره مرسته وکړي.

**سپارښتني او وړانديزونه**

۱. حکومت بايد د معلولينو لپاره بشري اړين ضرورتونه پوره کړي.

۲. ټولنه بايد معلولين د خپلو اوږو بار ونه ګڼي بلکه دوی د الله هغه بندګان وګڼي د کومو له کبله چې الله تعالی د ټولنې په وګړو رحميږي.

۳. حکومت بايد د معلولينو څخه د ټولنې په پرمختګ کې ګټه واخلي ځکه چې په معلولينو کې داسې استعدادونه پيداکيږي چې په روغ او سالمو کسانو کې نه ليدل کيږي.

۴. د معلوليت د مخنيوي لپاره بايد وقايوي تدابير په کار واچول سي او د جنګونو مخه ونيول سي.

۵. د معلولينو سره بايد داسې رويه اختيار سي چې هغوی د کمترۍ احساس ونه کړي.

۶. په ټولو تعليمي او روزنيزو مرکزونو کې معلولينو ته لازمې اسانتياوې په پام کې ونيول سي.

**ماخذونه**

اسماعيل بن عمر بن ضوء بن کثير، تفسيرالقرآن العظيم: مصر، قاهره، دار طيبة.

لقذافي، (۱۹۸۸). سيکولوجية الإعاقة: الدار العربية للكتاب ( 15،1988)

مدحت ابوالنصر، (۲۰۰۴). تأهيل ورعاية متحدي الإعاقة: ايتراك للنشر والتوزيع

يحي أفنيخر،(۱۹۹۹). التأهيل المهني لذوي الاحتياجات الخاصة: مكتبة ملك فهد الوطنية.

.................. ،(۱۳۹۹، غويی ۲۵). اسيا بنسټ

حکمتيار، د قرآن پلوشې،

موسى فاروق عبد الفتاح، (۲۰۰۱). النمو النفسي في الطفولة والمراهقة: مكتبة الأنجلو المصرية ، القاهرة. 209:210،2001

موسى بن حسن ميان، کيف تعامل الاسلام مع المعاقين: موقع صيد الفوائد.

علي بن يوسف القفطي، إنباه الرواة على أنباه النحاة: المكتبة الوقفية للكتب المصورة

خير الدين الزرکلي، الأعلام: المکتبة الشاملة

شمس الدين محمد بن احمد الذهبي، سير أعلام النبلاء ـ تح الأرنؤوط: المکتبة الشاملة

کتاب رعاية المعاق بين الشرائع السماوية، الجمعية النسائية بجامعة اسيوط (۲۰۱۵)، منتدى التجمع – الکتاب الالکتروني.
http://bronzia.unevanet.com

الامام احمد ابن حنبل، مسند أحمد بن حنبل: المکتبة الشاملة

صحيح مسلم ـ مشكول وموافق للمطبوع: المکتبة الشاملة

محمد بن اسماعيل البخاري، صحيح البخاري ـ حسب ترقيم فتح الباري: المکتبة الشاملة

الجزائري، أيسر التفاسير: المکتبة الشاملة

ابو نعيم احمد بن عبدالله، معرفة الصحابة ـ محقق : المکتبة الشاملة

**په اړونده موضوع کې د لازياتو معلوماتو لاسته راوړلو لپاره کولی شې لاندې منابعو څخه استفاده وکړې:**

۱. المعوق والمجتمع في الشريعة الإسلامية. المؤلف: سعدي أبو حبيب .

۲. ذوو الصعوبات السمعية وكيفية ربطهم بالمجتمع . المؤلف: سلمان ظافر الشهري.

۳. رسالة ماجستير في التربية الخاصة. الباحث: محمد الذبياني

# Position of Disabled People in Islam

Mr. Abdul Malik Niazai

Chancellor of MIHE

**Abstract**

Disabled people, such as the blind, the deaf, and others who have body problems, are always part of society. Throughout history, such individuals have been treated inhumanely and unemotionally by supporters of non-Islamic civilizations and have been punished from preaching to execution. The aim of this study is to find out how Islam has a position against such people and how Islamic governments have reacted to them and what facilities they have provided. In this study, library methods have been used and in addition, prestigious Islamic web pages and journals have been searched. Disabled people are those who have mercy on society because of Allah. Disabled people are not generally powerless and incapable, but society and officials are unable to use them to improve society. Many disabled people have challenged disability and have done such a job that healthy people have remained unable to do so. In previous governments, facilities have been provided for the disabled in all areas of life, including salaries. Islam has also considered disability a problem and has ordered precautionary measures to prevent it. The findings and results of this study are important for every community and are particularly important to the Afghan community because Afghans have more disabled people than anyone else.

**Keywords:** Islam, Human being, Disabled, Powerless

# په کنـدهار کې د جنايي عـدالت په تأمین کي د مدافــع وکــيل رول

عبدالرحمن اڅکزی
0704782018 / 0703662515
achakzaiabdulrahman@gmail.com
سمیع الله عزام
0703931702
samiullah.ezam@gmail.com
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې استادان

**لـنډيز**

عموماً په ټولو دعوو خاصتاً په جنايي دعواوو کي د مدافع وکيل رول مهم او د جنايي عدالت د تأمین د اساسي ارکانو څخه ګڼل کيږي. نو ځکه د افغانستان ملي قوانينو، اسلامي شريعت او هم نړۍوالو اسنادو د مدافع وکيل حق ته لاسرسی د عادلانه محاکمې رکن بللی دئ. متاسفانه په افغانستان او خاصتاً په کندهار ولايت کي د علم او پوهي کچه ټيټه ده، چي له امله ئې د ټولني اشخاص د خپلو هغه حقوقو څخه چي د يوې جنايي پروسې پرمهال ئې لري، نا اګاه او بې خبره دي. مدافع وکيل ته چي قانون د افرادو بنسټيز حق ګڼلی، اړتيا پيدا کيږي، تر څو د خپل مؤکل د حقوقو څخه د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو کي دفاع وکړي. دا چي مدافع وکيل د ټولنيز ژوند په ټولو او خاصتاً په جنايي مسايلو کي د دومره زيات ارزښت څخه برخمن دئ نو بناءً دغه څېړنه په کندهار ولايت کي د جنايي عدالت په تأمین کي د مدافع وکيل د رول په هکله تر سره سوې او لازم معلومات په کښي را ټول سوي دي، چي په جنايي عدالت کي ئې د رول لرلو اړوند پوښتنو ته ئې د ټولني خلکو تر ډېره مثبت جوابونه ورکړي دي. دا څېړنه تر يوه حده په کتابتوني او نوره ټوله په ميداني ډول تر سره سوې ده چي پکښي د لمړنۍ ډاټا څخه زياته استفاده سوې ده. د جنايي عدالت په تأمین کي د مدافع وکيل د رول معلوموللو په موخه عامو خلکو او د عدلي او قضايي ارګانونو کارکوونکو ته د (۴۰۰) پوښتنليکونو په وېشلو سره څېړل سوې ده. د دې څېړني موخي دا وې؛ تر څو د وکالت اهميت او شرعي کيفيت روښانه، د مدافع وکيل حقوق او وجايب واضح او په کندهار کي د جنايي عدالت په تأمین کي د مدافع وکيل رول روښانه سي، چي تر ډېره حده يادو موخو ته رسېدلي يو او ډېرو کسانو په دې برخه کي د مدافع وکيل رول ارزښتمن ګڼلی دئ.

**کليدي کلمات**: تأمین، جنايي عدالت، مدافع وکيل، عدلي او قضايي ارګانونه

## پېژندنه

دفاعي وسايلو او مدافع وکيل ته لاسرسی د اشخاصو بنسټيز حق دئ، ځکه په ټولنه کي د عدالت تأمين د وکالت او مدافع وکيل د شتون سره ډېري نژدې اړيکي لري. له همدې امله د مظلوم له حقوقو څخه دفاع، په مېړانه او خپلواکۍ د دندي تر سره کول د مدافع وکيل اصلي رسالت دئ. نو ځکه د افغانستان ملي قوانينو، اسلامي شريعت او هم نړۍ والو اسنادو مدافع وکيل ته لاسرسی د عادلانه محاکمې رکن بللی دئ. دا چي متاسفانه په کندهارۍ ټولنه په خاص ډول په اطرافي سيمو کي د پوهي کچه ډېره ټيټه ده چي له امله يې د ټولني افراد د خپلو هغو حقوقو څخه چي د يوې جنايي پروسې پر مهال يې لري خبر نه دي نو په دې صورت کي مدافع وکيل ته چي قانون د افرادو بنسټيز حق ګڼلی اړتيا پيدا کيږي تر څو د خپل مؤکل له حقوقو څخه د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو کي دفاع وکړي. په جنايې دعواوو کي مدافع وکيل ډېر مهم رول لوبوي، ځکه مدافع وکيل د خپل مؤکل د رازونو ساتونکی دئ او قاضي د خپل مؤکل د ځان، مال، ناموس او ازادۍ ساتني ته متوجه کوي. که څه هم د وکالت او مدافع وکيل اړوند ځيني ليکني شتون لري: لکه د محمد ولي تدبير (١٣٩٦)، ليکنه وکالت او دفاع، د محفوظ الله عارفي (١٣٩٦)، ليکنه د مدني محاکماتو اصول، د محمد نصير حامدي ليکنه دفاع وکالت، د کابل پوهنتون د حقوقي زده کړو ملي مرکز لکچر نوټ وکالت او د دفاع فن مهارتونه او داسي نور... اما يادو ليکنو يوازي د دفاع وکالت او مدافع وکيل پر پيژندنه، تاريخچې، اهميت، حقوقو او وجايبو اوهمدا راز په عمومي توګه ئې د جنايي عدالت په تأمين کي د مدافع وکيل رول او داسي نورو موضوعاتو تمرکز کړی دئ. په کندهار ولايت کي د جنايي عدالت په تأمين کي د مدافع وکيل د رول په هکله کوم ځانګړي مواد او څېړنيز معلومات شتون نه لري، دا اړتيا را منځ ته کړه چي په کندهار ولايت کي د جنايي عدالت د تأمين په برخه کي د مدافع وکيل د رول د تثبيت او تشخيص په هکله معلومات او اطلاعات راټول سي او د يوې بشپړي څېړني په توګه ټولني ته وړاندي سي، چي بالاخره مو د يوې ميداني څېړني په ترڅ کي د جنايي عدالت په تأمين کي د مدافع وکيل د رول اړوند عامو خلکو او د عدلي او قضايي ارګانونو کارکوونکو ته پوښتنليکونه و وېشل او ډاټا مو راټوله او تحليل کړه چي تر ډېره حده خپلي موخي ته رسېدلي يو.

## د څېړني اهميت

دعواوي معمولاً په ټولنه کي را منځ ته کيږي خو متاسفانه دا چي په کندهارۍ ټولنه کي د علم او پوهي کچه ټيټه ده او د حقوقي او جنايي مسايلو سره خلک تر زياته حده نا اشنا دي، نو نه سي کولای چي د دعوې پر مهال د خپلو بنسټيزو حقوقو څخه دفاع وکړي. دا چي دفاع اسلامي شريعت، ملي قوانينو او هم نړۍ والو اسنادو د بشر د طبعي او بنسټيزو حقوقو څخه بللې ده، نو دلته بيا د دې اړتيا سته چي متهم او مظنون د خپلو حقوقو څخه د دفاع په موخه ممکنه لاري وکاروي. يوه لاره ئې هم د مدافع وکيل ټاکنه ده، تر څو د دعوې په ټولو پړاوونو کي د نومړي د حقوقو څخه دفاع وکړي او د قانون حقيقي تطبيق ته زمينه برابره کړي، تر څو جنايي عدالت په احسنه توګه تأمين او تطبيق سي. ځکه نو د اساسي قانون ٣١ ماده ټولو افرادو ته د مدافع وکيل د ټاکلو حق ورکړی دئ، ان تر دې چي د جزايي اجرا آتو قانون ٩ مادې په جنحه او جنايت کي د مدافع وکيل د شتون پر حتمي والي سر بېره ئې متهم ته په اړوند قضيه کي تر درو تنو مدافع وکيلانو د ټاکني واک ورکړی دئ، خو دا چي دفاع وکالت په افغانستان او خاصتاً په کندهار کي يو نوی فن او شغل دئ او خلک ورسره اشنا نه دي او نه ئې هم په جنايي برخه کي په اهميت باندي پوهيږي. د دې دليل بيا پرعدلي او قضايي ارګانو باندي د خلکو عدم اعتماد او نه باور دئ، چي دوی مدافع وکيلان هم د هغوی په رديف کي راولي. نو دلته د دې اړتيا شتون لري چي په کندهار کي بايد په دې هکله څېړنه تر سره سي، تر څو واقعاً هم په جنايي عدالت کي د مدافع وکيل رول واضح سي. دا چي د مدافع وکيل رول په جنايي ساحه کي دومره زيات ارزښت لرونکی دئ، نو دغه موضوع د دې ايجاب کوي چي بايد په دې برخه کی څېړنه ترسره سي.

**د څېړني موخي**

۱. د وکالت، مدافع وکیل او حقوقي مساعد پېژندل.

۲. په کندهار کي د جنايي عدالت په تأمين کي د مدافع وکیل د رول روښانه کول.

**د څېړني فرضيه**

داسي څرګنديږي چي په کندهار کي د جنايي عدالت په تأمين کي مدافع وکیل د زيات رول لرونکی دئ.

**د څېړني پوښتنه**

آيا په کندهار کي د جنايي عدالت په تأمين کي مدافع وکیل رول لري؟


**د څېړني مېتودولوژي**

دا څېړنه یوه میداني څېړنه ده. چي د (۱۳۹۹ل.) کال د اسد د میاشتي څخه تر قوس میاشتي پوري د پنځو میاشتو په ترځ کي د کندهار په ښار کي د جنايي عدالت په تأمين کي د مدافع وکیل د رول په هکله تر سره سوې ده. په دې څېړنه کي عامو خلکو او د عدلي او قضايي ارګانونو کارکوونکو ته د څېړني له ټول ۸۰۰ کسانو نفوس څخه د تصادفي او خاص هدف نمونې ټاکني مېتودونو د کارولو په نتيجه کي ۴۰۰ کسان د نمونې اندازه وټاکل سوه، پوښتنليکونه ور ته ووېشل سول. په ياد پوښتنليک کي ۱۲ پوښتني ځای پر ځای سوی وې، چي تړلي او نيمه تړلي جوړښت ئې درلود. د پوښتنليکونو له لاري ترلاسه سوې ډاټا د (Ms Excel) پروګرام په مرسته تحلیل سوې ده او د څېړني د ترسره کېدو پر مهال د څېړني حقوقي او اخلاقي اړخونه مراعت سوي دي.

**د ډاټا تحليل (Analysis of Data)**

د دې څېړني پوښتنليک دولس تړلي او نيمه تړلي پوښتني لرلې، چي د (Ms Excel) پروګرام په مرسته په لاندي ډول تحليل او په ګرافونو کي ترتيب او تنظيم سوي دي:

**لومړی پوښتنه:** ايا مدافع وکیل د جنايي عدالت په تأمين کي رول لري؟




**لومړی شکل**


پورتنۍ پوښتني ته ۴۰۰ کسانو جواب ويلی دئ، چي له جملې څخه ئې ۳۱۲ کسانو په (هو) او ۸۸کسانو په (نه) سره جواب ورکړی دئ. دا چي د (هو) او (نه) جوابونو په هکله د جواب ويونکو څخه دلایل هم غوښتل سوي دي، نو د هغو کسانو دلایل چي يادي پوښتني ته ئې په (هو) جواب ور کړی دادي:

د مدافع وکيل شتون د عادلانه محاکمې شرط دئ، مدافع وکيلان د مظنون او متهم له قانوني حقوقو څخه دفاع کوي او حق حقدار ته سپاري. مدافع وکيل د ناحقه مجازاتو مخنيوی کوي، د شخص د بې ګناهۍ له پاره دلايل را ټولوي، د دعواوو په مخته وړلو سره خلکو ته سهولتونه ايجادوي او د عدلي او قضايي ارګانونو د خود سريو د مخنيوي سبب هم ګرځي.

هغو کسانو چې يادي پوښتني ته ئي په (نه) سره جواب ورکړی دئ وايي چې مدافع وکيل د جنايي عدالت د تطبيق توان نه لري، بلکي په محکمې، څارنوالۍ او پوليسو پوري اړه لري او زياتره مدافع وکيلان د رشوت او واسطه بازۍ پر بنسټ دعواوي مخ ته وړي.

په هر صورت، په پورتني جواب کي د (الف) مورد د فيصدۍ زياتوالی د دې ښکارندوی دئ چې نن ورځ مدافع وکيلانو د جنايي عدالت په تأمين کي زيات رول لوبولی دئ او په کندهار کي خلک د دفاع وکالت په ارزښت او د جنايي عدالت په تأمين کي د مدافع وکيل په رول پوهېدلي دي.


**دوهمه پوښتنه:** په عمومي توګه په کندهار کي د جنايي عدالت په تأمين کي مدافع وکيل څومره رول لوبولی دئ؟




**دوهم شکل**

پورتنۍ پوښتني ته له ۴۰۰ کسانو څخه ۳۹۶ کسانو جواب ويلی دئ او پاته ۴ کسانو جواب نه دئ ويلی. په شکل کي معلومېږي چې د (ج) مورد ۵۰ سلنه ښيي چې ۱۵۷ کسانو ټاکلی دئ، دا ددې ښکارندوی کوي چې اوس نسبت پخوا ته مدافع وکيلانو د جنايي عدالت په تأمين کي زيات رول لوبولی دئ.

**درېيمه پوښتنه:** ايا د مدافع وکيلانو د هڅو پر بنسټ به په ټولنه کي امنيت او نظم تأمين سي او که نه؟





**درېيم شکل**

پورتنۍ پوښتنې ته ۴۰۰ کسانو جواب ويلی دئ چې له جملې څخه ئې ۳۱۰ کسانو په (هو) او ۹۰ کسانو په (نه) جواب ورکړی دئ. د هغو کسانو دلايل چې يادي پوښتنې ته ئې په هو جواب ور کړئ دئ:که مدافع وکيل خپله دنده په سم ډول تر سره کړي نو د جرايمو مخنيوی به سوی وي او خلک به هڅه کوي د امنيت او نظم خلاف کړني تر سره نه کړي. ددې ترڅنګ، که په ټولنه کی حق حقدار ته و نه سپارل سي نو بې نظمي او ګډوډي را منځ ته کوي. دا چې مدافع وکيل هڅه کوي تر څو حق حقدار ته ورسېږي نو دا د امنيت او نظم په تأمين کي مرسته کوي او مدافع وکيل د امنيت او نظم په تأمين کي هغه وخت رول لرلای سي چې په غير قانوني اعمالو لاس پوري نه کړي او د مجرم له جرم څخه نه بلکې د هغه له حقوقو څخه دفاع وکړي.

هغو کسانو يادي پوښتنې ته ئې په (نه) جواب ورکړی لاندې دلايل درلودل: دفاع وکالت نظامي څواک نه دئ، نو نه سي کولای چې د امنيت او نظم په برخه کی مؤثره رول ولوبوي او هم مدافع وکيلان نه غواړي چې جرايم کم سي، ځکه د دوی له پاره کاري او عايداتي سرچينه ده.

په دريم شکل کې ليدل کيږي چې د (هو) جواب کچه تر (نه) لوړه ده او دا د دې ښکارندوی کوي چې د مدافع وکيلانو هڅې د عدلي او قضايي سيستم د يو عنصر په توګه په ټولنيز نظم کې رول لري.

**څلورمه پوښتنه:** ستاسي په نظر دولت د بې وسو او غريبو خلکو له پاره په څومره اندازه حقوقي او جنايي خدمات وړاندې کړي دي؟





**څلورم شکل**

پورتنۍ پوښتنې ته له ۴۰۰کسانو څخه ۳۹۲ کسانو جواب ويلی دئ او پاته ۸کسانو جواب نه دئ ويلی. په ياده پوښتنه کې د ۲۵سلنه کټګورۍ د انتخاب د اندازې زياتوالی ښيي، چې د حقوقي مساعدينو تشکيلات او په ټوله کې د دولت امکانات کم دي او نه سي کولای چې په کافي اندازه د ټولنې خلکو ته حقوقي خدمتونه وړاندې کړي.

**پنځمه پوښتنه:** په کندهار کي د جنايي عدالت د تأمين په برخه کي شخصي مدافع وکیلانو او که حقوقي مساعدينو زيات رول لوبولی دئ؟

**پنځم شکل**





پورتنۍ پوښتني ته له ۴۰۰ کسانو څخه ۳۹٦ کسانو جواب ويلی دئ او پاته ۴ کسانو جواب نه دئ ويلی. د يادي پوښتني په جواب کي ۲۴۴ کسانو ويلي چي د جنايي عدالت په تامين کي شخصي مدافع وکيلان زيات رول لوبولی دئ او ۱۵۲ کسانو ويلي چي حقوقي مساعدينو د جنايي عدالت په تامين کي رول لوبولی دئ. هغو کسانو چي شخصي مدافع وکيلان کټګوري ټاکلي ده وايي، دا چي شخصي مدافع وکيلان د حق الزحمي په بدل کي کار کوي نو هڅه کوي تر څو جرم په دقيق او هر اړخيز ډول وپلټي او قضيه په خپله ګټه پای ته ورسوي. د کندهار د خلکو اقتصادي وضعيت نسبت ګاونډيو ولايتونو ته ښه دئ، نو کولای سي چي شخصي مدافع وکيل وټاکي او مدافع وکيل د ځان د شهرت او محبوبيت له پاره هڅه کوي تر څو قضيه په سم او دقيق ډول مخ ته يوسي.

هغه کسان چي حقوقي مساعدين کټګوري ئې ټاکلي په دې اند دي چي، حقوقي مساعدين پرته له کومي حق الزحمي څخه حقوقي خدمات وړاندي کوي. ټولنه غريبه ده او افراد د شخصي مدافع وکيل د ټاکلو توان نه لري، په داسي حال کي چي شخصي مدافع وکيلان تر هر څه پيسو ته زيات ارزښت ورکوي. حقوقي مساعدين د ټولني او فرد دواړو ګټي په نظر کي نيسي، په داسي حال کي چي شخصي مدافع وکيلان يوازی او يوازي د فرد (مؤکل) ګټو ته ترجيح ورکوي .

په هر صورت، په پورتني جواب کي شخصي مدافع وکيلانو د فيصدۍ د زياتوالي عوامل د شخصي مدافع وکيلانو دقت، مسلکي والی او په صحيح ډول د مؤکل له حقوقو څخه د عدلي او قضايي ارګانونو په وړاندي دفاع کول ښيي.

**شپږمه پوښتنه:** ايا تاسي د مدافع وکيلانو له کړنو، فعاليتونو او هڅو څخه راضي ياست؟

**شپږم شکل**




شپږمي پوښتني ته پوره ۴۰۰ کسانو جواب ويلی دئ، چي له جملې څخه ئې ۲۲۹ کسانو )هو ( او ۱۷۱ کسانو )نه( کټګورۍ په نښه کړي دي. دا چي د (هو) او (نه) جوابونو په هکله د جواب ويونکو څخه دلايل هم غوښتل سوي دي، نو دلايل ئې په لاندي ډول دي:

لومړی، د هغو کسانو دلايل چي يادي پوښتني ته ئې په (هو) جواب ورکړی دئ: په هغه صورت کي راضي يو چي په رښتينولۍ او ايمانداری خپله دنده ترسره کوي. دا چي مدافع وکيل هڅه کوي چي د مؤکل له حقوقو څخه په ښه توګه دفاع وکړي او نه پرېږدي چي په شکل د اشکالو ئې د مؤکل پر حقوقو تېری وسي. مدافع وکيلان هڅه کوي چي حقايق او شواهد محکمې ته وړاندي کړي، ترڅو بې ګناه کسان له مجازاتو څخه خلاص سي.

دوهم، د هغو کسانو دلايل چي يادي پوښتني ته ئې په (نه) جواب ور کړئ دئ: د صلاحيت او مسؤليت تر منځ تناسب نه پيژني او اخلاقي نزاکتونه نه مراعتوي. ټول يوازي او يوازي د شخصي منافعو او ګټو له پاره کار کوي. د هغو کسانو څخه ښه او مؤثره دفاع کوي چي قوت او پيسې لري.

په هر صورت، د (الف) مورد د فيصدۍ زياتوالی لامل دا دئ چي شخصي مدافع وکيلانو خپله دنده په سم شکل تر سره کړې ده، نو همدا علت دئ چي خلک ځني راضي دي.


**اوومه پوښتنه:** د دې له پاره چي مدافع وکيل د جنايي عدالت په تأمين کي مؤثره رول ولوبوي بايد کومي ځانګړني ولري؟




**اووم شکل**

پورتنۍ پوښتني ته له (۴۰۰) کسانو څخه (۳۹۰) کسانو جواب ويلی دئ او (۱۰) کسانو جواب نه دئ ويلی. په ياده پوښتنه کي د (د) مورد تر ټولو زيات انتخاب سوی دئ. په دوهم قدم کي د (ج) د انتخاب د فيصدۍ زياتوالی د دې ښکارندوی کوي چي ټولنه اسلامي ده او خلک په اسلامي شريعت او قانون پوهه او عملي کول ئې د مدافع وکيلانو له پاره زيات اړين بولي .


**اتمه پوښتنه:** د قانون او ټولني له عرف څخه خبرتيا او د دفاعي مهارتونو لرل د مدافع وکيل سره د جنايي عدالت په تأمين کي څومره مرسته کولای سي؟




**اتم شکل**

پورتنۍ اتمي پوښتني ته د (۴۰۰) کسانو له جملې څخه (۳۸۹) کسانو جواب ويلی دئ او (۱۱) کسانو جواب نه دئ ويلی. د يادي پوښتني په جوابونو کي د (ب) مورد د انتخاب فيصدۍ زياتوالی د دې ښکارندوی دئ چي زموږ ټولنه له يوه لوري اسلامي او له بله لوري عرفي ټولنه ده يعني د اسلامي شريعت تر څنګ عرف او عاداتو ته هم زيات ارزښت ورکوي.

**نهمه پوښتنه:** ايا د مدافع وکيلانو له لوري د قانون او عرف خلاف فعاليتونه تر سره کول د ناوړه تاثيراتو لرونکي دي؟





**نهم شکل**

پورتنۍ پوښتني ته پوره (۴۰۰) کسانو جواب ويلی دئ. يادي پوښتني ته (۳۰۱) کسانو په (هو) او (۹۹) کسانو په (نه) جواب ورکړی دئ. د هغو کسانو دلايل چي په هو سره ئې جواب ويلي دئ، دا چي کندهار يوه عرفي او عنعنوي ټولنه ده، نو که مدافع وکيل د عرف او عاداتو خلاف کړني ترسره کړي نو د خلکو جدي غبرګونونه به را وپاريږي او د خپل حيثيت او موقف له زيان سره به مخ سي. د مدافع وکيلانو له لوري د قانون او عرف خلاف کړني د قانون حاکميت او ټولنيز نظم له ګواښ سره مخ کوي. هغو کسانو چي په نه سره جواب ويلی دئ په دې اړه هيڅ يوه هم د خپلي خبري د ثبوت له پاره کوم منطقي دليل نه دئ وړاندي کړی.

په هر صورت، په پورتنۍ پوښتنه کي د (هو) مورد د فيصدۍ زياتوالی د دې ښکارندوی دئ چي د مدافع وکيلانو له لوري د قانون او عرف خلاف کړني تر سره کول، د بېلا بېلو ناوړه اغېزو لرونکي دي، څکه چي د قانون حاکميت له منځه وړي او د مدافع وکيلانو په وړاندي د ټولني عکس العملونه را پاروي.

**لسمه پوښتنه:** ایا په کندهار ولایت کښې خلک پر مدافع وکیلانو باور او اعتماد کوي؟

لسم شکل





پورتنۍ لسمي پوښتني ته د (۴۰۰) کسانو له جملې څخه (۲۲۴) کسانو په (هو) سره جواب ويلی دئ او (۱٦۳) کسانو په (نه) سره جواب ويلی دئ. دا چې د (هو) او (نه) جوابونو په هکله د جواب ويونکو څخه دلایل هم غوښتل سوي دي نو لومړی د هغو کسانو دلايل چي يادي پوښتني ته ئې په (هو) جواب ورکړئ په دې ډول دي، اوس د کندهار د خلکو د حقوقي پوهي په کچه کي زياتوالی راغلی او د مدافع وکيلانو په ارزښت پوهيږي. مدافع وکيلان خلکو ته حقوقي مشورې ورکوي او ذيصلاح مراجعو کي د دوی له قانوني حقوقو څخه دفاع کوي. دوهم د هغو کسانو دلایل چي يادي پوښتني ته ئې په (نه) جواب ورکړئ دئ په دې ډول دي،کندهار عرفي ټولنه ده، نو قضاياوو ته ئې تر رسمي عدالت غير رسمي عدالت زياته رسيدګي کوي. د ټولني زياتره خلک مدافع وکيلان په رشوت او فساد ککړ بولي نو باور نه پر کوي. زياتره مدافع وکيلان د مجرمينو او مفسدينو لاس نيوی کوي، چي د خلکو د اعتماد د کموالي لامل سوی دئ.

په هر صورت، په پورتنۍ جواب کي د (الف) مورد د فيصدۍ زياتوالی د دې ښکارندوی دئ چي اوس د ټولني د خلکو په حقوقي پوهه کي زياتوالی راغلی او پر مدافع وکيلانو اعتماد کوي، ځکه چي د دوی له قانوني حقوقو څخه دفاع کوي .

**يوولسمه پوښتنه**: ایا د مدافع وکیلانو غیر قانوني کړني د جنايي عدالت په مخ کي خنډ را منځ ته کولای سي؟

يوولسم شکل




يوولسمي پوښتني ته له (۴۰۰) کسانو  څخه (۳۹۰) کسانو جواب ويلی او (۱۰) کسانو هيڅ جواب نه دئ ويلی. هغه کسانو چي جواب ويلی دئ له جملې څخه ئې (۲۹۵) کسانو په (هو) سره جواب ويلی دئ او (۹۵) کسانو په (نه) سره جواب ويلی دئ .

د پورتنيو جوابو په اړه له جواب ويونکو څخه دلايل غوښتل سوي چي لمړی د هغو کسانو دلايل ذکر کيږي چي په هو سره ئې جواب ويلی دئ : د غير قانوني کړنو تر سره کول خپله جرم او د عدالت خلاف عمل دئ. د مدافع وکيلانو له لوري د غير قانوني کړنو په پايله کي حق و حق دار ته نه رسيږي. د مدافع وکيل د غير قانوني کړنو په پايله کي سره د دې چي جنايي عدالت نه تامنيږي، د ټولني اعتماد او باور هم له منځه وړي. هغو کسانو چي هيڅ په نه سره جواب ويلی هغوی يوه هم د خپلي خبري د ثبوت له پاره کوم منطقي دليل نه دئ وړاندي کړی. په هر صورت، په پورتنۍ جواب کي د (الف) مورد د فيصدۍ زياتوالي د دې څرګندونه کوي چي د مدافع وکيلانو غير قانوني کړني د جنايي عدالت د تأمين په برخه کي خنډونه را منځ ته کولای سي .

**دولسمه پوښتنه:** ستاسي په نظر په کندهار کي د مدافع وکيلانو د فعاليتونو په وړاندي کوم خنډونه وجود لري؟




دولسم شکل

دوولسمي پوښتني ته پوره (۴۰۰) کسانو جواب ويلی دئ. دولسم شکل په کندهار ولايت کښي د مدافع وکيلانو د فعاليتونو په وړاندي د خنډونو موجوديت ښيي. په ياده پوښتنه کي د (د) مورد د انتخاب فيصدۍ د زياتوالي تر څنګ د (ب) مورد هم هغه دئ چي لا تر اوسه زموږ د ټولني خلک ځني کړيږي.

**مباحثه**

هغه پوښتني چي د وکالت او مدافع وکيل د پيژندني او په جنايي عدالت کي د هغه د رول اړوند د کندهارۍ ټولني له خلکو سره موجودي وې، د دې څېړني په مرسته واضح سوي دي، چي په کندهار کي مدافع وکيل د جنايي عدالت په تأمين  کي رول لري. همدارنګه پر مدافع وکيلانو د خلکو د اعتماد موضوع هم څېړل سوې او د څېړني پايلو ښودلې چي په حقيقت کي د ټولني زياتره خلک په کندهار کي پر مدافع وکيلانو اعتماد لري او دلايل ئې هم د خلکو په حقوقي پوهه کي د زياتوالي را تلل او د مدافع وکيلانو له لوري په سم او مسلکي ډول د دندو تر سره کول، ښودل سوي دي. همدا راز دا هم معلومه سوه چي مدافع وکيل بايد د ځينو ځانګړو دفاعي مهارتونو لرونکی وي، لکه مسلکيت، ربښتينولي، ژمنتيا او په شريعت او قوانينو پوهه. د دې ترڅنګ هغه موارد چي په کندهار کي د مدافع وکيلانو د فعاليتونو په وړاندي خنډ ګرځي هم روښانه سول، چي بنستيز مورد ئې په عدلي او قضايي ارګانونو کي د اداري فساد شتون بلل سوی دئ. دغه څېړنه د نورو څېړنو په پرتله نوي معلومات وړاندي کوي او تر ډېره هڅه سوې چي له لمړنۍ (Primary) ډاټا څخه يکښي استفاده وسي. د نموني لږ اندازه او يوازي د پوښتنليک په واسطه د ډاټا راټولول د څېړني نيمګړې ټکي دي او د څېړني پر مهال د جواب ويونکو لخوا د پوښتنليکونو نه جوابول او د کرونا ويروس ګواښونه د څېړني لوی محدوديتونه او خنډونه ول.

**په آخير کي د څېړني د پايلو پرنسټ لاندي وړانديزونه وړاندي کيږي:**

١ .مدافع وکيلان بايد خپله دنده د قانون، شريعت، عرف او دفاعي مهارتونو په چوکاټ کي تر سره کړي.

٢ .دا چي د مدافع وکيل لرل د افرادو اساسي حق دئ، نو محاکم، څارنوالي او پوليس بايد افراد له دې حق څخه خبر کړي.

٣ .مدافع وکيل بايد د خپلو مؤکلينو له حقوقو څخه په واقعي ډول دفاع وکړي او هڅه وکړي چي د جنايي عدالت په تأمين  کي مؤثره رول ولوبوي .

۴ .د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه بايد د بېلا بېلو تګلارو په واسطه د ټولني افرادو ته د دفاع وکالت د ارزښت په هکله عامه پوهاوی ورکړي.

۵ .مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه، عدلي وزارت او نړۍوال مؤسسات بايد د مدافع وکيلانو او حقوقي مساعدينو د حقوقي فهم او مسلکي مهارتونو د زياتوالي له پاره روزنيز پروګرامونه داير کړي.

**پـــايـــله**

د پورتنۍ څېړني په پای کي دې پايلي ته رسېږو دفاع د بشر طبعي حق دئ، نو مظنون او متهم کولای سي چي د جزايي دعوې په ټولو پړاوونو کي د خپلو قانوني حقوقو څخه دفاع وکړي، خو په افغانستان او خاصتاً په کندهار ولايت کي د علم او پوهي کچه ټيټه ده، چي له امله ئې د ټولني افراد د خپلو هغو حقوقو څخه چي د يوې جنايي پروسې پر مهال ئې لري، بې خبره دي نو په دې صورت کي مدافع وکيل ته چي قانون د افرادو بنسټيز حق ګڼي اړتيا پيدا کيږي تر څو د خپل مؤکل له حقوقو څخه د عدلي تعقيب په ټولو پړاوونو (کشف، تحقيق، قضايي تعقيب، محاکمه او د حکم تنفيذ) کي دفاع وکړي. په جنايي دعواوو کي مدافع وکيل ډېر مهم رول لوبوي او د جنايي عدالت د تأمين  له اساسي ارکانو څخه ګڼل کيږي، ځکه مدافع وکيل د خپل مؤکل د رازونو او د قانون د حاکميت ساتونکی دئ؛ يعني قاضي متوجه کوي تر څو د خپل مؤکل د ځان، مال، ناموس او ازادۍ ساتني ته ئې متوجه کړي، ځکه نو اسلامي شريعت، د افغانستان ملي قوانينو او هم نړۍوالو اسنادو مدافع وکيل ته لاسرسی د عادلانه محاکمې رکن بللی دئ. په هر صورت د دې څېړني پايلو وښوول چي نن ورځ په کندهار کي د جنايي عدالت په تأمين  کي مدافع وکيل رول لوبولی او دليل ئې هم د يوه لوري د خلکو د حقوقي پوهي زياتېدل او د مدافع وکيلانو له لوري د خپلو دندو په سم او مسلکي ډول مخ ته وړل دي.

**ماخذونه**

اساسي قانون(١٣٨٢ل.). ٨١٨ رسمي جريده،  ٣١ ماده.

تدبير، محمد ولي، (١٣٩٦ل.). وکالت او دفاع: مستقبل خپرندويه ټولنه.

جزايي اجرا آتو قانون (١٣٩٣ل.). ٩ ماده.

حقوقي مرستو مقرره (١٣٩٨ل.). ١٣۵۵ رسمي جريده. ٣ ماده.

دانش، حفيظ الله (١٣٩٨ل.). جزا نړيوال حقوق: مستقل خپرندويه ټولنه،۴ م.

عارفي، محفوظ الله (١٣٩٦ل.). د مدني محاکماتو اصول.

مدافع وکيلانو قانون (١٣٨٦ل.).  ۵ ماده.

مدني قانون (١٣۵۵ل.). ٣۵٣رسمي جريده، ١۵۵۴ماده.

وکالت او دفاع فن مهارتونه، کابل پوهنتون د حقوقي زده کړو ملي مرکز.

# The Role of Defense Lawyer in Ensuring Criminal Justice in Kandahar

Abdulrahman Achekzai and Samiullah Ezam


## Abstract

In all cases, especially in criminal cases, the role of a defense lawyer is considered important and one of the main pillars in ensuring criminal justice. Therefore, Afghanistan's national laws, Islamic Sharia and international documents have called access to the right of defense counsel a pillar of fair trial. Unfortunately, the level of knowledge is low in Afghanistan and especially in Kandahar province, which is why community individuals remain unaware of their rights during the criminal process. A defense lawyer who considers the law to be the fundamental right of individuals is required to defend the rights of his client at all stages of prosecution. The fact that defense lawyers are so important in all social life and especially criminal matters is therefore conducted in Kandahar province regarding the role of defense attorney in ensuring criminal justice and has gathered the necessary information to answer a large number of questions. This research is both library and field. The first data has been used a lot. 400 questionnaires have been distributed to the public and judicial organs staff to determine the role of defense counsel in ensuring criminal justice. The aim of this study is to clarify the importance and quality of advocacy, clarify the rights and duties of defense lawyers and clarify the role of defense attorney in ensuring criminal justice in Kandahar. We have achieved more than 100 goals and many people consider the role of defense lawyer important in this regard.


**Keywords**: Justice Provision, Supply, Criminal Justice, Lawyer Defense, Judicial Organs

# د کندهار په تعلیمي او تحصیلي خصوصي سکتور کي د کارمندانو د عدم رضایت عوامل

محمدانور انوري
0705290052
afghananwari52@gmail.com
عصمت الله سلیمي
0700325093
samat.salimi2004@gmail.com
شجاع آرین
0798527829
shujaaryen@gmail.com
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د سیاسي علومو او نړۍ والي اړیکي څانګي استادان

**لنډیز**

بشري منابع د سازمان تر ټولو حیاتي برخه ده، چي نن سبا سازمانونه دې ته متوجه سوي چي څه ډول د بشري منابع کاري مؤثریت زیات کړي او له دې قوې څخه حد اکثر ګټه واخیستل سي. د بشري قوې په کاري مؤثریت کي زیات والی د یادي قوې په رضایت او عدم رضایت پوري اړه لري، لکه څرنګه چي په دې څېړنه کي تر ډېره هغه عوامل چي د کندهار په تعلیمي او تحصیلي خصوصي سکتور کي د عدم رضایت سبب کېږي، څېړل سوي، چي تر ټولو عمده ئې (په سازمان کي کارمندانو ته د ورکړل سوي صلاحیت او مسؤولیت تر منځ عدم تناسب، د مستقیم آمر سخت چلند، د نورو له خوا په کارونو کي مداخله، سخت او خشن قوانین او د معاش کموالی) یاد سوي دي، چي زیاتو کسانو د دې پوښتني چي کوم عوامل مو په دنده کي ناراضه کوي؟ په جواب کي ویلي ول. په څېړنه کي له کتابتوني او میداني مېتود څخه کار اخیستل سوی، چي د کندهار ولایت د خصوصي سکتور له جملې څخه یوازي په تعلیمي او تحصیلي ادارو کي د کارمندانو د عدم رضایت عوامل د ۲۰۰ پوښتنلیکونو په جوابولو سره څېړل سوي. د دې څېړني موخې دا وې چي په خصوصي سکتور کي کارمندانو د عدم رضایت عوامل، پر سازمان باندي د کارمندانو د نارضایتي اغېزې، د کارمندانو پر کاري مؤثریت او مثمریت باندي اغېزې او پر سازماني تعهدم باندي د نا رضایتي اغېزې وڅېړل سي، چي تر ډېره حده یادو موخو ته رسېدلي یو.

**مهم لغاتونه:** خصوصي سکتور، دنده، کارمند، له دندي څخه رضایت

## پېژندنه

څرنگه چې ټول سازمانونه (انتفاعي يا غير انتفاعي) د يو هدف د لاسته راوړلو په موخه رامنځته کيږي او هر سازمان اړ دئ چې د يادو اهدافو د تحقيق له پاره له مادي او بشري منابعو څخه کار واخلي. بشري منابع د سازمان له حياتي او کليدي منابعو څخه گڼل کيږي. د انساني منابعو له ملتيا پرته د سازمان چاري له ځنډ او خنډ سره مخ کيږي. خو د نورو منابعو پر خلاف د بشري منابعو ساتل او پالل، تر څو د سازمان د اهدافو په لاسته راوړنو کي مؤثر او مثمر تمام سي، سخت کار دئ. ځکه بشري منابع احساسات او اړتياوي لري. د دوی کاري مؤثريت او مثمريت د ښه او بد احساس له اغېز څخه خالي نه دئ. له سازمان څخه ښه احساس او له دندي څخه د کارمندانو رضايت خورا ډېر اهميت لري. له سازمان او دندي څخه د کارمند د رضايت عوامل پر څلورو ډلو وېشل سوي؛ (فردي عوامل، سازماني عوامل، کاري چاپېريال او کاري ماهيت) چي هر يو ئې د کارمند کار او کاري روحيه اغېزمنوي. کله چي کارمند له دندي او سازمان څخه راضي وي، په کاري برخه کي له ځان څخه ورتيا او نوښت ښوولای سي او ډېر کم د ستړيا او پرېشانۍ احساس کوي. خو برعکس کله چي کارمند له سازمان او دندي څخه ناراضه وي، هم د ستړيا او پرېشانۍ احساس کوي او هم ئې کار بې نتيجې وي.

افراد تقريباً د ژوند نيمايي وينبه برخه په کار کي تېروي، ځکه څيړونکي دې برخي ته ډېر متوجه دي. له سازمان سره د کارمندانو تعهد او وفاداري له سازمان او دندي څخه د کارمندانو له رضايت سره مستقيمه اړيکه لري. پورته اهميت ته په کتو سره اړتيا ده چي په سازمانو کي د کارمندانو د عدم رضايت عوامل وڅېړل سي. په دې اړه يوه څېړنه چي (عوامل موثر بر رضايت يا عدم رضايت شغلی کارکنان فاوای نزسا، سال ۱۳۹۰ل.) تر سرليک لاندي په ايران کي څېړل سوې ده. دوی له دندي څخه د رضايت مؤثر عوامل پر څلورو ډلو (فردي عوامل، سازماني عوامل، د کار چاپېريال او د کار محيط) باندي وېشلي دي. ياده څېړنه په دوو پوښتنو (له دندي څخه رضايت او پر هغوی مؤثر عوامل) له (۱۵۱) کسانو څخه پوښتل سوي وو. څرنگه چي دوی د رضايت عوامل څېړلي چي تر ډېره حده زموږ سره نېږدې اړيکه لري، دا چي دا څېړنه په ايران کي تر سره سوې چي د ايراني سازمانو کاري محيط، د خلکو ټولنيز، رواني او اقتصادي حالت د افغانستان د سازمانو له کاري محيط سره کاملاً متفاوت دي. ځکه هڅه سوې چي په دې برخه کي د کندهار ولايت د خصوصي سکتور د کارمندانو د عدم رضايت عوامل وڅېړل سي.

## د څېړني پوښتنه

په خصوصي سکتور کي له دندي څخه د کارمندانو د عدم رضايت عوامل څه دي؟

## د څېړني موخي

- په تعليمي او تحصيلي خصوصي سکتور کي د کارمندانو د عدم رضايت د عواملو معلومول.
- د کارمندانو پر کاري مؤثريت باندي د عدم رضايت تاثيرات روښانه کول.
- د کارمندانو د سازماني تعهد د له منځه تلو عوامل پېژندل.

## د څېړني اهميت

له دندي څخه د کارمندانو د رضايت څېړل، تحليل او له سازمان څخه د کارمندانو د رضايت او عدم رضايت د عواملو څېړل له خورا لوی ارزښت څخه برخمن دي. د دې څېړني هدف په خصوصي سکتور کي له دندي څخه د کارمندانو د عدم رضايت د عواملو څېړل دي. په سازمان کي کاري مؤثريت او د کارمندانو د تعهد کچه د دندي په رضايت پوري تړلي دي. څومره چي يو کارمند له دندي څخه راضي وي، په هم هغه اندازه ئې د سازمان له پاره مؤثريت او مثمريت زيات وي. که چيري يو کارمند له دندي څخه راضي نه

وي، هم د سټرېا او نا ارامۍ احساس کوي او هم ئې کار بې نتیجې وي او یا کېدای سي د سازمان له پاره د ګټي پر ځای ضرر ورسوي. له دندي څخه د کارمندانو د رضایت او عدم رضایت ځکه مهم دئ چي کارمندان د ژوند د وینښي برخي نیمه حصه په کاري چاپیریال کي تېروي، نو کله چي یو کارمند په سازمان کي له دندي څخه راضي وي، د خدمت پرېښوولو ته ئې لیوالتیا کمه وي. ددغه څېړني پایلي به د ټول خصوصي سکتور له پاره ډېري اړیني وي ترڅو دوی د خپلو کارمندانو له پاره سالم او د خوښۍ ډک چاپیریال رامنځته کړي ترڅو په کارونو کي ئې مؤثریت رامنځته سي.

### د څېړني مېتودولوژي

دا یوه کمي او کیفي څېړنه ده؛ یعني د څېړني دواړه شکلونه په ځان کي رانغاړي چي په کندهار ولایت تقریباً په څلور میاشتو کي ترسره سوې ده. د څېړني نفوس د کندهار ولایت ټول خصوصي تعلیمي او تحصیلي مرکزونه دي، چي په یادو مرکزونو کي اداري کارمندان لکه، مامور، مدیر، آمر او رئیس زموږ د څېړني نفوس تشکیلوي، چي له دې جملې څخه ۱۸۴ کسان نارینه او ۱٦ تنه ښځینه کارمنداني وې، چي ۱۵ تنه مامورین، ۵۸ تنه مدیران، ۲۵ تنه آمرین او ۱۲تنه رئیسان ول. په یاد نفوس کي ۲۰۰ کسانو ته پوښتنلیکونه وېشل سوي دي . پوښتنلیک له ۲۳ پوښتنو څخه جوړ وو، چي ۲۰ پوښتني ئې تړلي او ۳ پوښتني ئې خلاصي وې. دا څېړنه تر یو حده کتابتوني او نوره په میداني شکل ترسره سوه، چي معلومات د پوښتپاڼو په مرسته را جمع سوي او بیا همدغه معلومات د (MS. Excel) په واسطه تحلیل او تجزیه سول.

موږ خپلي موضوع ته په پوره صداقت، ریښتنولۍ، صبر، زغم، شوق، رغبت او امانتدارۍ سره ژمن او متعهد یو. همچنان د همکاري کوونکي هویت او معلومات کاملاً خوندي او محرم ساتل سوي دي.

### خصوصي سکتور

خصوصي سکتور د دولتي سکتور په مقابل کي قرار لري، چي هغو سازمانونو ته ویل کېږي چي بودجه ئې د دولت له لوري نه تمویلېږي، بلکي خپله عایداتي منابع لري.

### د دندي علمي تعریف

د یو مشخص هدف له پاره د یو لړ ورته کارونو مجموعې ته دنده یا کار وایي، چي د تر سره کولو په صورت کي شخص ته پیسې ورکول کېږي. کار عبارت دئ؛ له وظایفو، مسؤولیتونو او د عملکرد له عناصرو څخه چي مشخص تعریف لري، د تر سره کېدلو، اندازه ګیرۍ او امتیاز ورکړې قابلیت ولري. له پراخ لیدلوري څخه د یو مترادف کار رول چي په کاري محیط کي جسمي او ټولنیز اړخ ولري، شغل بلل کېږي. ډېر کسان خپل ځان د خپلي دندي او یا نقش له مخي خپل ځان پیژني او د خپلي ګټي څخه انګېزه اخلي. (داکتر ناصرمیر سپاسی، ۱۳۷۸ش)

### له دندي څخه د رضایت معنی؟

له دندي څخه رضایت په دې مانا چي یو شخص پر داسي یو کار باندي وګمارل سي چي د یادي دندي له ډول، شرایطو، حقوقو او نورو ګټو څخه خوښي ولري او کار ته د ادامې له ورکولو څخه راضي سي. د شخصیت او دندي تر منځ تناسب په دنده کي له رضایت سره ژوره اړیکه لري، چي په راتلونکي کي به ورباندي مفصل بحث وسي.

له دندي څخه رضایت (Job satisfaction) نسبت دندي ته د افرادو پر معنوي، عاطفي او سنجشي غبرګونونو باندي اطلاق کېږي. له دندي څخه د رضایت عوامل پر دوو ډلو وېشل سوي دي، یوه ډله ئې سازماني عوامل او بله ډله ئې شخصیتي عوامل بلل کېږي. د سازماني عواملو له جملې څخه به د مکافاتو سیسټم، حقوق او امتیازاتو ته اشاره وکړو او د شخصیتي عواملو له ډلي څخه به د


دندي شخصيتي ځانګړنو ته اشاره وکړو. کوم ډول اشخاص په شخصيتي لحاظ کوم کار ته جوړ دي، تر څو يو شخص د خپلو شخصيتي ځانګړنو مطابق پر يوه دنده باندي وګمارل سي. ځيني اشخاص په يوازې توګه کار کول خوښوي، هغوی په ګروپي کارونو کي ځان ښه نه سي ثابتولای. برعکس هغه اشخاص په ګروپي توګه کارکول خوښوي، لکه برونګرا اشخاص، هغوی چي کله يوازې کړېږي، په سمه توګه دنده نه سي اجراء کولای. همدارنګه (١٦) شخصيتي ټيپونه لکه څه رنګه چي موږ ولوستل، ټول يو له بل سره متضادي ځانګړني لري. د شخصيت پر هر ټيپ د شخصيت څلور بعدونه د سلني پر اساس را ټول سوي دي. د کوم شخصيتي بعد ونډه چي تر نورو زياته وه، شخصيت هم ډېر هم هغې خوا ته کشوي (زکی، محمدعلی، ١٣٨٧).

په دنده کي د رضايت مفهوم هم له هغو موضوعاتو څخه دئ چي د بشري سرچينو په مديريت کي ډېر مطرح دئ، د کارمندانو په دوامداره پرمختګ او د سازمان په ارتقا کي ډېر رول لري. په دنده کي د رضايت هدف په رواني لحاظ د کاري قوي تقويه کول دي، چي د هغوی پر فزيکي کار او فعاليت باندي مستقيم تاثير لري. له دندي څخه د رضايت مفهوم هغه وخت تحقق پيدا کوي چي نه يوازي کاري قوه بلکي سازمان هم نسبت کار قوي ته رضايت ولري.

## د ډاټا تحليل او موندني


داچي د پوښتنليک دوهمه برخه د جواب ويونکو ځانګړتياو ته جلا سوې وه تر څو د هغو پوښتنو په مرسته socio-demographic معلومات راټول سي نو پر همدې اساس د لاندي يو شمېر پوښتنو په جواب کي د جواب ويونکو معلومات واضح سوي دي.

**لومړی پوښتنه:** دکاري تجربې اړوند ده، چي د څېړني د (200) کسيزي نموني څخه (95) کسانو د (5) څخه تر(10) کلونو پوري تجربه ښوولې؛(61) کسانو د (2) څخه تر (5) کلونو پوري تجربه ښوولې او په پاته کسانو کي (19) پوښتونکو له لس کاله څخه پورته تجربه او(25) کسانو تر(2) کلونو پوري تجربه ښوولې ده. د همدې پوښتني څخه معلومېږي چي په خصوصي سکتورونو کی تر ډېره حده پوري کافي تجربې لرونکي کسان دنده اجراء کوي. څرنګه چي په لومړي شکل کي تاسو وينئ چي د نموني زياته برخه تر لسو کلونو کمه کاري تجربه لري، دا ځکه چي په افغانستان بالخصوص په کندهار کي تعليمي او تحصيلي خصوصي سکتور نوی دئ او ډېره مخينه نه لري.





(١) شکل

**دوهمه پوښتنه:** چي د عمر په اړه سوې، داځرګنده سوه چي په خصوصي سکتور کي تر ډېره ځوانه بشري قوه دنده اجراء کوي، چي د یادو(200) کسانو له ډلي څخه (83) کسان د (25-30) کاله عمر لري او (64) کسانو د (30-40) کاله عمر درلود او په پاته کسانو کي (16) کسان (40) کلن او (37) پوښتونکي د (18-20) ترمنځ عمر لرونکي ول. د بشري قوې د عمر له اړخه هم خصوصي سکتور ځوان دئ.





(۲) شکل

**دریيمه پوښتنه:** د عوایدو په اړه سوې ده، چي زموږ د نمونې (90) کسانو خپل میاشتنی عاید د لس څخه تر شل زره افغانیو پوري ښوولی دئ. (78) کسانو خپل عاید د (5) زرو څخه تر 10 زرو افغانیو پوري یاد کړی، (32) کسانو خپل میاشتنی عاید تر (20) زره زیات ښوولی او پاته لسو کسانو بیا د خپل میاشتني عاید کچه (40) زره افغانۍ ښوولې ده. له پورته ارقامو څخه ځرګندېږي چي په خصوصي سکتور کي د کارمندانو میاشتنی امتیاز کم او د دوی د مصارفو سره تناسب نه جوړوي.





(۳) شکل

**څلورمه پوښتنه:** د جنسیت اړوند ده، چې زموږ د نمونې لویه برخه نارینه جوړوي، چې د سلنې پر اساس (90) سلنه وګړي ئې نارینه او پاته لس سلنه ئې ښځې وې، چې دې ارقامو ته په کتو سره ویلای سو چې په خصوصي سکتور کې د ښځینه کارمندانو شمېر ډېر کم دئ.





(۴) شکل

**پنځمه پوښتنه:** د مدني حالت اړوند ده، چې د نمونې (108) کسان متاهل او باقي (92) کسان ئې مجرد دي. د دوهمې پوښتنې د ارقامو له مخې چې زموږ د نمونې ټول ګډونوال تر(25) کلونو او یا له (25) کلونو څخه ئې عمرونه لوړ دي، خو بیا هم زموږ اکثریت ځوانان مجرد دي، د دې دلیل د میاشتني عاید د کچې ټیټوالی دئ.





(۵) شکل

**شپږمه پوښتنه:** د زده‌کړو اړوند ده، چې د ټاکل سوي نمونې څخه (111) کسان ئې لیسانس (19) کسان ئې ماسټران او (70) کسان ئې بکلور او مافوق بکلور دي، چې د همدې ارقامو څخه مالومېږي چې د خصوصي سکتور بشري منابع د لوړو زده‌کړو لرونکي کسان دي.




(٦) شکل


**اوومه پوښتنه:** په سازمان کي د موقف اړوند ده، چي د نمونې (105) کسان مامورين، (58) کسان مديران (25) کسان آمرين او (12) ئې رئيسان دي.




(٧) شکل


په پوښتنليک کي درېيمه برخه هغو پوښتنو ته ځانګړې سوې وه چي د کارمندانو د رضايت يا نارضايتي په اړه جوابونه ترلاسه سي. په دغه برخه کي ١٣ ترلي او ٣ خلاصي پوښتني شاملي وې چي د هغو پوښتنو د جوابونو تحليلي بڼه په لاندې ډول ښودل سوې ده.

**اتمه پوښتنه:** په سازمان کي د کارمندانو له دندې څخه رضايت پوښتل سوی، د رضايت کچه ئې د سلني پر اساس ښوول سوی، چي زموږ د (200) کسيزې نمونې څخه (42) کسان تر ټولو لږ (25سلنه) له سازمان څخه راضي ول، (88) کسان (50) سلنه، (59) کسان (75) سلنه او يوازې (11) کسانو سل سلنه پوره له سازمان څخه رضايت ښوولی وو. نو د دې ارقامو پر اساس موږ ويلای سو چي د خصوصي سکتور لويه برخه له سازمان څخه ناراضه ده، چي د نه رضايت عوامل به په راتلونکو پوښتنو کي جواب سي.





(۸) شکل

**نهمه پوښتنه:** د معاش څخه درضایت اړوند ده، چي د نمونې تر ټولو زیاته اندازه (90 کسان) فقط (25) سلنه رضایت لري، (54) کسان 50 سلنه رضایت ښیي، 45 کسان ۷۵ سلنه او یوازي (11) کسانو (100) سلنه رضایت ښوولی دئ. پر دې اساس موږ ویلای سو چي د خصوصي سکتور کارمندان له خپل معاش څخه ناراضه او د دوی ضروریات نه سي پوره کولای.





(۹) شکل

**لسمه پوښتنه:** د معاش د کم معاش د اغېز په اړه سوې، چي د همدې پوښتني په جواب کي د نمونې (118) کسانو ویلي چي د معاش کموالی ئې (75) سلنه کار اغېزمنوي. د دې ارقامو څخه مالومیږي چي د معاش کموالی د کارمندانو د عدم رضایت له عمده عواملو څخه ګڼل کیږي.





(۱۰) شکل

**يولسمه پوښتنه:** په دنده کې د ناراضه کوونکو عواملو اړوند ده، چي تر ټولو ډير (178) کسانو د معاش کموالی ښودلی دئ، ورپسې (161) کسانو سخت قوانين، (157) کسانو وظيفوي تداخل او (113) کسانو د مستقيم آمر چلند ناراضه کوونکي عوامل ګڼلي ول. د دې پوښتنې له جوابونو داسې معلوميږي چې په خصوصي سکتور کې هم کارمندانو له خپل مياشتني امتياز څخه نه دي راضي او د دوی ضرورتونه نه سي رفع کولای.





(۱۱) شکل

**دولسمه پوښتنه:** په سازمان کې د صلاحيت او مسؤوليت د تناسب په اړه سوې ده، چې له جواب ويونکو څخه (84) کسانو ويلي ول چې د دوی په دنده کې د صلاحيت او مسؤوليت مساواتو او تناسب ته لږ توجه کيږي. څرنګه چې د صلاحيت او مسؤوليت تر منځ تناسب په دنده کې د کارمند د رضايت سبب کيږي، نو په خصوصي سکتور کې د کارمندانو د صلاحيت او مسؤوليت تر منځ عدم تناسب د کارمندانو د نارضايتۍ سبب سوی دئ.





(۱۲) شکل

**دیارلسمه پوښتنه:** په تصمیم نیونه کي د ازادی په اړه سوې ده چي د جواب ویونکو څخه (105) کسانو ویلي چي فقط (50) فیصده ازادي لري، (48) کسان (25) فیصده او پاته کسان د (75) سلني څخه تر سل سلني پوري ازادي لري. څرنګه چي د دې پوښتني ارقام دا روښانه کوي چي زیاتو کسانو ویلي چي په تصمیم نیونه کي کمه ازادي ورکول کیږي، نو ویلای سو چي د تصمیم نیوني په برخه کي د کارمندانو کمه ازادي د کارمندانو د عدم رضایت له عمده دلایلو څخه ده.





(۱۳) شکل

**څوارلسمه پوښتنه:** د سازمان د قوانینو څخه د رضایت په موخه سوې ده، چي په جواب کي ئې تر ټولو زیاتو (103) کسانو ویلي چي د سازمان له قوانینو څخه فقط (50) سلنه راضي دي، (40) کسانو ویلي چي (25) سلنه او د نمونې پاته کسانو له (75) څخه تر (100) سلنه پوري د سازمان له قوانینو څخه راضایت ښودلی دئ.





(۱۴) شکل

**پنځلسمه پوښتنه:** د نورو له خوا د کارمندانو په دنده کې د مداخلې په اړه سوې چې د همدې پوښتني په جواب کې (135) کسانو چې د جواب ویونکو (67.5) سلنه ئې جوړوله په هو سره جواب کړې ده. د دې ارقامو څخه معلومیږي چې په خصوصي سکتور کې د وظیفوي تداخل کچه لوړه ده، چې دا هم د کارمندانو د عدم رضایت له عمده عواملو څخه ګڼل کیږي، ځکه چې د انسان فطرت له ازادۍ سره جوړ دئ.





(۱۵) شکل

**شپاړسمه پوښتنه:** د وظیفوي مداخلې څخه د کارمندانو د نه رضایت کچه مالومولو په اړه سوې ده، چې د همدې پوښتني په جواب کې (90) کسانو سل سلنه نارضایت ښوولی، (65) کسانو (75) سلنه او پاته کسانو له (25) او (50) فیصده پوري نارضایت ښوولی دئ. د همدې جوابونو څخه څرګندیږي چې په سازمان کې باید دندې په روښانه توګه ډیزاین سي، چې د وظیفوي تداخل مخه ونیسي.





(١٦) شکل

**اوولسمه پوښتنه:** د مستقیم آمر له چلند څخه د رضایت په پار سوې ده، چې (88) کسانو (50) سلنه، (25) کسانو (25) سلنه، (52) کسانو (75) سلنه او (35) کسانو (100) سلنه رضایت ښوولی دئ، چې د همدې پوښتنې له جوابونو څخه دا څرګندیږي چې په خصوصي سکتور کې د مسقیم آمرینو له چلند څخه کارمندان ناراضه دي.





(١٧) شکل

**اتلسمه پوښتنه:** د دندې د خوندیتوب په اړه ده، چې په جواب کې (106) کسانو د خپلې دندې خوندیتوب (50) سلنه، (44) کسانو (25) سلنه خوندیتوب (33)کسانو (75) سلنه او پاته (17) کسانو تر (100) سلنې خوندیتوب پورې یاد کړی وو، چې د همدې پوښتنې له جوابونو څخه څرګندیږي چې په خصوصي سکتور کې کارمندان د خپلې دندې د خوندیتوب په اړه کم باور لري.





(۱۸) شکل

**نولسمه پوښتنه:** د مکافاتو اړوند ده، چي د خصوصي سکتور د کارمندانو له مشخصي نمونې څخه (123) کسانو ويلي چي د دوی په سازمان کي هیڅ مکافات شتون نه لري، فقط (77) کسانو ويلي چي په سازمان کي ئي مکافات سته، مګر عادلانه نه دي، چي له همدې څخه څرګندېږي چي خصوصي سکتور د کارمندانو د مکافاتو او ترفیعاتو له پاره مناسبه طرحه نه لري، ترڅو د کارمندانو د رضایت سبب وګرځي.





(۱۹) شکل

**شلمه پوښتنه:** د مکافاتو د اغېز په اړه سوې، چي (112) کسانو ويلي چي مکافات ئي پر کار(100) سلنه تاثیر لري، (60) کسانو ويلي چي مکافات ئي پر کار (75) سلنه تاثیر لري او پاته کسانو د (50) څخه تر (25) سلني پوري تاثیر نبوولی دئ، چي د همدې څخه دا څرګندېږي چي مکافات په سازمان کي د کاري مؤثريت تر ټولو ښه وسیله ده.





**(۲۰) شکل**

**یوویشتمه پوښتنه:** خلاصه پوښتنه ده چي په سازمان کي د هغه عواملو په اړه چي د کارمندانو د نارضايتۍ سبب کيږي، سوې ده. د دې پوښتني په جواب کي تر ټولو زياتو (114) کسانو کم معاش په سازمان کي د کارمندانو د نارضايتۍ سبب ياد کړی وو. ورپسې په کارونو کي د نورو له خوا مداخله، دريم په دنده کي نه خونديتوب او اخيري ئې د کاغذپراني زياتوالی په سازمان کي د کارمندانو د عدم رضايت له عواملو څخه ياد کړی ول.





**(۲۱) شکل**

**دوه ویشتمه خلاصه پوښتنه:** په سازمان کي د عدم رضايت د اغېزو اړوند ده. د دې پوښتني په جواب کي ټولي هغه اغېزې چي د کارمند د عدم رضايت پر سبب کيږي، رامنځته کيږي. ټوول سوې چي لاندي په ګراف کي مالوميږي.




(۲۲) شکل

**وروستی درویشتمه پوښتنه:** د کارمندانو د رضایت د رامنځته کېدو په اړه سوې، چي د دوی په نظر په سازمان کي څه کول په کار دي، چي له سازمان څخه د کارمندانو رضایت رامنځته سي؟ چي په لاندي چارت کي ئې جوابونه لیدلای سئ. په هغو عواملو کي چي د کارمندانو د رضایت سبب کیږي، ډیرو (120) کسانو لوړ معاش (110) کسانو مکافات (90) کسانو صلاحیت او (80) کسانو په سازمان کي د عدل یادونه کړې وه.




(۲۳) شکل

## پایله

ټول سازمانونه (انتفاعي/غير انتفاعي) د خاصو اهدافو د تحقيق په منظور رامنځته کېږي. هڅه کېږي چي يادو اهدافو ته ځان ورسوي او د اهدافو په تحقيق کي د سازمانونو تر ټولو حياتي برخه، بشري منابع ده. ځکه د بشري منابعو د تحريک، هڅوني، مسلکيت او پوهي ته ځانګړې توجه کېږي. په سازمانونو کي د کارمندانو رضايت او عدم رضايت د کاري مؤثريت د ډېرېدو تر ټولو عمده اسباب دي. ځکه مو د کندهار د خصوصي سکتور دې ستونزي ته توجه واوښته، چي ولي اکثريت ځوانان د خصوصي سکتور په لمن کي دوامداره دنده نه تر سره کوي. د هر خصوصي سکتور له کارمند څخه چي د دندي د سابقې پوښتنه وکړې، په جواب کي به د يوه، دوو يا درو کلو يادونه وکړي. مخکي له ده څخه هم په لسګونو نور کارمندان د ده په موقف کي تېر سوي او له سازمان څخه پردي سوي، چي دا حالت په خصوصي سکتور کي د کارمندانو په نارضايتۍ دلالت کوي. ځکه مو وغوښتل چي دې (د کندهار په خصوصي سکتور کي د کارمندانو د عدم رضايت عوامل څه دي؟) پوښتني ته جواب پيدا کړو. په همدې موخه مو د کندهار د خصوصي سکتور په تعليمي او تحصيلي ادارو کي له دوه سوه کسانو څخه سمپل وټاکل او پر دوی باندي مو څېړنه تر سره کړه، چي د څېړني په پايله کي موږ ويلای سو چي د کندهار د خصوصي سکتور اکثريت کارمندان له خپلي دنده ناراضه دي. له يادي نمونې څخه د پوښتنپاڼې په مرسته چي (23) پوښتني ئې لرلې، جوابونه مو تر لاسه کړي، اتمه پوښتنه چي له سازمان څخه د کارمندانو د رضايت په اړه سوې چي (130) کسانو له (25) څخه تر (50) سلني پوري رضايت ښوولی وو. يوولسمه پوښتنه چي د ناراضه کوونکو عواملو په اړه سوې (178) کسانو ټيټ معاش، (161) کسانو سخت قوانين او (157) کسانو وظيفوي مداخله ياده کړې وه.(20 ,21 ,22 )خلاصي پوښتني وې، چي د کارمندانو څخه د دوی په نظر ناراضه کوونکي عوامل پوښتل سوي، چي ډېرو کسانو کم معاش، وظيفوي مداخله، د دندي نه خونديتوب او زياته کاغذ پراني ښوولې وه.

د دې څېړني په پای کي موږ خپلي پوښتني ته جواب تر لاسه کړ، چي په کندهار کي د خصوصي سکتور د کارمندانو د عدم رضايت د عواملو په اړه وه، چي تر ډېره حده مو هغه عوامل په ګوته او تحليل کړل چي تر ټولو ناراضه کوونکي عوامل چي دوی ئې يادونه کړې وه او يا د څېړني د اهدافو د تحقيق په موخه ئې موږ بايد تر لاسه کړو، هغه (کم او نامناسب معاش، د دندي نه خونديتوب، زياته کاغذپراني، د صلاحيت او مسؤوليت نه مساوات، وظيفوي مداخلې، سخت قوانين، د مستقيم آمر نامناسب چلند او داسي نورو) څخه عبارت دي. هغه اهداف چي موږ ئې بايد له دې څېړني څخه تر لاسه کړي وای په ښه توګه تر لاسه سوي دي. د هغوی له جملې څخه يو د کارمندانو پر کاري مؤثريت باندي د هغوی د عدم رضايت اغيزې مالومول و، چي د نمونې څخه پوښتل سوي و او هغوی د يادي پوښتني په جواب کي ويلي چي د کارمندانو عدم رضايت د سازمان د پرمختګ خنډ ګرځي او په چارو کي وروسته والی راځي، همدارنګه په سازمان کي د بې باورۍ د رامنځته کېدو سبب کېږي؛ کله چي کارمندان پر سازمان باندي بې باوره سي، د کارمندانو د سازماني تعهد د لمنځه تلو سبب کېږي، چي که کارمندان له سازمان سره تعهد وه نه لري، سازمان نه سي کولای چي پرمختګ وکړي او داسي حالت رامنځته کېږي چي په هغه کي کارمندان يو په بل پسې دنده ترک کوي.

په افغانستان کي د څېړنو او څېړونکو پر وړاندي ډول ډول ستونزي سته، چي د معلوماتو راټولول سختوي، ځکه د څېړنو په اړه عامه پوهاوی نسته او خلک څېړنو ته په لوی ارزښت نه دي قايل. همدا وجه ده چي خلک له څېړونکو سره د معلوماتو په ورکولو کي مرسته نه کوي. ډېر وخت دقيق او کره معلومات هم پټوي، چي دا د څېرونکي له پاره يو بل چلينج دئ چي څه ډول له خلکو څخه دقيق او مؤثق معلومات تر لاسه کړي.

## مأخذونه

رابنس، ستيفن،(1386). تيوری سازمان.ترجمه سيد مهدی الوانی، حسن دانايی فرد، تهران: انتشارات صفار-اشراقی

توسلی، غلام عباس(1375). جامعه شناسی کاروشغل.تهران: سمت.

محمد زاده، عباس و مروژان، آرمن(1375). رفتار سازمانی نگرش اقتضايی.تهران: انشارت دانشگاه علامه ای تباه تباهی.

بزنجاني، ډاکټر برزو فرهيد او ډاکټر موسی مهدوی او مصيب عباسی(1390) (عوامل مؤثر بر رضايت يا عدم رضايت شغلی کارکنان فاوای نزسا ): انتشارات

زکی، محمدعلی، (1387) بررسی تحقيقات رضايت شغلی درايران، نشر در فصلنامه پژوهش مديريت منابع انسانی جامع حسين، سال اول، شماره (1).

سپاسی، داکتر ناصر مير، (1378ش.)، تناسب نوع شخصيت و نوع شغل، چاپ اول، ايران، تهران.

http//:www.zoomit.ir

http://ravanshenasionline.persianblog.ir

# Factors of Employee Dissatisfaction in Kandahar Private Education Sector

By Anwari, Salami and Aryan

Lecturers

**Abstract**

Human resources are the most vital part of the organization. Organizations are now trying to find out how to increase the effectiveness of human resources and make the most of it. The increase in the effectiveness of the human force depends on the satisfaction and dissatisfaction, as in this study, most of the factors are mentioned which causes dissatisfaction in the private education sector in Kandahar. It has been studied that the most important ones (the inequality between the authority and responsibility given to employees in the organization, the harsh behavior of the direct officer, interference in the work of others, strict and harsh laws and lack of salaries) have been mentioned. Many people are dissatisfied with the question of what factors make you fit in your job? This research is done based on library and field methods. Data is collected through 200 questionnaires which were distributed to private educational center. The purpose of this study was to investigate the factors of dissatisfaction among employees in the private sector, the impact of employee dissatisfaction on the organization, the impact on the effectiveness and effectiveness of employees' work, and the dissatisfaction with organizational commitment, which we have achieved to a large extent.

**Keywords**: Private sector, job, employee, Job satisfaction

# په کنـدهار کي اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي کچه او څرنګوالی

نويدالرحمن سروري
nawidurrahmansarwary@gmail.com
0780606220
عابدالرحمن حبيبي
abidrahmanhabibi@gmail.com
0731007677
د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي، د حقوقو څانګي استادان

**لنډيز**

ښځي د ټولني د نارينوو په څېر د اساسي حقوقو څخه برخمني دي او د اسلامي شريعت، ملي قوانينو او نړۍوالو اعلاميو د ښځو اساسي حقوق په رسميت پېژندلي دي. له بده مرغه په افغانستان کي مخصوصاً په کندهار ولايت کي د ټولني د بېسوادۍ لوړه کچه او ناوړه دودونه د دې لامل ګرځېدلي چي ښځي نه سي کولای د خپلو اساسي حقوقو نه ګټه پورته کړي او آن د صحي خدماتو څخه د ګټي پورته کولو په موخه له کوره وتل د ښځينوو له پاره لويه ننګونه ده. د دې له پاره چي د کندهار ولايت په کچه د ښځو د اساسي حقوقو په وړاندي موانع وپيژنو، دا چي د کومو لاملونو په پايله کي افغانان مخصوصاً عوام د ښځو د اساسي حقوقو څخه تر ډېره پوري بې خبره پاته دي او دا چي څرنګه کولای سو د ښځي د حقوقو په وړاندي موانع او خنډونه له منځه يوسو، د دې څېړني په بهير کي تر غور لاندي نيول سوي دي. د دې څېړني د ترسره کولو موخي د ښځو د اساسي حقوقو پېژندل، په ټولنه کي د ښځو د رول اهميت بيانول، د کندهار ولايت په کچه اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي په وړاندي موجود خنډونه معلومول او په کندهار ولايت کي د ښځو د حقوقو په وړاندي د خنډونو د منځه وړلو لاري چاري موندل دي. دا څېړنه تر يوه حده کتابتوني او نوره په ميداني شکل تر سره سوې ده، چي په کښې ۳۵۰ پوښتنليکونه وېشل سوي دي او هم د اړوند ارګانونو (د ښځو چارو رياست، محاکم، څارنوالي، محبس، عدلي رياست، قوماندانې، ملي امنيت، د امن خونه، ميډيا(راديو او تلويزون)، معارف رياست او تجارت خونه) د چارو او کړنو څخه عملاً مشاهده سوې ده. په دې څېړني سره دښځو اساسي حقوق او هغوی ته د لاسرسي کچه معلومه سوې ده، او هم اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي په وړاندي شته خنډونو په هکله معلومات ترلاسه سوي دي.

**مهم نقاط:** اساسي حقوق، ښځه، کندهار، حقوقو ته لاسرسی، پر حقوقو تېری

## پېژندنه

انسان يو ټولنيز موجود دئ او بغير له ټولني ژوند نه سي کولای، ټولنه په خپل وار له ښځينه او نارينه څخه رامنځته سوې ده. کله چې انسان ټولنيز ژوند ته مخه کړه نو يو شمېر حقوق او امتيازات ئې لاسته را وړل. د منظمو او متمدنو ټولنو په رامنځته کېدو سره انسانان په دې پوه سول چې يو شمېر حقوق د انسانانو د اساسي حقوقو په حيث بغير له دې چې کوم قانون يا قانونګذار ارګان ئې په رسميت وپېژني، انسانانو ته پيژندل سوي دي او ښځې هم د ټولنو د غړو په حيث د دې حقوقو څخه برخمني دي او بايد د دوی اساسي حقوقو ته درناوی وسي.

له بده مرغه په انساني ټولنه کې يو شمېر وګړي د ټولني د سرطاني غړو په حيث د نورو حقوقو او امتيازاتو ته درناوی نه کوي، که هغه اساسي حقوق وي او که اکتسابي. ښځې د ټولني د يو زيان ليدونکي قشر په صفت تر ډېره پوري خپلو اساسي حقوقو ته پوره لاسرسی نه لري او په ځينو حالاتو کې حتی د خپلو اساسي حقوقو څخه بې خبره وي. زموږ د ګران هيواد افغانستان د ټولني د بيسوادۍ لوړه کچه او ناوړه دودونه د دې باعث ګرځيدلي تر څو ښځې په زياتره حالاتو کې د خپلو اساسي حقوقو لکه: د ژوند کولو حق، د تعليم حق، د شکنجې او اذيت څخه د مصؤنيت حق، د بيان د ازادۍ حق، صحي خدماتو ته د لاسرسي حق او د ملکيت درلودلو د حقوقو څخه بې برخې او حتی بې خبره پاته دي.

په دې څېړنه کې موږ د کندهار ولايت په کچه پورته ذکر سويو حقوقو ته د ښځو د لاسرسي په اړه پلټنه کړې، بل دا چې په کندهار ولايت کې هغه لاملونه چې د دې باعث ګرځيدلي دي چې ښځې د خپلو حقوقو څخه د ګټې پورته کولو څخه محرومي او حتی بې خبره کړي، پلټل سوي دي. په دې څېړنه کې موږ په دې اړه چې په کندهارۍ ټولنه کې د ټولني وګړو د ښځو او نارينوو کوم ګامونه د ښځو د حقوقو د تامين له پاره پورته کړي دي، هم مفصل بحث او تحليل سوی دئ.

## د څېړني اهميت او داړتيا دلايل

د دې څېړني اهميت په دې کې دئ چې د ښځو په هکله چې په ټولنه کې ځيني ستونزي موجودي دي کله، اساسي حقوقو ته د ښځو نه لاسرسی، د ټولني په پرمختګ کې د ښځو رول او ونډه په نظر کې نه نيول، د ښځينه قشر د اساسي حقوقو څخه د ښځو او نارينوو بې خبري، د ټولني ناوړه دودونه او د بې سوادۍ لوړه کچه چې د ښځې د حقوقو د نقض سبب ګرځي، ددې ټولو عوامل او د هغوی حللاري وموندل سي.

په دغه څېړني سره ټولو هغو ستونزو او مشکلاتو ته د حل لاره پيدا سوې ده چې د ښځو اساسي حقوقو ته په لاسرسي کې ئې رول درلودئ او د دې ترڅنګ د ښځو و اساسي حقوقو ته د لاسرسي کچه معلومه سوې ده چې په کندهارۍ ټولنه کې تقريباً ۴۷ سلنه ښځې اساسي حقوقو ته لاسرسی لري، ۵۳ سلنه ښځې خپلو اساسي حقوقو ته لاسرسی نه لري.

ښځې د ټولني پوره کوونکي دي او يوه ټولنه بغير د ښځې او يا هم يوازي د نارينوو په واسطه نه سي رامنځته کېدای، البته هر انسان بغير له دې چې جنسيت ئې په نظر کې ونيسو د تعليم حق، د ژوند کولو حق، عدلي او قضايي ارګانونو ته د لاسرسي حق، د ملکيت درلودلو حق، د بيان د ازادۍ حق او د شکنجې او اذيت څخه د مصؤنيت حق لري.

د اسلام مقدس دين، ملي قوانينو او نړۍوالو اعلاميو د نارينوو په څېر ښځو ته هم حقوق او امتيازات ورکړي دي او ښځو ته ئې د ټولني د نيمايي وجود په صفت اشاره کړې ده، خو له بده مرغه دا چې په افغانستان کې د بيسوادۍ کچه لوړه ده او ځيني ناوړه دودونه پر حاکم دي نو دغه حقوق اکثره د ټولني د سرطاني غړو او مجرمينو له خوا نقض او تر پښو لاندي کيږي.

د کندهار په لرغوني ولایت کې ښځې تر ډېره پورې د خپلو حقوقو څخه بې خبره پاته دي او آن نارینه دا ننګ بولي چې ښځې دې د کور څخه بهر تعلیم وکړي او یا هم د صحي خدماتو څخه د ګټې اخیستلو په منظور له کوره ووځي. د ښځو اساسي حقوق په نظر کې نه نیول کیږي او په ځینو مواردو کې د ښځو بې خبري خپلو اساسي حقوقو څخه د دې لامل ګرځي ترڅو ښځې د خپلو حقوقو نقض او د مقابل لوري ظلم او تېری د عمر تر پایه ومني او بالاخره د ټولنې له پاره دا بې خبري او د تیرې منل د یو ناوړه دود په حیث وپېژندل سي او د اوږد مهال له پاره د ټولنې زیان منونکی قشر یعني ښځې د دې بې خبرۍ او تیرې ښکار وګرځي .

د پورته ذکر سوو ستونزو په نظر کې نیولو سره دا یو ضروري امر ګڼل کیږي چې اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي په اړه هر اړخیزه څېړنه چې د ټولنې د واقعیتونو پر بنسټ وي، تر سره سوې ده. د پورته ذکر سوو لاملونو د ښځو د اساسي حقوقو د نقض نور هغه لاملونه چې د ښځو حقوقو ته د لاسرسي په اړه ئې ستونزې جوړ ولې، په ښه توګه پېژندل سوي دي او بل دا چې د یادو حقوقو په اړه د ښځو او نارینوو د ناخبرۍ لاملونه معلوم سوي دي او د دې څېړنې په واسطه د کندهار ولایت په کچه د ښځو د اساسي حقوقو په وړاندې خنډونه او موانع پېژندل سوي دي.

### د څېړنې موخې

- د ښځو د اساسي حقوقو پېژندل.
- په ټولنه کې د ښځو د رول اهمیت بیانول.
- د کندهار ولایت په کچه اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي په وړاندې موجود خنډونه معلومول.
- په کندهار ولایت کې د ښځو د حقوقو په وړاندې د خنډونو د له منځه وړلو لارې چارې موندل.

### د څېړنې پوښتنې

- ایا ښځې د خپلو حقوقو په اړه معلومات لري؟
- ایا په کندهار ولایت کې ښځې خپلو اساسي حقوقو ته لاسرسی لري؟
- ایا په کندهار ولایت کې د ښځو د حقوقو د تامین له پاره کار ترسره سوی دئ؟
- په کندهار ولایت کې ښځې خپلو اساسي حقوقو ته په کومه اندازه لاسرسی لري؟

### د څېړنې فرضیه

داسې څرګندیږي چې په کندهار ولایت کې ښځې تر ډېره پورې له خپلو اساسي حقوقو څخه بې برخې دي.

### پخوانیو اثارو ته کتنه

د دې څېړنې څخه مخکې په همدې نامه په کندهار ولایت کې کومه څېړنه نه وه ترسره سوې، بیا هم په دې اړه ځینې لیکنې سوې دي چې دلته ئې یادونه کوو. په اسلام کې د ښځې حقوق کتاب چې په ۱۸ ټوکونو کې چاپ سوی دي، یوازې هغه د ښځو حقوق معرفي کړي دي اما حقوقو ته د ښځو لاسرسي کچه په هغه کې نه ده معلومه سوې.

ښځه او اسلام، قاضي محمد حسن حقیار، نوموړی کتاب چې په هغه کې اسلام ښځې ته څومره لوړ او عالي حقوق ورکړي، ښځه ئې د ټولنې نیمایي قشر بللې ده.

آیت الله مطهري، نظام حقوق زنان در اسلام، (۱۳۸۷ل.) چاپ سوی دئ. دا کتاب د ښځو حقوق ئې په اسلامي نظام کې واضح کړي دي، هغه ئې ستایلې ده، د دې ترڅنګ ئې ښځه د ټولنې د ملا تیر حساب کړې ده، ولې هغه خپل حقوقو ته لاسرسی چې ورته لري هغه په کښې نه دي معلوم سوې.

د ښځي حقوق په اسلام کي، احمد شاه «پوپلزی»، (۱۳۸۰ل.) کال کي چاپ سوی دئ، نوموړی کتاب چي ليکل سوی يوازي ئې د ښځو اسلامي حقوق معرفي کړي دي.

د ښځو مالي حقوق، حافظ نوراحمد الدين سالارزی، المکتب تعاون لدعوه و الارشاد، سعودي عربستان- رياض. نوموړي څېړني چي ليکل سوي يوازي د ښځو پر مالي حقوقو او ازادۍ باندي ليکل سوي چي ټول اسلامي جنبه لري، هغه حقوق چي ښځه ئې په مالي برخه کي لري راپيژندلي دي.

البته په يادو اثارو کي د ښځو د حقوقو د پېژندلو په اړه د يادو حقوقو په وړاندي د نارينوو وجايب او د ښځو د وجايبو په اړه بحث سوی دئ. په پورتنيو اثارو کي د کندهار ولايت په کچه د ښځي  حقوق او د دې حقوقو په وړاندي د شته موانعو په اړه په کښېي بحث نه دئ سوی او نه هم په پورته ذکر سوو اثارو کي اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي کچه نه ده په کښېي معلومه سوې.

زموږ څېړنه په کندهارۍ ټولنه کي د ښځو و اساسي حقوقو ته د لاسرسي په اړه سوې ده، چي په هغه کي اساسي حقوق پېژندل سوي دي، د دې ترڅنگ هغه لاملونه په گوته سوي چي اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي مخنيوی کوي. د هغوی حل لاري پيشنهاد سوي دي، د دې ترڅنگ هغه کچه معلومه سوې چي د کندهار په ټولنه کي ټول ټال څومره ښځي خپلو حقوقو ته لاسرسی لري.

## د څېړني تگلاره

دغه څېړنه د کيفي او کمي څېړنو گډه (مختلطه) ډول ده چي د څلورو مياشتو په موده کي په کندهار ښار کي ترسره سوې ده. دغه څېړنه تر يو حده کتابتوني او نوره په ميداني شکل ترسره سوې ده. په ياده څېړنه کي د لاندي ارگانونو له چارواکو او کارمندان او مراجعينو څخه د پوښتنپاڼو په واسطه معلومات راټول سوي دي، چي عبارت دي له: محاکم، محبس، عدلې رياست، د ښځو چارو رياست، د امن کور، د بشري حقوقو مستقل کميسيون، ميډيا، مکتبونه مدرسې او نور. د کرونا د موجوديت او قرنطين محدوديتونو له کبله يوازي د پوښتنپاڼو څخه استفاده سوې ده او مرکو ته ځای نه دی ورکول سوی. په دې څېړنه کي د ٦۰۰ کسيز نفوس څخه ۴۰۰ تنه د تصادفي او د خاص هدف ميتودونه په کارولو سره ټاکل سوي دي.  د نوموړي څېړني اکثريت (۸۰ سلنه) برخه په ښځينه قشر کي ترسره سوې ده، چي په هغو کي ډېر يو له ۲۰ څخه تر ۳۰ کلونو پوري عمرونه درلودل او پاته (۲۰سلنه) برخه ئې نارينه ول، چي مختلف عمرونه ئې درلودل. په نوموړې څېړنه کي راټول سوي معلومات مو د (MS. Excel) سره تحليل او تجزيه کړي دي. په دغه څېړنه کي حقوقي او اخلاقي اړخونه رعايت سوي دي چي څېړنه په پوره صداقت، ريښتنولۍ، صبر، زغم، شوق، رغبت او امانتدارۍ سره ترسره سوې ده. د څېړني ټول اصول په کښېي مراعات سوي دي او د پوښتنليکو د وېش پر مهال د ښځينو او نارينوو د شخصي حريم په نظر کي نيولو سره د څېړني اړوند ټولي چاري په مؤدبانه شکل سره تر سره سوي دي.

## د ښځو اساسي حقوق او هغو ته د ښځو لاسرسی

ښځه هم د نارينه په څېر انسان دئ او د انسان په څېر د ژوند تېرولو حق لري، چي ښځه هم د نارينه په څېر د حقوقو درلودونکې ده، دلته په درو برخو کي د ښځو حقوق بيانيږي.

### الف: د پلار په کور کي د ښځي حقوق:

په افغانۍ ټولنه کي ښځه د داسي انسان نوم دئ چي کله دنيا ته راځي نوکورنۍ ئې په پيدايښت باندي ژور خپگان  ښکاره کوي. په داسي حال کي چي که ښځه نه پيدا کېدای نو نارينه به هم نه وای. همدا ښځي دي چي کورنۍ ته خوښي او خوشحالي وربخښي، نارينه زېږوي او همدا نارينه دي چي ولسمشر، وزير، والي، ولسوال، عالم او رهبر جوړيږي خو ښځي بيا هم د محروميتونو ښکار وي. د پلار په کور کي ښځه ډېر حقوق لري، چي په لاندي ډول ئې د ځينو يادونه کيږي:

۱. د پلار په کور کي د ښځي اولني حق دا دئ چي څرنګه کورنۍ د خپل نارينه ماشوم په زيږېدو خوشحالي کوي، همداسي بايد د ښځينه ماشوم په پيدايښت هم خوشحالي ښکاره کړي.
۲. څرنګه چي کورنۍ په نارينه ماشوم باندي د ابتدايه زده کړو څخه تر لوړو زده کړو پوري کوي، همداسي په لور او خور باندي هم بايد زده کړي وکړي. دا د کورنۍ له پاره کوم عيب نه دئ، ځکه چي دا حق ښځي ته د اسلام مبارک دين او اساسي قانون ورکړی دئ. د يو مبارک حديث شريف مفهوم دئ، چي د علم او پوهي لاس ته راوړل په نارينه او ښځينه دواړو باندي فرض دي نو چي ښځو ته د زده کړي حق د اسلام مبارک دين ورکړی دئ، پلار، ورور يا خاوند دا حق نه لري چي له دوی څخه ئې واخلي.
۳. لکه څنګه چي کورنۍ کوښښ کوي د زوی له پاره په ښه کورنۍ کي د هغه په رضايت او خوښه واده وکړي، همدغسي خور يا لور هم د پلار په کور کي دا حق لري چي په ښه کورنۍ کي د هغې په خوښه ورته خاوند وکړي، نه د زور او جبر له لاري چي يو چا ته ئې په بدې کي، د ډېرو پيسو په بدل کي يا د تېر عمر سپين ږيري ته پرته د هغې له خوښي ور کړل سي، چي دا کار ډېر وختونه د ښځي د ځان وژني او نورو بدو پيښو لامل سوي دي (سعيد ،۲۰۱۸).
۴. د پلار په کور کي د ښځي بل حق ميراث دئ. د اسلام مبارک دين ښځي ته د ميراث حق ورکړی دئ. ښځه د پلار له کور څخه هم ميراث اخلي او د خاوند له کور څخه هم خو په افغاني ټولنه کي ډېر کم خلک داسي دي چي د اسلام د مبارک دين دغه امر پر ځان عملي کوي. زياتره ئې ښځو ته د ميراث حق نه ورکوي او د ځان له پاره د ښځي دا حق داسي حلال ګڼي لکه اسلام چي ئې په اړه هيڅ امر نه وي کړی (سعيد، ۲۰۱۸).

### ب: د خاوند په کور کي د ښځي حقوق

#### ۱- مهر:

مهر هغه مال يا پيسې دي چي د نکاح تړلو وروسته د خاوند له خوا ښځي ته ورکول کيږي. الله تعالی فرمايي: « وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً» (سورت النساء: ۴) ژباړه: د ښځو مهر په داسي حال کي چي عطيه او بخشش دئ په رضا او رغبت سره ئې ورکړئ. مهر د نکاح اهميت او د ښځي د عزت ساتلو په خاطر په نارينه وو باندي فرض دئ. ښځي ته مهر ورکول دا مانا لري چي خاوند د ښځي سره ځانګړې مينه لري، د ژوند ستونزي ئې ليري کوي او قدرداني ئې کوي. هر هغه شی چي قيمت ولري مهر کېدای سي، منقول وي او که غير منقول. (عدالتخواه،۱۳۹۵ ، ۱۹۲) د افغانستان د مدني قانون په (۱۰۰) ماده کي د مهر په اړه راغلي: «هر هغه مال چي د تملک قابليت ولري، مهر ټاکل کېدای سي.) (د افغانستان مدني قانون، ۱۳۵۵، ۱۰۰ماده) د مهر د زياتوالي اندازه نسته خو کم ئې غوره دئ، ځکه پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: (آن اعظم النكاح بركة أيسرهن مؤنه) ژباړه: غوره او برکت ناکه نکاح هغه ده چي لګښت ئې کم وي (تهانوي،۱۳۸۱ل.، ۱۵۴۰). ډېر مهر د ښځي په ګټه نه دئ، ځکه چي په ډېر مهر سره ئې خاوند ته تکليف رسيږي، هغه پوروړی کيږي. د مهر لږه اندازه د امام ابوحنيفه په اند د سپينو زرو لس درهمه دي (عدالتخواه، مخکنی، ۱۹۴).

#### ۲- د نفقې حق (خوراک او څښاک)

ښځه پر خاوند باندي د نفقې حق لري. په نفقه کي خوراک او څښاک ټول شامل دي (عدالتخواه، مخکنی، ۲۰۴). اسلام د هغه دين نوم دئ چي د انساني ژوند ټولو اړخونو ته ئې اصولي او منطقي چوکاټ ټاکلی دئ. الله تعالی فرمايي: «أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ» (سورت الطلاق، ٦). ژباړه: د استوګنځي سره سم هغوی ته تيارکړئ په هغه ځای کي چي تاسو اوسېږئ، له خپل مالي توان سره سم هغوی ته زيان مه رسوئ، خو ستونزي او تنګي پر راسي او که اميندواره وي، نفقه ورکړئ هغوی ته، څو چي ئې حمل ليري سي.

له حضرت عایشې څخه روایت دئ چي د ابي سفیان مېرمن «هند» رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او وې ویل: ای د خدای تعالی رسوله؛ ابوسفیان بخیل سړی دئ، ما او زوی ته مي دوډۍ نه راکوي، مګر د هغه له اجازې او خبرتیا پرته د هغه له مال څخه ئې لاسته راوړم، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغومره چي ستا او ستا د زوی ګذاره په وسي، په ښه توګه ئې ورڅخه واخله. (البخاري،۷۵ )

همدارنګه اسلام له ښځي څخه د نفقې د ګټلو جبر پورته کړی او د دې نفقه او د اوسېدلو ځای ئې پر خاوند فرض ګرځولی دئ. د مسلمانې ښځي له پاره دا ضروري نه ده چي خپل ځان ته به پخپله نفقه ولټوي، بلکي دا مسؤلیت تر نکاح مخکي د دې د پلار، ورور او نژدې قریب او تر نکاح وروسته د دې د خاوند پر غاړه دئ (شیخ احمدي،۱۳۹۲ل.، ۳۰).

### ۳- د مسکن حق (د اوسېدو ځای)

ښځه پر مېړه حق لري چي د اوسېدو له پاره ورته یو لازم او مناسب ځای برابر کړي. اول باید د ښځي له پاره ځانګړی کور وي، که ځانګړی کور نه وي، نو په کور کي باید ځانګړې خونه ولري، تر څو هغه په کښې د خپل ژوند د لومړنیو ضرورتونو له پاره استفاده وکړي. خاوند دا حق نه لري چي ښځه د نورو خپلوانو سره په یوه کوټه کي اوسېدلو ته مجبوره کړي (شیخ احمدي، ، ۳۷). همدارنګه د مدني قانون ۱۱۵ او۱۱٦ مادې هم د اوسېدو د ځای په اړه داسي صراحت لري: «زوج له خپل مالي توان سره سم به زوجې ته مناسب استوګنځي برابروي.»، «که چیري شخص له یوې زوجې زیاتي ولري، د هغو له رضایت پرته نسي کولای هغوی په یوه واحد استوګنځي کي په ژوند کولو مجبوره کړي.» (افغانستان مدني قانون ۱۱۵ او۱۱٦ مادې).

### ۴- د لباس حق (کالي او جامې)

خاوند مکلف دئ چي د خپلي ښځي له پاره د خپل اقتصادي حالت په نظر کي نیولو سره د هغې له پاره د خوښې مطابق لباس او جامې واخلي. الله تعالی فرمایي: «أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ» (سورت الطلاق،٦). ژباړه: د استوګنځي سره سم هغوی ته تیار کړئ، په هغه ځای کي چي تاسو اوسېږئ، له خپل مالي توان سره سم هغوی ته زیان مه رسوئ، څو ستونزې او تنګي پر راسي او که امیندواره وي نفقه ورکړئ هغوی ته، څو چي ئې حمل لیري سي.» د افغانستان مدني قانون ۱۱۸ماده داسي صراحت لري: «د زوجې نفقه شامله ده؛ له خوړو، جامو، استوګنځي، متناسبه درملنه، د زوج له مالي توان سره سم برابر سي.» (مدني قانون، ۱۱۸ ماده).

### ۵- د مکلیت حق

همدارنګه اسلام ښځي ته د خپل مال د ملکیت حق ورکړی دئ. په اسلام کي د نارینه او ښځي اړیکي د مینې، صمیمیت او محبت اړیکي دي. الله تعالی ښځي ته تر دې اندازې عزت ورکړی چي حتی د هغې خلق له خپلو نښو څخه یوه نښه ګڼي او فرمایي: «وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ» (سورة الروم، ۲۱) ژباړه: او ځیني له نښو د قدرت د دغه الله تعالی دا دئ چي پیدا کړي ئې دي تاسي ته له نفسونو ستاسو ښځي له پاره د دې چي مائل سئ دوی ته (او مطمئن اوسئ) او ګرځولي ئې ده په مینځ ستاسي او د ښځو کښې دوستي او مهرباني بېشکه په دې کښې خامخا ډیري نښې د قدرت دي له پاره د (هغه) قوم چي فکر کوي، د الله تعالی په صنع کي.

### ٦- خاوند له ښځي سره په ښه رویه کولو امر کول

دا د ښځي حق دئ او پر خاوند لازم دي چي ښکه او حسینه رویه ورسره وکړي او شریفانه ژوند ورسره تېرکړي، دواړه یو بل ته احترام ولري. لکه مخکي چي یادونه وسوه تر اسلام مخکي سړیو پر ښځو مالکانه تسلط درلود، چي د نیولو سربېره به ئې ځیني وخت

د خپلې ښځې د وژلو حق هم درلود خو اسلام د ښځې او خاوند تر مينځ دا ډول واکمني له مينځه يووړه، دا ئې د خاوند او خاوند ئې د دې لباس وګاڼه (عدالتخوا، ١٣٩٥، ٢٠٦).

### ٧- د میراث حق

تر اسلام مخکې د جاهليت په دوره کې ښځې له ميراث څخه محرومه وې، خو کله چې اسلام راغلی، دا بد رواج ته ئې هم خاتمه ورکړه او هغې ته ئې د ميراث وړلو حق ورکړ، الله تعالى فرمايي: «لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ ۚ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا» (سورة النساء، ٧)

ژباړه: (د نارينه ؤ لپاره په هغه متروکه (ميراث) کې برخه ده چې مور، پلار او خپلوان پريښې وي او د ښځو له پاره هم په هغه ميراث کې برخه ده چې مور، پلار او خپلوانو پريښې وي، که لږ وي او که ډيره او دا برخه (د الله له لوري) ټاکل سوې ده).

### ج: د ټولنې په وړاندې د ښځې حقوق

#### ۱) ښځې ته د تعذيب نه رسولو حق:

ښځه د ټولنې نيمه برخه بشپړوي او په دې هم پوهيږو چې د ښځې پرته ژوند ګران او ناممکن دئ. د نارينه په څېر ښځه هم د ژوند بې شمېره ضرورتونه لري. هره ښځه په يوې کورنۍ پوري اړه لري، د يو چا لور وي، د يو چا خور وي او د يو چا مېرمن وي. هيڅ ځوان، مشر او کشر ته نه ښايي چې د يو انسان په څېر، د يو مسلمان په څېر او د يوه افغان په څېر کومې ښځې ته په بازار، لار، دفتر او کارځايونو کې تکليف ورسوي (عدالتخوا، مخکنۍ، ٢٠٩).

#### ۲) د ظلم او تجاوز څخه د مخينوي حق:

که څه هم د ظلم او تجاوز څخه د ښځو ساتل د دولت حق دئ خو تر څنګ ئې پر ټولنه هم دا حق سته چې د ښځې حق د کورنۍ يا دولت له خوا تلف نه سي او ټولنه ئې په وړاندې مبارزه وکړي؛ مثلاً د ښځې صحرايي محاکمه او په خپل سر د يو چا له خوا د ښځې محاکمه کېدل، د داسې ظلمونو او وحشتونو په وړاندې بايد ټولنه ودريږي او د دغسې ظلمو او وحشتو څخه د ښځو د خلاصون او ژغورنې له پاره په ګډه مبارزه وکړي (شيخ احمدي، مخکنۍ، ١۴).

#### ۳) د زده کړو د زمينې برابرولو حق:

همدارنګه اسلام ښځې ته د ديني تعليم اجازه ورکړې ده، نه يوازې اجازه بلکې پر هغې باندې ئې ديني تعليم فرض کړی دئ. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (کسب العلم فريضة على کل مسلم) (رواه الألباني) ژباړه: (د ديني علم حاصلول پر هر مسلمان (نارينه او ښځينه) فرض دئ.)(طبراني المعجم الکبير، ١٠۴٣٩ شمېره حديث)

لکه څنګه چې نارينوو ته د دولت له خوا د زده کړې زمينه او امکانات برابريږي، په همدې ډول ښځې هم پر دولت حق لري چې ورته د زده کړو زمينې برابرې کړي. دولت بايد د عامه پوهاوي له لارې د ښځو د زده کړو په اړه ټولنې او کورنۍ وهڅوي. دولت مکلف دئ چې د رسنيو او عامه پوهاوي له لارې په ښار او ليرو پرتو سيمو کې د زده کړې پر اهميت، ارزښت او ضرورت باندې خلک وپوهوي او د ښځو له پاره د زده کړې تر لاسه کولو زمينه برابره کړي (سعيد، ٢٠١٨).

**۴) د کاري زمينې برابرولو حق:**

ښځي ته د اسلام مبارک دين، د افغانستان مدني قانون او اساسي قانون د کار او تجارت کولو حق ورکړی دئ. د اسلام په تاريخ کي ښځو د تجارت او کار کولو له لاري ډيري شتمنۍ ګټلي دي. د افغانستان اسلامي دولت مکلف دئ چي ښځو ته کاري زمينې برابري کړي او د هغوی له شتمنيو او تجارتي مالونو څخه ساتنه وکړي (سعيد،۲۰۱۸).

**۵) د ظلم او تجاوز څخه د ساتني حق:**


په افغاني ټولنه کي د ښځو په وړاندي ظلم، تجاوز، تېری او بې عدالتي هيڅ ساری نه لري؛ پر مخونو ئې تېزاب شيندل کيږي، پزي، شونډي او غوږونه ئې پرې کيږي او د بدن غوښې ئې په اوسپنيزو ابزارو باندي پرې کيږي. د همدې ظلمونو او وحشتونو څخه د خلاصون له پاره ښځي خپلو ځانو ته اور اچوي، ځان زينديۍ کوي او ځان وژني کوي. پر دولت باندي د ښځو دا حق دئ چي د هر ډول ظلم او وحشت څخه د هغوی ساتنه او حفاظت وکړي (سعيد، ۲۰۱۸).

## په کندهار ولايت کي اساسي حقوقو ته د ښځو د لاسرسي کچه او څرنګوالی د څېړني له لاري د ترلاسه سوي ډاټا تحليلي برخه (Data Analysis)

د کندهار په لرغوني ولايت کي ښځي تر ډېره پوري د خپلو حقوقو څخه بې خبره پاتي دي او ان نارينه دا ننګ بولي چي ښځي دي د کور څخه بهر تعليم وکړی او يا هم له صحي خدماتو څخه د ګټې اخيستلو په منظور له کوره ووځي، د ښځو اساسي حقوق په نظر کي نه نيول کيږي او په ځينو مواردو کي د ښځو بې خبري خپلو اساسي حقوقو څخه د دې لامل ګرځي تر څو ښځي د خپلو حقوقو نقض او د مقابل لوري ظلم او تېری د عمر تر پايه ومني او بالاخره د ټولني له پاره دا بې خبري او د تيري منل د يو ناوړه دود په حيث وپيژندل سي او د اوږد مهال له پاره د ټولني زيان منونکی قشر يعني ښځي د دې بې خبرۍ او تيري ښکار وګرځي.


په دغه څېړنه کي د لاندي ذکر سوو ارګانونو له چارواکو،کارمندانو او مراجعينو څخه د پوښتنپاڼو په واسطه معلومات راټول سوي دي، چي عبارت دي له: محاکم، محبس، عدلي رياست، د ښځو چارو رياست، د امن کور، د بشر حقوقو مستقل کميسيون، ميډيا، مکتبونه او مدرسې. په دغه څېړنه کي ۴۰۰ تنه پوښتل سوي دي چي ۸۰ سلنه ئې ښځينه وې. په پوښتنپاڼه کي ۱۰ بېلابيلي پوښتني ځای پر ځای سوي وې چي تحليلي برخه ئې په لاندي ډول ده.

**اوله پوښتنه:** د کندهار ولایت په کچه ښځي د کومو حقوقو څخه برخمني دي؟





لومړي شکل ته په کتو سره تقرباً ۲۱٦ کسانو چي ٦٦,٧ سلنه کیږي په جواب کي ویلي چي زموږ ښځي د تعلیم څخه برخمني دي، وجه ئي داده چي په ښاري سیمو کي ښوونځي موجود دي او همدارنګه په کلتوري لحاظ زمینه ورته مساعده ده، ۴۰کسانو چي۱۰سلنه کیږي ویلي، چي د نارینوو په څېر ښځي په اقتصادي چارو کي هم ونډه اخیستلای سي ځکه چي هغوی لاسي کارونه کوي. ۲٦ کسانو چي ٦,٥ سلنه کیږي، ویلي چي ښځي د شکنجي او ځوروني څخه د مصؤنیت حق لري، وجه ئي دا ده چي زموږ په ټولنه کي کلتوري قیودات موجود دي. د ښځو د حقوقو په اړه مشخص عامه پوهاوی نه دئ ترسره سوی، خلک نه دي ورڅخه خبر. د جواب ویونکو څخه ۲۸ تنو ښځي چي۷ سلنه کیږي، ویلي چي موږ کولای سو په ازاد ډول محاکمو ته لاسرسی ولرو، لامل ئي دادی هغه ښځي چي په ښار کي اوسیږي، محاکمو ته ئي لاسرسی ډېر اسانه دئ او امنیتي مشکلات نسته، ۵۰ تني ښځي چي ۱۲,۵ سلنه کیږي، په دې آند دي چي موږ ټول هغه حقوقو ته لاسرسی لرو چي زموږ حق دی. داځکه چي ټولنه اسلامي ده، په اسلامي ټولنه کي ښځه دا حقوق لري.

**دوهمه پوښتنه:** په کندهار ولایت کې ښځې کومو حقوقو ته لاسرسی نه لري؟




د نوموړې سوال په جواب کې لکه څرنګه چې په( دوهم شکل) کې معلومیږي؛ ۳۵ کسانو چې ۸،۷ سلنه کیږي، ویلي دي چې ښځې د کور څخه د بهر وتلو حق نه لري، وجه ئې دا ده چې زموږ ټولنه اسلامي ده، زموږ خلک خپلو ښځو ته بدون د محرم څخه د وتلو حق نه ورکوي،۲۱۲ کسانو چې ۵۳ سلنه کیږي، ویلي دي چې د بیان ازادۍ ته لاسرسی نه لري، علت ئې کلتوري قیودات او همدارنګه زموږ ټولنه اسلامي ټولنه ده چې په هغه کې ښځې نه سي کولای چې خپل ږغ پورته کړي، ۱۱۱ کسانو چې۲۷،۷ سلنه کیږي، ویلي دي چې عدلي او قضايي ارګانونو ته لاسرسی نه لري، وجه ئې دا ده چې زموږ ټولني اکثره کلتوري دي، په کلتوري برخو کې اکثره شخړې د ولسي جرګو او خپلو مشرانو په واسطه حل کیږي. د جواب ویونکو څخه ۳۹ کسانو چې۹،۷ سلنه کیږي، ویلي چې تعلیمي حق ته لاسرسی نه لرو، وجه ئې دا ده چې ځینې کورنۍ اوس هم سته چې خپلې لوڼې یا خویندې تعلیم ته نه پریږدي. ۱۳ کسانو چې ۳،۲ سلنه کیږي، ویلي دي چې ځیني نورو حقوقو ته لکه سیاسي حق لاسرسی نه لري.


**درېیمه پوښتنه:** په کندهار ولایت کي څو فیصده ښځي د خپلو حقوقو څخه بې برخي دي؟



درېیم شکل

په پورته شکل کي معلومېږي چي جواب ویونکو په لاندي سلني سره درېیمي پوښتني ته جواب ویلی دئ. ٣٦ کسانو چي ٩ سلنه کیږي، ویلي دي ٢٥ فیصده ښځي د خپلو حقوقو ته لاسرسی نه لري، ١٠٩کسانو چي ٢٧,٢سلنه کیږي چي ٥٠ فیصده خپلو حقوقو ته لاسرسی نه لري، ٢٣٢ کسانو چي ٥٨ سلنه کیږي، ویلي دي چي ٧٥ فیصده ښځي خپلو حقوقو ته لاسرسی نه لري او ٢١کسانو چي ٥,٢ سلنه کیږي، ویلي دي چي ښځي ١٠٠ فیصده د خپلو حقوقو څخه محرومي دي. په ټوله کي ٥٣ سلنه ډېره لوړه فیصدي ده او علت ئې بې سوادي، ناوړه دودونه او د ښځو له خپلو حقوقو څخه ناخبري ده.


**څلورمه پوښتنه:** په کندهار ولایت کي د ښځو د حقوقو په وړاندي سته خنډونه کوم دي؟



څلورم شکل

څلورم شکل ته په کتو سره جواب ویونکو څلورمې پوښتنې ته بېلا بېل جوابونه ورکړي دي، ۸ تنو ښځو چې ۲ سلنه کیږي، ویلي دي چې د خپلو حقوقو څخه ناخبره دي نو ځکه لاسرسی نه ورته لري، ۵۲ ښځو چې ۱۳ سلنه کیږي، ویلي دي چې ناوړه دودونه او کلتوري مسایلو دوی دې ته مجبوره کړي چې د خپلو حقوقو څخه تیري سي، ۱۸ تنو ښځو چې ۴,۵ سلنه کیږي، ویلي دي چې د مناسبو امکاناتو او شرایطو نه شتون ددې لامل سوی چې خپل حقوق را څخه پاته دي او په ۳۲۰ تنو ښځو کي چې ۸۰ سلنه کیږي ویلي دي چې د عامه پوهاوي نه موجود یت، ناوړه دودونه، د مناسبو امکاناتو او شرایطو نشتون پر اساس خپلو حقوقو ته لاسرسی نه لري.

**پنځمه پوښتنه:** د کندهار ولایت په کچه د ښځو د حقوقو د تامین له پاره څه باید تر سره سي؟



پنځم شکل


پنځم شکل څرګندوي چې د نومړې پوښتني په جواب کي خلکو بېلابېل جوابونه انتخاب کړي دي، چې په هغوی کي ۱۹ کسانو چې ۴,۷ سلنه کیږي، ویلي دي چې اساسي مشکل د ښځو په حقوقو کي د عامه پوهاوي نه موجودیت دئ، ځکه اکثره ښځې د خپلو حقوقو په اړه ناخبره دي، ۲۹ کسانو چې ۷,۲ سلنه کیږي، ویلي دي چې د ښځو د حقوقو له پاره اساسي خنډ دا دئ چې په دولتي اداراتو کي ورته د کار کولو شرایط او امکانات نه دي برابر، ځکه په اکثره اداراتو کي نارینه او ښځینه په یوه شعبه کي کار کوي، ۲۵ کسانو چې ٦,۲ سلنه کیږي، ویلي دي چې په ټولنه کي ښځې باید د خپلو حقوقو څخه خبري سي (خپل حقوق ور وپېژندل سي) او لامل ئې دا دئ چې دا کلتوري ټولنه ده، چې ښځې د خپلو حقوقو څخه ناخبره دي،۲۳ کسانو چي۵,۷ سلنه کیږي، ویلي دي چې د ښځو د حقوقو خنډ دا دئ چې ښځینه قشر تعلیم ته نه تشویقیږي او وجه ئې دا ده چې ښځې د خپلو کور په کارونو بوخت دي نو تعلیم ته وخت نه لري، ۳۰۱ تنو ښځو چې ۷۵,۲ سلنه کیږي، ویلي دي چې زموږ و حقوقو ته د لاسرسي له پاره خنډونه ډېر زیات دي، لکه د عامه پوهاوي نه شتون، په اداراتو کي د شرایطو او وسایلو نه موجودیت، د ښځو د خپلو حقوقو څخه ناخبري او ښځینه قشر تعلیم ته نه تشویقول چې دا ټولو لاملونو هغوی و خپلو حقوقو ته د لاسرسي څخه ئې محرومي کړي دي.

**شپږمه پوښتنه:** ایا تاسو له دې جملې سره موافق یاست؟

ښځې د تولنې نیمایي وجود ګڼل کیږي او د ښځې نقش په ټولنه کې د نارینوو له اهمیت څخه کم نه دئ.

د دې پوښتنې په جواب کې ۱۰۰٪ جواب ویونکو ویلي دي چې ښځې د ټولنې نیمايي برخه ګڼل کیږی او د ښځې نقش په ټولنه کې د نارینوو له اهمیت څخه کم نه دئ. ښځه په ټولنه کې زیات ارزښت لري، کوښښ دي وسي چې د ښځو د حقوقو په برخه کې د پام وړ اقدامات تر سره سي.


**اوومه پوښتنه:** دولتي او غیر دولتي موسسات باید د ښځو د حقوقو د تامین په برخه کی کوم اقدامات تر سره کړی؟




شپږم شکل

په شپږم شکل کې معلومیږي چې په جوابونو کې ۷۰ سلنه کسانو عامه پوهاوی، ۱۵ سلنه تعلیم ته د ښځو هڅونه او زمینه مساعدول، ۱۵ سلنه نورو کسانو مختلف موارد لکه د ښځو د حقوقو څخه دفاع، د ناوړه دودونو په وړاندې مبارزه او داسې نور تاکلي دي.

**اتمه پوښتنه:** ښځې په ټولنه کې څومره خپلو حقوقو ته لاسرسی لري؟




اووم شکل

د پورته سوال په جواب کي چي په شکل کي معلوميږي ٣٦ کسانو چي ٩ سلنه کيږي، ويلي دي ٢٥ سلنه ښځي و خپلو حقوقو ته لاسرسی نه لري، ١٠٩ کسانو چي ٢٧,٢ سلنه کيږي، ويلي چي ٥٠ سلنه خپلو حقوقو ته لاسرسی نه لري، ٢٣٢کسانو چي ٥٨ سلنه کيږي، ويلي چي ٧٥ سلنه ښځي و خپلو حقوقو ته لاسرسی نه لري او ٢١ کسانو چي ٥,٢ سلنه کيږي ويلي چي ١٠٠ سلنه ښځي د خپلو حقوقو څخه محرومي دي. په ټوله کي ٥٣ سلنه ډېره لوړه فيصدي ده او علت ئې بې سوادي، ناوړه دودونه او د ښځو له خپلو حقوقو څخه ناخبري ده.

**مباحثه**

انسان يو ټولنيز موجود دئ او بغير له ټولني ژوند نه سي کولای، ټولنه په خپل وار له ښځينه او نارينه څخه رامنځ ته سوې ده. کله چي انسان و ټولنيز ژوند ته مخه کړه نو يو شمېر حقوق او امتيازات ئې لاسته را وړل. د منظمو او متمدنو ټولنو په رامنځته کېدو سره انسانان په دې پوه سول چي يو شمېر حقوق د انسانانو د اساسي حقوقو په حيث بغير له دې چي کوم قانون يا قانونګذار ارګان ئې په رسميت وپيژني، انسانانو ته پېژندل سوي دي او ښځي هم د ټولنو د غړو په حيث د دې حقوقو څخه برخمني دي او بايد د دوی اساسي حقوقو ته درناوی وسي.

په دې باندي ټول پوهيږو چي ښځه د ټولني د ملا تير حسابيږي، او دا هم منلې خبره ده چي ښځه د انساني ټولني بنسټ بلل کېدای سي، دا په دې چي ښځه هم مور ده، هم مېرمن ده، هم خور ده، هم لور ده او په ټوله کي د توکمونو (نسلونو) روزونکې او پالونکې ده.

له بده مرغه په انساني ټولنه کي يو شمېر وګړي د ټولني د سرطاني غړو په حيث د نورو حقوقو او امتيازاتو ته درناوی نه کوي، که هغه اساسي حقوق وي او که اکتسابي.

د دې څېړني په تر سره کولو سره موندل سوه چي په افغاني ټولنه په خاص توګه په کندهار کي ښځي د ټولني د يو زيان ليدونکي قشر په صفت تر ډېره پوري خپلو اساسي حقوقو ته پوره لاسرسی نه لري او په ځينو حالاتو کي حتی د خپلو اساسي حقوقو څخه بې خبره وي. د ټولني د بيسوادۍ لوړه کچه او ناوړه دودونه د دې باعث ګرځيدلي تر څو ښځي په زياتره حالاتو کي د خپلو اساسي حقوقو لکه (د ژوند کولو حق، د تعليم حق، د شکنجې او اذيت څخه د مصؤنيت حق، د بيان د ازادۍ حق، صحي خدماتو ته د لاسرسي حق او د ملکيت درلودلو حق) څخه بې برخي او حتی بې خبره پاته دي.

په دغه څېړني سره ټولو هغو ستونزو او مشکلاتو ته د حل لاره پيدا سوې ده چي د ښځو حقوقو و اساسي حقوقو ته په لاسرسي کي رول درلودی او د دې ترڅنګ د ښځو و اساسي حقوقو ته د لاسرسي کچه معلومه سوې ده، چي په کندهارۍ ټولنه کي تقريباً ٤٧ سلنه ښځي اساسي حقوقو ته لاسرسی لري، ٥٣ سلنه ښځي خپلو اساسي حقوقو ته لاسرسی نه لري. په دې څېړنه کي هغه لاملونه چي د دې باعث ګرځيدلي دي چي ښځي د خپلو حقوقو څخه د ګټي پورته کولو څخه محرومي او حتی بې خبره کړي، پلټل سوي دي.

دلته د ښځو له حقوقو څخه د محروميت د عواملو په له منځه وړلو کي د ځينو بنسټونو رول چي ډېر اړين دئ هم بحث کيږي:

**الف: د ښځو د اساسي حقوقو څخه د محروميت د عواملو په له منځه وړلو کي د مدني ټولنو رول:**

په څو وروستيو کلونو کي په افغانستان کي مدني بنسټونه توانيدلي دي چي په ځانګړو برخو کي ډېر ښه رول ولوبوي. د بيلګې په ډول توانيدلي دي چي د دولت او دولتي بنسټونو په ځينو پريکړو اغېز واچوي او ځيني تازه مسائل د خلکو په ګټه مطرح کړي او حتی ځيني هغه پريکړي چي د خلکو په زيان وې، د مدني بنسټونو د فعاليتونو تر اغېز لاندي لغوه سوي دي. همدا راز مدني بنسټونه د خلکو له لومړنيو حقوقو څخه د عامه پوهاوي په برخه کي هم غوره رول لوبولی دئ.

همداراز په مشوره ورکولو او د بشر له حقوقو څخه د ښځو په برخه کې د ښځو په سياسي ګډون او د جنسيتي تبعيض په کمولو، د کورني ژوند په جوړولو او د هغه ناخوالو د حل کولو په برخه کې چې د طلاق، تفريق او نورو مسائلو سبب ګرځي، ستري لاسته راوړني لري. د افغانستان د مدني ټولنو عمده برخه د ښځو د حقوقو بنسټونه تشکيلوي، دا بنسټونه بايد له ښځو څخه د ملاتړ په برخه کې ډيري هڅې وکړي.

مدني ټولنې د ښځو د حقوقو د تامين او د هغو څخه د محروميت د عواملو د کمولو او له منځه وړلو په موخه کولای سي خپلې هڅې او فعاليتونه په لاندې برخو کې تر سره کړي.

**لومړی:** د بېلابېلو پروژو د پلي کولو له لارې په ټولنه کې د حضور له پاره ښځې وهڅوئ؛ د بيلګې په ډول: يوازې د ښځو له پاره د سمينارونو جوړول، د ښځو د انجمن او اتحاديو له تشکيل څخه ملاتړ، په ټاکنو کې د برخې اخيستلو له پاره د ښځو هڅول، د ښځو د اقتصادي او سياسي فعاليتونو څخه ملاتړ، د ښځو له لومړنيو حقوقو څخه عمومي خبرتيا، جنسيتي تبعيض او د ښځې او خاوند د حقوقو خبرتيا، د ښځو د اساسي حقوقو څخه د محروميت د عواملو په له منځه وړلو لپاره مشوره ورکول او د حل لارو لټون.

**دوهم:** هغه هڅې چې د ښځو د وضعيت د ښه والي په موخه سوي دي، و ارزوي، چې ايا د ښځو په وړاندې په کورنيو کې د شخړو او تاوتريخوالي چې د طلاق لامل ګرځي، په کمولو کې ئې اغېز شندلی او کنه؟ د جواب د تر لاسه کولو له پاره بايد د ناوړه پيښو د واقع کېدو؛ لکه د ډلهيز يا فردي جنسي تيري، صحرايي محاکمې او د ښځو او انجونو د حقوقو څخه د محروميت په کمولو کې اغېزه کړې وي، دا هڅې دي پياوړي کړي او که يادو هڅو په دې برخو کې اغېز نه وي کړی، د اغېزې نه کولو عوامل دي ولټوي او د ليري کولو له پاره دي ئې له هري شوني لارې کوښښ وکړي.

**دريم:** له حکومت، نړۍوالي ټولنې او د بشر د حقوقو له خپلواک کميسيون څخه دي وغواړي څو د عدالت د پلي کولو له پاره پر ښځو د تاوتريخوالي او هغه کسان چې د ښځو له حقوقو څخه ناوړه استفاده کوي، عاملين دې مجازات کړي.

**څلورم:** که چيري د ولاياتو يا ولسواليو په کچه حکومتي مسؤلين نه سي کولای چې د ښځو په وړاندې د غير اخلاقي کارونو مخه ونيسي او هغه ننګوني نه سي ليري کولای چې د ښځو په وړاندې موجودي دي نو مدني ټولنه بايد د دې وضعيت په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړي او د حکومت، پارلمان د بشر د حقوقو خپلواک کميسيون او نړۍوالي ټولنې د جدي پاملرني غوښتونکې سي او له پورته مرجعو څخه دي وغواړي څو دې وضعيت ته د رسېدني په موخه په جدي توګه لاس په کار سي (عدالت چکي،۱۳۹۸ ، ۱۰۵).

**پنځم:** په مرکز کې دي د ښځو چارو له وزارت او په ولاياتو کې دي د ښځو چارو له رياست څخه په پرلپسې توګه وغواړي څو د ښځو د اساسي حقوقو د محروميت د عواملو په کمولو او څارلو کې خپل فعال رول ولوبوي او ټينګار وکړي چې ايا د ولاياتو د ښځو چارو رياستونو په دې اړه کوم اقدام کړی دئ.

**شپږم:** هغه طلاقونه چې په پټ ډول په کورونو کې تر سره کيږي او څوک نه په خبريږي، څېړنه وکړي، حکومتي ادارو او اړوندو بنسټونو ته بايد وړانديزونه وسي، چې څه بايد وسي؟

**اووم:** د عدلي او قضايي اورګانو کړني و څاري او ټينګار وکړي چې د ښځو د طلاق قضيو ته سمه رسيدګي کيږي که نه؟ د سمي رسيدګۍ د نه شتون په صورت کې بايد پر هغوی نيوکه وکړي او موضوع رسنيزه کړي.

**اتم:** د موانعو او محدودیتونو په له منځه وړلو کي په ځانګړي ډول د ښځو د تحصیل د حق په برخه کي د افغانستان د دولت او نړیوالي ټولني د لا ډیري پاملرني غوښتونکي سي (عدالت چکي،١٣٩٨ ، ١٠٥).

نهم: له دولت او نړیوالي ټولني وغواړي څو د هغو محدودیتونو په له منځه وړلو کي په اړینو اقداماتو لاس پوري کړي چي د ښځو ازادي او حقوق ننګوي او طلاق ته لاره برابروي (عدالت چکي،١٣٩٨ ، ١٠٥).

**ب: د ښځو د طلاق د عواملو په له منځه وړلو او کمولو کي د رسنیو رول:**

د ښځو د حقوقو د نه لاسرسي د عواملو په کمولو کي رسنۍ کولای سي له سم مدیریت سره دغه عوامل را کم یا بلکل ختم کړي. کولای سي چي د رسنیو د لاري د ژوند په ښېګڼو باندي خبري وکړي، د ښه ژوند مثبت او منفي نقاط بیان کړي، چي خلک په پوه سي چي په دې اړه به د ښځو حقوق تأمین سوي وي او د نه لاسرسي مخه به شوي وي. چي دغه برخه په څو برخو کي تر بحث لاندي نیول کیږي (عدالت چکي، ١٣٩٨، ١٠٨).

١- د رسنیو له لاري د ښځو د حقوقو او په هغو باندي د خلکو د پوهي او خبرتیا پیاوړي کول: معلومات رسول د رسنیو تر ټولو اړین کار دئ. دا رسنۍ دي چي معلومات او خبرونو ته ئې د لاسرسي زمینه برابره کړې ده، د ټولني غړي اړین معلومات د رسنیو له لاري لاسته را وړي، په هغه ټولنو کي چي د خلکو د پوهي کچه له لومړنیو او اساسي حقوقو څخه ټیټه وي؛ د ښځو د حقوقو په اړه ئې رسنۍ د پوهي او خبرتیا په پیاوړي کولو، د معلوماتو د رسولو له لاري کولای سي اړین او اغېزمن کار وکړي او خلک د خبرتیا د کچي په لوړولو او د ښځو د اساسي حقوقو او د نه لاسرسي د عواملو په کمولو کي اړین رول ترسره کړي (عدالت چکي، ١٣٩٨، ١٠٨).

٢- د کورنیو اړیکو پیاوړي کول او په کورنۍ کي د ښځو د حقوقو د نه لاسرسي عوامل محوه کول: رسنۍ کولای سي چي د یو اغېزمن ځواک په څېر کورنۍ اړیکي، یووالي او یو بل زغمل د کورنۍ د غړو ترمنځ د تسامع ،مرستي او همکارۍ په برخه کي بې بدیله رول ولوبوي. د کورنۍ د غړو ترمنځ کشمکشونه او جنګونه د رسنیو له لاري حل کېداي سي نو ویلای سو چي رسنۍ د ښځو د حقوقو د نه لاسرسي عواملو په کمولو کي ډېر رول لري (عدالت چکي، ١٣٩٨، ١٠٩).

٣- د ښځو او سړیو د حقوقو د برابرۍ او د جنسیتي تبعیض له محوي څخه ملاتړ: رسنۍ پر عمومي افکارو د اغېز غورځولو یوه اړینه وسیله ګڼل کیږي او موخي ته د رسېدو او په توپیري او جنسیتي تبعضي فکر کي د غلبې له پاره رسنۍ تر ټولو اړینه وسیله شمېرل کیږي، ځکه رسنۍ هر کور او هر دفتر ته د دروازې د ټکولو پرته دننه سوي دي او په هر دوکان، رستورانټ او نقلیه وسیله او هر ځای کي شتون لري، کولای سي چي د ګټورو برنامو په خبرولو سره په عمومي افکارو اغېزه وکړي، د ښځو او خاوندانو په حقوقو باندي خلک خبر کړي، د ښځو د حقوقو د نه لاسرسي مخنیوی وکړي یا ئې د عواملو په کمولو کي کوښښ وکړي (عدالت چکي، ١٣٩٨، ١٠٨).

**ج: د ښځو د حقوقو په تأمین او د ښځو و حقوقو ته د نه لاسرسي د عواملو په کمولو یا له منځه وړلو کي د حقوقي کلینکونو، د پوهنتون د استادانو او زده‌کړیالانو رول:**

حقوقي کلینک (Legal clinic) د حقوقو او شرعیاتو په پوهنځیو پوري اړوند یو پوهنتوني مرکز دئ، چي په هغو کي د حقوقو او شرعیاتو استادانو او زده‌کړیالانو په عملي ډول مختلفو مراجعه کوونکو ته د حقوقي چوپړتیاوو په وړاندي کولو کي اقدام کوي. په حقوقي کلینیکونو کي حقوقي خدمتونه په یو ډول د حقوقو او شرعیاتو د استادانو له لوري د لوړي علمي او عملي تجربې سره وړاندي

کیږي او د کار د مجوز لرونکو د حقوقو له محصلینو څخه د اجرایي چارو او څارنې له پاره ګټه اخیستل کیږي (د حقوقي مساعدتونو مقرره، ۱۳۹۸، ۲ ماده، ۹ فقره).

په افغانستان کې د ښځو او کورنیو له پاره د حقوقي چوپړتیاوو د وړاندې کولو په موخه د حقوقي کلینک تاسیس په ځانګړې ډول هغه قشرو ته چې زیانمن سوي او اړ دي، یوه مبرمه اړتیا ده. دا کلینکونه کولای سي چې زیانمنو سوو ښځو ته په حضوري او تلیفوني توګه حقوقي مشورې وړاندې کړي او د خپلې موضوع محوریت پر کورنۍ او اړوندو مسائلو باندې را وڅرخوي. د دې کلینکونو لومړنۍ او اصلي موخه په وړیا توګه د ژمنو او زړه سوانده حقوقي چوپړتیاوو وړاندې کول دي، په ځانګړې ډول هغو ښځو ته چې وړیا حقوقي خدمتونو ته اړتیا لري.

**د: د ښځو د حقوقو په تامین او د ښځو و حقوقو ته د نه لاسرسي د عواملو په له منځه وړلو کې د عامه خلکو رول:**

د مدني ټولنو، رسنۍ او حقوقي کلینکونو سربېره عام خلک هم کولای سي چې د ښځو د حقوقو د تامین او د ښځو د حقوقو د نه لاسرسي د عواملو په لمنځه وړلو یا کمولو او معضلو په حل کې رول ولري. لاندې له هغو کسانو یادونه کوو چې کولای سي په دې برخه کې ډېر اغیزمن رول ولري (عدالت چکي، ۱۳۹۸، ۱۱۱).

**۱. د ښځو د حقوقو په تامین او د ښځو و حقوقو ته د نه لاسرسي عواملو په لمنځه وړلو کې د دیني علماؤ رول؛**

دیني علماء د ښځو د حقوقو د نه لاسرسي د عواملو په کمولو کې مهم رول لري؛ هغوی کولای سي چې د مسجدونو او تکیه خانو له منبرونو څخه خلک پوه کړي او هغوی د ښځو د حقوقو په برخه کې احترام ته وهڅوي او د ښځو و حقوقو ته د نه لاسرسي پر عواملو باندې خبري وکړي. هغه عوامل چې په ټولنه کې موجود وي، پر هغو باندې بحث وکړي او د هغو د کمولو کوښښ وکړي. همدارنګه دیني علماء او فضلا کولای سي چې ناوړه رسمونه او د خلکو له ځانه جوړ سوي خرافات چې نن ئې ځیني خلک اسلامي ارزښتونه ګڼي، د شریعت له عامو افکارو څخه دې ئې جلا کړي. د عامو خلکو د اذهانو د تنویر په برخه کې او د عطوفت او نرمۍ د فرهنګ په دودولو کې له کورنیو سره مرسته وکړي او د انجونو اولیاء دې له اجباري، کم عمره، بدلو ودونو او د جنس په بدل کې د ښځو له ورکولو څخه له ګواښونکو او ناوړ پایلو څخه چې د ښځو د حقوقو په اړه موجودې وي، له هغو څخه خبر کړي (عدالت چکي، ۱۳۹۸، ۱۱۳).

**۲. د ښځو د حقوقو په تامین کې د نه لاسرسي د عواملو په لمنځه وړلو کې د سیمي د مشرانو او سپین ږیرو رول؛**

د سیمي مشران او سپین ږیري د ښځو و حقوقو ته د نه لاسرسي په له منځه وړلو یا کمولو کې ډېر رول لري. هغوی لوړو ظرفیتو او شته تجربو ته په کتو کولای سي چې په دې برخه کې برنامه جوړه کړي او د کورنیو په استحکام او د هغوی د اختلافاتو په حل کې اغېزمن رول ولوبوي، ځکه خلک مشرانو او سپین ږیرو ته په درناوي قائل دي، او د هغوي خبره په سر او سترګو اوري. تجربې ښیي چې هر کله یو څوک و غواړي خپله لور کوژدنه کړي یا ئې واده کړي، یو سپین ږیري ته ورځي او مشوره ور څخه اخلي. له همدې امله سپین ږیري له خپل مقام څخه په ګټه اخیستنه کولای سي چې د اجباري وادونو، د کم عمري انجونو وادونه، بدل د جنس په بدل کې له واده او نورو ناوړه د شرعي او عقل خلاف دودونه چې د ښځو د حقوقو د نه لاسرسي عامل کیږي، مخنیوي وکړي. د داسې دودونو په اجراء کې خلکو ته د هغه ناوړه پیښې بیان کړي (عدالت چکي، ۱۳۹۸، ۱۱۲).

**۳. د ښځو د حقوقو په تامین او د ښځو و حقوقو ته د نه لاسرسي عواملو په لمنځه وړلو کې د ټولو خلکو رول؛**
د ټولني هر فرد نالوستي، کم لوستي، لوستي، تعليم کړي، تحصيل کړي، متخصص،کارپوه،کارګر، کارمند، آمر، د ټولنيزو مقام لرونکي، متنفذ، رهبر او ټول د ښځو د حقوقو په وړاندي ايماني، انساني او اخلاقي مکلفيت لري. ښځي ته په ټولو چارو او انساني ارزښتونو کي له سړيو سره د برابر انسان په توګه درناوی وکړي، حقوق ئې رعايت کړي او هغوی ته له ازار او ضرر رسولو څخه په جدي توګه ډډه وکړي، څکه د ښځي په نه شتون سره د زړه تسکين له منځه ځي او د کورنی د لمنځه تللو باعث ګرځي (عدالت چکي، ۱۳۹۸، ۱۱۳).

**پايله**

په دې باندې ټول پوهيږو چي ښځه د ټولني د ملا تير حسابيږي، او دا هم منلې خبره ده چي ښځه د انساني ټولني بنسټ بلل کېدای سي، دا په دې چي ښځه هم مور ده، هم مېرمن ده، هم خور ده، هم لور ده او په ټوله کي د توکمونو (نسلونو) روزونکې او پالونکې ده. له بده مرغه په انساني ټولنه کي يو شمېر وګړي د ټولني د سرطاني غړو په حيث د نورو حقوقو او امتيازاتو ته درناوی نه کوي، که هغه اساسي حقوق وي او که اکتسابي. د دې څېړني په تر سره کولو سره دا وموندل سوه چي ښځي د ټولني د يو زيان ليدونکي قشر په صفت تر ډېره پوري خپلو اساسي حقوقو ته پوره لاسرسی نه لري او په ځينو حالاتو کي حتی د خپلو اساسي حقوقو څخه بې خبره وي. زموږ د ګران هيواد افغانستان د ټولني د بيسوادی لوړه کچه او ناوړه دودونه د دې باعث ګرځيدلي تر څو ښځي په زياتره حالاتو کي د خپلو اساسي حقوقو لکه (د ژوند کولو حق، د تعليم حق، د شکنجې او اذيت څخه د مصؤنيت حق، د بيان د ازادی حق، صحي خدماتو ته د لاسرسي حق او د ملکيت درلودلو حق) څخه بې برخي او حتی بې خبره پاته دي.
په دغه څېړني سره ټولو هغو ستونزو او مشکلاتو ته د حل لاره پيدا سوې ده چي د ښځو حقوقو و اساسي حقوقو ته په لاسرسي کي رول درلودی او د دې ترڅنګ د ښځو و اساسي حقوقو ته د لاسرسي کچه معلومه سوې ده، چي په کندهاری ټولنه کي تقريباً ۴۷ سلنه ښځي اساسي حقوقو ته لاسرسی لري، ۵۳ سلنه ښځي خپلو اساسي حقوقو ته لاسرسی نه لري. په دې څېړنه کي هغه لاملونه چي د دې باعث ګرځيدلي دي چي ښځي د خپلو حقوقو څخه د ګټي پورته کولو څخه محرومي او حتی بې خبره کړي، پلټل سوي دي.

**ماخذونه**


قران کريم

البخاري، ابي عبدالله محمد بن اسماعيل، پېښاور پاکستان پخوانی کتاب خانه.

عدالتخوا، عبدالقادر، (۱۳۹۵ل).کورني حقوق، انتشارت مستقبل کابل.

عدالتخوا، عبدالقادر، (۱۳۷۴ل). حقوق زوجه در برابر شوهر، اثر ترفيع علمي، پوهندوی کابل: پوهنځي حقوق او سياسي علوم

تهانوي، اشرف علي، (۱۳۸۱ل). ازدواج اسلامي، ژباړه محمد ابراهيم دامني، دوهم چاپ، پشاور، انتشارات د کتاب.

شيخ احمدي، عبدالبصير، (۱۳۹۲ل). مهر او نفقه، دريم چاپ، انتشارات نعماني.

سعيد، احمد رشاد، (ډسمبر 29 ,2018). په اسلام کي د ښځو حقوق، نن ټکی اسيا.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اساسي قانون (۱۳۹۲). ۸۱۸ رسمي جريده.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مدني قانون (۱۳۵۵). ۳۵۳ رسمي جريده.

د حقوقي مساعدت د تنظيم مقرره، (۱۳۹۸ل)، (۱۳۵۵ل.) رسمي جريده، ۳ ماده، ۹ فقره.

د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي قانون شرحه (۱۳۹۸). کابل چکي د عدالت دفتر.

# Level and Quality of Women's Access to Basic Rights in Kandahar

Naweedu-ur-Rahman Sarwari and Aabid-ur-Rahman Habibi

## Abstract

Women, like men, have basic rights. Islamic Sharia, national laws and international declarations recognize the fundamental rights of women. Unfortunately, the level of knowledge in Afghanistan, especially in Kandahar, is low and that is why most women are deprived of their basic rights. They cannot exercise their rights easily. The aim of this study is to understand why women are deprived of their rights, what are the obstacles to these rights and how women can exercise their rights. That is to say, the aim of this study is to recognize the fundamental rights of women, clarify the role of women in society, identify obstacles that women do not have access to their rights in Kandahar province and how to remove these obstacles. This research is both library and field. 350 questionnaires have been distributed and the affairs of relevant organs such as the Women's Affairs Department, courts, Attorney's Office, prison, Justice Department, National Security Department, Security Room, media, Education Department and Chamber of commerce have been observed. In this study, the basic rights of women and their access to them have been found, as well as information about the obstacles to women's access to fundamental rights.

**Keywords:** Basic Rights, Women, Kandahar, Rights Access, Rights Abuse

# په کندهار ولايت کې د USAID د مرستو اغېز

صبغت الله مسرور
د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د کيفيت تضمين او لوړاوي آمر
samasroor73@gmail.com
۰۷۴۸۷۹۰۰۳۲/ ۰۷۰۷۸۸۵٦۵۳

**لنډيز**

بهرنۍ مرستې په کلي ډول د واقعي او يا مطالباتي منابعو له انتقال څخه چې د هېواد، نړۍ وال سازمان او ياهم د هېواد اړوند نړۍ وال سازمان څخه بل هېواد ته ولېږدول شي بهرنۍ مرستې بلل کېږي. د مرستندويه ادارو له جملې څخه USAID په ټول هېواد کې په کرنه، ظرفيت لوړونه، اقتصاد، ډيموکراسۍ، جنډر، زده کړه، روغتيا، ثبات او نورو بيلابيلو برخو کې په بېلابېلو ډولونو مرستې کوي؛ په پورته ذکر شوو برخو کې USAID په کندهار ولايت کې هم مرستې کوي او يادې مرستې په کندهار ولايت کې په ځينو برخو کې مثبتې خو په زياته کچه منفي پايلې هم له ځان سره لري. محمد بشير دوديال د افغانستان سره د مرستو ۱۳ کلنه تجربه، د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د الف څخه تر يا د افغانستان سره د مرستو لارښود او د افغانستان سره د بهرنيو مرستو د اغېز پلټونکي (سيګار) او د دې ترڅنګ ځينې نور مستند راپورونه پر دې معترف دي، چې په افغانستان کې د USAID د امريکا متحده ايالاتو نړۍ واله پرمختيايي ادارې ترسره شوې/کېدونکې مرستې تر ډېره ضايع دي. په کندهار ولايت کې د امريکا متحده ايالاتو نړۍ والې پراختيايي ادارې USAID د مرستو اغېز تر عنوان لاندې دغه څېړنيزه مقاله، چې د کتابتوني، ساحوي او مصاحبه وي ميتودونو څخه په کې استفاده شوې؛ په دې موخه چې په کندهار ولايت کې د USAID د مرستو د اغېز په اړه څېړنه وشي ترتيب شوې. مخکې داسې انګېرل کېده چې په کندهار ولايت کې د USAID له خوا کېدونکې مرستې تر ډېره اغېزمنې او ګټورې دي مګر د څېړنې په نتيجه کې جوته سوه چې يادې مرستې د ګټو ترڅنګ خورا زياتې منفي اغېزې هم لرلې دي.

**کليدي لغتونه**: کندهار ولايت، USAID، مرستې، اغېز

## پېژندنه (Inrtoduction)

### د مسألې بيان

دافغانستان د لنډمهالي اداري بهير چې په 2001 کال کې د بن د پرېکړو په بنسټ تعيين شوي وو، د يوې اوږدې مودې پراختيايي چوکاټ په لور چې د افغانستان په ترونليك او د افغانستان د ملي پراختيا د ستراتيژۍ په پراختيايي بهير کې په ډاګه شوی و، ګام ږدي، په دغه وخت کې افغانستان د ناکراريو له سختو ګواښونو، ترياك او په ملي کچه له ناخوښيو سره مخ دی. د دغو ګواښونو د مقابلې لپاره لنډمهالو ګامونو ته اړتيا ده. پداسې حال کې چې، دا حل د اوږدمهالې لارې د پراخو اصلاحاتو او د يوه ځواکمن دولت د جوړولو لپاره دي. په هر حال، د نړيوالو مرستو او دولت جوړونې تر منځ اړيکې پېچلې دي ځکه چې لنډمهاله ګامونه او همداشان ډېرو بهرنيو مرستو باندې اکتفاء کول د دولت جوړونې د اوږدمهالو بهيرونو پرمختګونو د خنډ لامل کېدای شي. د مرستو دا لنډمهاله بهير د پرمختيا له اوږدمهالو ګامونو سره له يوې خوالنډمهاله پرمختګ او له بلې خواپه مرستو اکتفاء کول د "دولت په جوړونه کې د تناقض لامل کېږي (AREU، ۱۳۹۴).

د امريکا متحده ايالاتو افغانستان ته له راتګ وروسته له افغانستان سره د د دوامداره امنيت، دموکراسۍ او پرله پسې ارامې او سياسي ثبات راوستلو په موخه د افغانستان سره د ستراتېژيکې همکارۍ هوکړه ليک وکړ تر څو له يوې خوا افغانستان د خپلو سياسي ګټو د يو مطلوب ځای په حيث وکاروي او له بلې خوا د امريکا ملي او دايمي ګټې وساتلې شي، نو امريکا هم د دغه موخو د غوره او ښه تحقق لپاره افغان ولس ته د بېلابېلو پراختيايي او پرمختيايي پروژو په تدوين او تطبيق سره غوښتل تر څو خپل ځان سوله سات او د ملي ګټو ساتونکې وښيي نو په دې اساس يې د خپلو مرستو لپاره بيلا بېلې اداري او ارګانونه رامنځ ته کړل (ارزو، ۱۳۸۹).

(USAID) په هيواد کې د ايجاد سره سم په فعاليت پيل وکړ او په بيلابيلو برخو کې يې پروژې او مرستې ترسره کړې، دا چې هيواد د څو لسيزو جګړو په درشل کې و، نو طبعاً د هيواد تعليمي کچه په ټيټه سطحه کې وه، د هيواد په سطحه د ټيټ علمي ثقافت شته والی د دې باعث شو، چې د (USAID) د مرستو تر شاه له پټو اسرارو عامه ذهنيت ناخبره پاتې شي، د خلکو او ټولنې له همدې نابينا ذهنيت څخه په استفادې (USAID) خپلې مرستې په پراخه کچه ترسره کړې، په داسې حال کې چې د (USAID) د مرستو ترشا له پټو اسرارو خلک او عامه فکري جوړښت نا خبره و، دا او دې ته ورته ستونزو د پوهاوي په موخه دا څېړنيزه مقاله ليکل شوې.

### د څېړنې اهميت

اوسمهال په کندهار ولايت کې په زيات تعداد مرستندوي ارګانونه په مستقيم او غير مستقيم ډول د مرستو په تر سره کولو کې ونډه اخلي، نو دا چې په دې مرستو کې (USAID) خومره ونډه لري، او دا ارګان يا اداره په دغه مرستو کې خومره مهمه او څه اغېز لري تر لنډ بحث لاندې ونيسو، له بلې خوا دا اداره په زياتو برخو کې لکه صحت، لوړی زده کړې، بريښنا، جنډر، ډيموکراسي، کرهڼه، اقتصاد، امنيت، ښارجوړونه، ظرفيت لوړونه، زده کړه کې تر سره کوونکې پروژې تمويلوي او يايې خپله اجراء کوي، نو په دې اساس د دې ارګان مطالعه او څېړنه د زيات اهمېت څخه برخوداره ده، چې پورته اړخونه د موضوع اهمېت رانغاړي.

### د څېړنې موخې

- په کندهار ولايت کې د (USAID) د مرستو د اغيز معلومول.
- په کندهار ولايت کې د (USAID) د مرستو څخه د خلکو د رضايت معلومول.
- هغه برخې معلومول چې (USAID) په مرستو کې اولويت ورکوي.

### د څېړني اصلي فرضیه

داسي ګمان کېږي چې په کندهار ولایت کې په تر سره کېدونکو مرستو او د مرستو په ساحو باندې د (USAID)مرستې اغېزه لري.

### پوښتنه

- آیا، په کندهار ولایت کې په ترسره کېدونکو مرستو کې د USAID مرستندویه اداره اغېزه لري؟
- آیا، په کندهار ولایت کې د USAID له مرستو څخه خلک راضي دي؟
- USAID په کندهار ولایت کې په کومو برخو کې مرسته کوي؟

### تیرو اثارو ته لنډه کتنه (Literature Review)

په ۱۳۹۱هـ کال کې محمد بشیر دودیال د افغانستان یوه لنډه دیارلس کلنه تجربه تر عنوان لاندې یوه څېړنه ترسره کړې، چې په دې څېړنه کې د بهرنیو مرستو پېژندنه او تګلاره واضح شوې. په تیرو ۱۳ کالو کې د امریکا د متحده ایالاتو د مرستو یوه لنډه څېړنه او ارزونه واضح سوې.

د افغانستان د څېړني او ارزونې اداري په ( ۱۳۹۴)هـ کال (د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لاربنود) تر عنوان لاندی، همدارنګه په (۱۳۸٦) هـ کال د (دولت ته مرسته؟) په افغانستان کې نړیوالی مرستې او د دولت جوړوني توپیرونه تر عنوانو لاندې دوې څېړنې تر سره کړې، چې په دې څېړنو کې مرستندویه ارګانونه پېژندل سوي، په افغانستان کې د USAID د مرستو تاریخي سیر او نور بیان سوي دي.

د افغانستان د بیا رغونی لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي په (۲۰۱۵)ز کال کې د متحده ایالاتو ګانګرس ته درې میاشتنی ریوټ وړاندې کړ. دا څېړنیز راپور خپله د امریکا د متحده ایالاتو په تر سره کیدونکو مرستو او د دې مرستو د اغیزمنتیا په اړه جوړ شوې دی. په دې څېړنه کې سیګار خپله د USAID مرستې او کومکونه تر ډېر ضایع بولي، او وایي چې یادې مرستې په دوبۍ او نورو ځایونو کې خوندي شوې، او له ۱۷ میلیارده ډالره مرستو څخه یې یوازې ۲۳ فیصده د دولت د مالي پالیسۍ مطابق عملي شوې دي.

### د څېړنېزې مقالې مېتودولوژۍ Research Methodology

په کندهار ولایت کی د (USAID) د مرستو اغیز تر عنوان لاندې دا څېړنه په کندهار ولایت کې تر سره سوېده. نوموړې څېړنه کمي خو اساسي برخه یې کیفي څېړنه تشکیلوي، چې د سرته رسولو لپاره یې له کتابخانه اي روش، ساحوي روش او ترځنګ یې له مصاحبوي تحلیلي روش څخه په کې استفاده شوې ده.

د څېړنې نفوس د (USAID) له مرستو مستفد کیدونکی ۵۰۰ داسي وګړي ټاکل شوي و، چې د یادې نړیوالې مؤسسې د مرسته ورکونکو ۸ ریاستونو سره یې اړیکې درلودې، یاد ټاکل شوي نفوس څخه ۱۰۰ تنه د سهمي نمونه اخیستنې میتود له مخې ټاکلي شوي دي، ځکه په کندهار ولایت کې د یادې نړیوالې مؤسسې مرستې پراخه ساحه په برکې نیسي، په نفوس کې د شریک خاصیت له وجهي او د څېړنې د نفوس د ډېر پراخوالي له وجهې د نمونې ټولونې له یاد میتود څخه استفاده کیږي، تر څو د نفوس لپاره مستنده پایله ورکړي. هغه مهمې برخې او ارګانونه چې یاده مؤسسه ورسره په بیلابیلو بڼو مرستې کوي، د ټول نفوس په استازیتوب ټاکل شوي، چې له دوی څخه، معارف، مهاجرینو ریاست، بریښنا ریاست، ښځو چارو ریاست، روغتیا ریاست، شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونه او د دوې مراجعین د نمونې لپاره ټاکل شوي دي. د دې ترځنګ په پورته ریاستونو کې د هر ریاست له رئیس یا اړوند مسؤل سره هم مرکه شوې.


په څېړنه کې د پوښتنلیک، مصاحبو او مخامخ بحثونو او تبصرو له لارې معلومات راټول شوي او تحلیل شوي دي. د دغه څېړنې د سرته رسولو لپاره اعداد، ارقام او معلومات له معتبرو کتابونو، معتبرو ویب سایټونو، معتبرو ژورنالونو، مجلو او مقالو څخه راټول، او همدارنګه د (USAID) د فی الحال کارمندانو سره له مرکو، لیدنو او کتنو او عامه خلکو څخه د پوښتنلیک په مټ تر لاسه شوي دي. راټول شوي اعداد او ارقام ، د مایکروسافټ ایکسل پروګرام په واسطه تحلیل شوي دي، اعداد او ارقام په ګرافونو او جدولونو کې په منظم ډول سره ښودل شوي دي.

د څېړنیزې مقالې له سرته رسیدلو وروسته به هغه معلومات چې د معلوماتو شریکوونکو یا د څېړنې هدف شوو کسانو په دې موخه شریک کړي وي، تر څو د دوی شخصي ژوند، شخصیت او کورنۍ ژوند ته کومه ستونزه ایجاد نه کړي محرم ساتل کیږي. په پوښتنلیک کې د ځوابونکو هویت خوندي او د هیڅ ستونزې د ایجاد باعث نه کیږي، د څېړنې موضوع انساني، اخلاقي او دیني ارزښتونو ته په درناوي سره څېړل سوې ده چې د ټولو دخیلو اړخونو ټول حقوق خوندي دي.

**نتایج او مباحثه (Results & Discussion)**

په کندهار ولایت کې د امریکا متحده ایالاتو د نړیوالي پراختیایي اداري (USAID) د مرستو د اغیز تر عنوان لاندې دا څېړنه چې یوه برخه ډېټا یې د پوښتنلیک له لارې راټوله شوه او بله برخه یې د مرکو له لارې راټوله شوې، د معلوماتو تحلیل د ټولنې او خلکو د معلوماتو، شته حقایقو او واقیعتونو په استناد تر سره سوې، ذکر شوې نتایج د معتبرو او ارزښتمنو منابعو په استناد او د پوښتنلیک په مرسته د څېړونکې په واسطه د راټولې شوې لومړنۍ ډېټا مطابق لاس ته راغلې، یاده ډېټا په لاندې شکل په چارټونو او ګرافونو کې په تحلیلي شکل سره لیکل شوې او ځای په ځای شوې.

**اوله برخه: د هو او نه پوښتنو تحلیل**




لومړی چارټ(د هو او نه پوښتنو تحلیلي بڼه)

### اول چارټ لومړي پوښتنه

دا چې پوښتنلیک په ریاستونو او نورو اکاډمیکو ځایونو کې ویشل  سوی، او تر ډېره داکسان داسی کسان وو، چې (USAID) سره مخکې له مخکې بلد او د دوي مرستې او کومکونه يې په پراخه توګه لیدلی و، نو په دې اساس په دې برخه کې لومړی پوښتنه په هدف شویو اشخاصو کې اکثریت په هو سره ځواب کړې ده.

په دې پوښتنه کې دوي برخی شتون لری، اوله برخه يې چې په شین رنګ معلومېږی، ۹۱ کسه تشکیلوي چې د (USAID) اداره پیژني. دوي هغه کسان وو، چې تر ډېره د (USAID) د مرستو څخه په مستقیم او یا هم غیر مستقیم ډول اغېزمن ول، او په یوه نه یوه طریقه دوي ته د (USAID) مرستې یا يې د مرستو تاثیر رسیدلی وو. له بلې خوا دې کسانو کې اکثریت لوستی و، نو په دې اساس يې د هو ځواب انتخاب کړی دی.

د چارټ په دوهمه برخه کې چې په نارنجي رنګ سره معلومېږی ۹ کسه تشکیلوي د هغو افرادو شمېر ښيي، چې (USAID) نه پیژنی او نه دې کسانو تر اوسه د (USAID) د کومې پروژې او یا هم د کومې مرستې نوم اوریدلی وو، پاتې دې نه وي چې یاد کسان نه یوازی غیر اکاډمیک بلکې اکاډمیک خلک هم په کې شامل و، خو دوی بیا هم تر دې دمه (USAID) او یا هم د دې اداری په اړوند څه نه وو اوریدلی.

### لومړی چارټ دوهمه پوښتنه

د چارټ د دوهمې پوښتنې اړوند ځواب کې بیاهم دوه ځوابه(هو، نه) دي د دې سوال په ځواب کې لومړی ډول خلک په شنه رنګ ښودل شوي۲۴ کسه، دا خلک د هغه کسانو شمیره ده، چې په کندهار ولایت کې د (USAID) مرستې اغېزمنې بولی، له پراخ تحلیل وروسته موندل کېږی، چې دا ډله خلک معمولا داسې کسان دي چې دوی د همدې مؤسسې مرستې تر لاسه کړې او یا هم د خپلو معلوماتو پر بنسټ دا مرستې د هیواد د پرمختیا لپاره ګټوری بولی، او ښيي چې مرسته په حقیقت کې د عامه اولس لپاره مفت شی ده، که چېرې دا مرسته په پراختیا يې برخو کې ولګول سي نو خامخا به مثبت اغېز ولري، په تیره بیا د یو داسي هیواد لپاره چې له مالي اړخه تر ډېره په بهرنیو مرستو ولاړ وي.

د چارټ دوهمې پوښتنې دوهمه برخه اشخاص ۷۶ کسه د هغو اشخاصو څخه دي چې د (USAID) مرستې او پروژې د کندهار ولایت لپاره ګټوری نه بولي، دوي دغه مرستو ته د شک په نظر ګوری او د دوی په آند چې دا مرستې په هیواد کې د پلان شوو اهدافو لپاره تر سره کېږي، او د هیواد اوسیمي لپاره اوږد مهاله ګټه نه لري یا هم شخصي جیبونو ته ځي.

### لومړی چارټ درېيمه پوښتنه

په چارټ کې د دریمې پوښتنې په ځواب کې لیدل کېږی، چې په کندهار ولایت کې د (USAID) له مرستو څخه د کندهار ولایت اکثریت خلک نه دي راضي، معلومیږي چې ۵۴ کسه د (USAID) له مرستو څخه ناخوښ دي، ځکه یادي مرستې د هیواد په سیاسی موقف کې د ورسته پاتې والي، شخصي جیبو ته تلل، یوازي په تشریفاتي کارونو کېي لګول، بنسټیزو کارونو او پروژو ته پکې تر ډېره توجه نه کیدل، په پراخه اندازه د اداري فساد د رامنځ ته کېدلو لامل، له خپلې تګلارې څخه په استفادې سره د هیواد او سیمې اولیت ته نه کتل، بلکې د یادې اداري د خوښې مطابق ساحه او برخه کې عملي او تطبیق کیږي .

په چارټ کې شین رنګ ۴۶ کسه د  (USAID) له مرستو څخه راضی دي، د دوی په آند د کندهار ولایت اوسنې حالت ته په کتو سره بهرنۍ مرستې د کندهار ولایت لپاره ګټوري بولي، باالخصوص هغه وخت چې بلاعوضه شکل ولري، نو دوي حق لري چې د خپلو طرحو مطابق يې تر سره کړي او هغه ساحې او سیمې چې دوي ته مهمې ښکاري خپلې مرستې دي په کې ترسره کړي، بیا

خاصتاً په يو داسي جنګ ځپلي هيواد کې چې له مالي لحاظه تر ډېره په بهرنيو مرستو متکې وي، نو په يادو دلايلو دوي د يادې مؤسسې له مرستو څخه خپل رضايت ښيي.

**لومړی چارټ څلورمه پوښتنه**

د چارټ څلورمه ګټګوري د (USAID) د مرستو ګټور توب او نه ګټور توب ښيې، دا چې همدغه يوه تشريحي او تحليلي پوښتنه وه نو ځواب يې د اکثريت په آند د (USAID) د مرستو او پروژو ګټور توب وو.
پورته کټګوري پوښتنه کې ۲۵ کسه په کندهار ولايت کې دهغه کسانو شمېر ښيې، چې د (USAID) مرستې او پروژې د کندهار ولايت لپاره موثري او ګټور بولي، دوی په دې دليل چې (USAID) له پخوا د هيواد او سيمې په سطحه مرستې او پرمختيايې پروژې عملي کوي او دا پروژې تر ډيره د عمومي ګټې او ارزښتونو لپاره په کار اچول شوي دي او منفعت يې عامه دي، همداراز د دې مرستو په وسيله ځواني طبقې ته د کار زمېنه مساعده کيږي.
نارنجي رنګ ۷۵ کسه په کندهار ولايت کې دهغه کسانو شمېر ښيې، چې د (USAID) مرستې او پروژې د کندهار ولايت لپاره موثري او ګټوري نه بولي، دوي په دې دليل، چې يادي مرستې لکه څرنګه چې له ابتداء څخه په کوم فنډ او سرمايه ګذاري سره ورکول کېږي، چې تر ډېره په غير عادلانه ډول تطبيقيږي.

**لومړی چارټ پنځمه پوښتنه**

ګراف ښيي چې په کندهار ولايت کې څومره کسان د (USAID) مرستې او پروژې د پرمختګ منبع بولي؟
د چارټ شين رنګ چې ۱۵ کسه ښيي، د هغه کسانو شمېر دی، چې د کندهار ولايت لپاره د (USAID) مرستې مثبتې او اغېزمني او د پرمختګ د يوې مهمې سرچينې په ډول ارزوي، ځکه يادي مرستې که په هر ډګر کې چې وي د کندهارولايت په څېر يو وروسته پاتي ولايت لپاره په هغه صورت کې ډيرې اغيزمنې دي، چې د همدې وروسته پاتې ولايت اولويت ته په کتو سره اړمنو ساحو کې تطبيق شي .
په ګراف کې ۸۵ کسه په کندهار ولايت کې د هغو کسانو شمېر ښيې، چې د (USAID) مرستې او پروژې د کندهار ولايت لپاره موثري اغېزمني او د پرمختګ د منبع په حيث نه ارزوي، ځکه يادې مؤسسې د خپلو مرستو په تطبيق کې ټولنيز اولويت په نظر کې نه دی نيولی، مرستې د خپلې پاليسي مطابق تطبيقوي، د ولس ستونزې يې نه دي درک کړي، که چېرې دوی له ټولنې درک او پوهه ونه لري، د خپلې خوښې مرستې او پروژې يې ممکن له تطبيق وروسته منفي پايلې ولري.


**لومړی چارټ شپږمه پوښتنه**

د چارټ شپږمه کټګوري پوښتنه واضح کوي، چې اوسمهال په کندهار ولايت کې څومره کسان غواړي تر څو (USAID) په راتلونکې کې هم له افغانستان سره خپلو مرستو او پرمختيايي پروژو ته دوام ورکړي؟
د ګراف د ښپږمې پوښتنې د ځواب ۱۳ کسه د هغو کسانو شمېر ښيې، چې غواړي (USAID) هم د راتلونکې لپاره له کندهار ولايت سره مرستو ته ادامه ورکړي، د دوي په وينا چې ياده مؤسسه بايد د راتلونکې لپاره خپلې مرستې د افغانستان د مالي پاليسۍ مطابق تطبيق کړي او د کندهار ولايت سره په هغو برخو کې، چې اړتيا يې جدي وي مرستې وکړي او د سيمې په ملي ارزښتونو کې دې له هر ډول مداخلې لاس واخلي، داسې مرستې دې وکړي چې د هيواد او عامه ولس په ګټه وي، ځکه اوسمهال د هيواد اقتصاد په بحراني حالت کې دي او بهرنيو مرستو ته جدي اړتيا ده، تر څنګ يې هغه د پرمختګونو پروسې چې د دوي په مالي مرستو ولاړې

دي، په نه شتون سره به له سقوط سره مخ شي، همداراز دا مرستې باید د یوې سالمې طرحې، پلان او پالیسي مطابق د هیواد اړتیاوو او اولیتونو ته په کتو تر سره تطبیق شي.

د چارټ نارنجي رنګ چې ۸۷ کسه ښيي، د هغه کسانو شمېر دی، چې نه غواړي (USAID) په راتلونکې کې له کندهار ولایت سره مرستې وکړي، ځکه (USAID) د هغه مرستو، چې په هیواد کې یې سرته رسوي، دوه برابره او یا هم درې برابره د پردې تر شاه ګټه وړي. په دري ژبه کې یو متل دی وایې: ((کسی که علف مېته، هدف مېته)) نو د دې مؤسسې هم له خپلو اهدافو خالي نه دي او نه دومره خیرخواه دي، چې وغواړي له یو اسلامي هیواد سره دې د بشریت او انساني همکارۍ په موخه مرستې تر سره کړي، همداراز د دوی اکثریت پروژې زیربنایي خاصیت هم نه لري.

**دوهمه برخه: د ځلور ځوابه پوښتنو تحلیلي چارټ**




دوهم چارټ: د ځلور ځوابه پوښتنو تحلیلي بڼه

**دوهم چارټ لومړی پوښتنه**

په دوهم چارټ کې د لومړی پوښتنې په ځواب کې لیدل کېږي، چې په کندهار ولایت کې د پراختیا او مرستو په برخه کې د (USAID)د رول اړوند تر ټولو ډېره انتخاب شوي فیصدي (۵۰٪) ده، چې ۳۵ کسانو ټاکلې ده او ۲۰ کسه په دې نظر دي چې د (USAID) مرستې په کندهار ولایت کې په کېدونکو مرستو کې( ۷۵٪ ) رول لري.

په ګراف کې تر ټولو کمه انتخاب شوي د فیصدۍ برخه (۱۰۰٪) دي چې تر ټولو کمو کسانو ټاکلې ده، ځکه د دوی په آند د یادې مؤسسې مرستې په سیمه ایزه سطحه په پراختیا او توسعه کې ډېر رول نه لري او نه د دوی مرستې له پوره اغېز څخه برخمنې دي.

**دوهم چارټ دوهمه پوښتنه**

په دوهم چارټ د دوهمې پوښتنې په ځواب کې لیدل کېږي، چې عامه خلګ د (USAID) مرستې څه ډول ارزوي؟ له دې مرستو څخه د ټولنې د عامه طبقې رضایت څومره دي؟ د چارټ د دوهمې کټګورۍ ژیړ رنګ چې ۲۶ کسانو ځواب کړی، د (USAID)


مرستې په ټولېز ډول ښې ارزولې دي، ځکه یاده مؤسسه له افغانستان سره له ۲۰۰۱ م کال را وروسته د خپلو مرستو او پرمختیايي پروژو د تطبیق لپاره هلې ځلې کوي.
دوهمه کټګوري خړ رنګ۲۰ کسانو ټاکلی، چې یادې مرستې په متوسط ډول ارزوي. د کندهار ولایت په څېر د یو وروسته پاتې ولایت په حیث چې مالي امکانات په لاس کې ونه لري، دا مرستې بلاعوضه شکل لري، نو تر یو بریده د سیمې او ولایت په ګټه دي.
دوهمه کټګوري نارنجي رنګ چې ۳۵ کسه ځوابونکي لري؛ د دې پوښتنې ځوابونکي تر ټولو لوړه شمېره خلک دي، دوي په دې آند دي چې د (USAID) مرستې د کندهار ولایت او سیمې په ګټه نه بلکې په زیان دي، ځکه چې دا مرستې چې تمویلي اداره یې (USAID)ده، په نړیواله کچه د خاصو خصوصي او د پردې تر شا د پټو اهدافو درلودونکې ده، چې له بشریت سره د مرستې هنګامه او په نړیواله کچه د فقر او غربت ختمول هسې یو لباسي لیرلید دی، چې دوي د ځان لپاره ټاکلی، ځکه د معاصر غربي استعمار تر ټولو مهم نړیوال مرستندوی مؤسسات دي، چې هیوادونه اړ کوي تر څوله مالي لحاظه په ځان بسیاینه ونه لري، او له یو اړخه د دوي تر اغېز لاندې راشي، دوي خپل دا قوت یعني پیسې او مرستې د نورو هیوادونو د مستعمره کولو او تر کنټرول لاندې راوستلو لپاره کوي، همدارا‌ز دوي داهم زیاتول، چې امریکا د(USAID) اداری له خوا په افغانستان کې مرستې د خپلو باثباته ګټو لپاره کوي، ځکه دوي نه غواړی چې په اسیا کې د یو معیاری ستراتیژیک موقیعت لرونکې سیمه له لاسه ورکړي.

### دوهم چارټ دریمه پوښتنه

دوهم چارټ دریمه کټګوري پوښتنه په کندهار ولایت کې د (USAID) له مرستو څخه عام ولس ته رسیدلې ګټې ارقام ښیي.
دریمه کټګوري ژیړ رنګ ۲٦ کسان په دې باور دي، چې د (USAID) له مرستو څخه ولس ته ډیره ګټه رسیدلی ده؛ دوي په دې دلیل چې د مرستو او پروژو اکثریت ګټه اخیستونکې د ټولنې عادي طبقه وي، ځکه د ټولنې شتمنه طبقه هسې هم تر یو حده د ژوند ممکنه سهولتونه لري، خو د ټولنې غریبه طبقه دې ډول مرستو ته ډیر اړ لیدل کېږی.
دریمه کټګوري خړ رنګ ۳۸ کسانو ځواب کړې، د دوی په آند د (USAID) مرستې د ټولنې د عامې او غریبې طبقی لپاره متوسطې یا یوځه ګټورې بولي، ځکه د (USAID) او نورو بهرنیو اداراتو او موسساتو اکثریت مرستې او پروژې په ټولنه کې د خاصو افرادو جیبو ته ځي، ځکه یادې مرستې او پروژې تر اړمنو پورې تر رسیدلو مخکې لاس په لاس کیږي او یو کمه اندازه مفاد مطلوبو کسانو ته رسیږي.
دریمه کټګوري نارنجي او شین رنګ د (USAID) مرستې د عامې طبقی لپاره په ترتیب سره لږ او هیڅ بولي، تر مطالعې لاندې نفوس څخه یوازې ۳ فیصده یې دا مرستې د ټولنې د بیوزلې طبقې لپاره اغېزمني نه ارزوي.

**دریمه برخه: د USAID د مرستو ساحې**

**الف: هغه ساحې چې اوسمهال USAID پکښې مرستې کوي**





دريم چارټ: د USAID د مرستو ساحې تحليلي بڼه

**دریمه برخه چارټ الف پوښتنه**

په دریم چارټ کې له چپې خوا اوله کټګوري آسماني رنګ د (USAID)د مرستو د هغه ساحو ښکارندويي کوي، چې ټاکل شوو اشخاصو له اوسني حالت څخه استنباط کړی دی. په چارټ کې لیدل کېږی چې په دې پوښتنه کې تر ټولو ډیرو(۱۸) کسانو د ډیموکراسۍ ساحه انتخاب کړې ده، له چپې خوا دوهمه کټګوري سور رنګ چې ۱٦ کسانو ټاکلی د جنډر ساحه وه، دا چې دا ساحه د (USAID) د فعالیتونو په نړیواله کچه ساحو کې شامله ده او دې برخې ته خاصه توجه کوي، تر څو له يوې خوا ښځې له نارینه وو سره څنګ پر څنګ کار وکړي او له بل لوري ښځې تشويقوي ترڅو له خپلو انسان جوړ شويو حقوقو څخه دفاع وکړي.

په دې تر تیب له چپې خوا دریمه کتګوري خړ رنګ ۱۲ کسانو ټاکلې د روغتیا ساحه ده، څلورمه کټګوري نارنجي رنګ ۱۱ کسانو ټاکلې د اقتصاد برخه ده، پنځمه کټګوري بنفش رنګ ۱۰ کسانو ټاکلې د ظرفیت لوړونې برخه ده، شپږمه کټګوري زرغون رنګ ۱۰ کسانو ټاکلې زده کړه ده، اوومه کټګوري او داسې نور... چې هره برخه یې مستنده ده.

**باء: هغه ساحې چې USAID باید مرستې پکښې وکړي**




**دريمه برخه چارټ باء پوښتنه**

په دريم چارټ باء برخې کټګورۍ کې په کندهار ولايت کې د هغو کسانو شمېر خرګندوي، چې له (USAID) څخه غواړي تر څو د کندهار ولايت سره په پورته نښانه شويو برخو او ساحو کې مرستې وکړي.

په چارټ کې زرغون رنګ زده کړه ښيي، چې تر نورو ډيرو ١٩ کسانو ټاکلې، ځکه زموږ د هيواد اصلي ستونزه د تعليم او پوهې څخه وروسته پاتې والی دي، چې اوسمهال يې اشباع د ټولنې ډيری ستونزو ته ممکنه حل دی. د چارټ دوهمې او دريمې کټګورۍ چې دواړه برخې ١٨ کسانو ټاکلې په ترتيب سره تيز شين او بنفش رنګونه لري، کرنه او ظرفيت لوړونه ښيي، دا ځکه چې افغانستان يو کرنيز هيواد دي او تر ډيره د اوبو له فزيکي ستونزو سره مخ دي، نو اوبو ته د کامل لاسرسی وروسته کولای شو، چې د هيواد اکثريت برخې، چې تر دي دمه شاړې دي زرغونې کړو او له دي لارې د هيواد پايښت باثباته کړي.

په همدې ترتيب په را وروسته کټګورۍ چې ١٦ او ١٢ کسانو ټاکلې د خام خړ او تيز خړ رنګونو درلودونکې دي، چې د روغتيا او زير بنا برخې په برکې نيسي، ځکه افغانستان يوي اوږدمهالی بدمرغي جګړې ځپلی دی او د دې جګړو قربانيان له معيوبيت او نورو ډول ډول ستونزو سره لاس او ګريوان دي. همداراز په هيواد کې زير بنايي کارونو او پروژو په سرته رسولو کې بايد ډيره پانګونه وشي، ځکه زيربنا که له يو اړخه باثباته مرسته ده، خو له بل اړخه دا مرستې د کاري فرصتونو د دوامداره پرمختګ او اقتصادي پايښت ضامن دي.

په چارټ کې آسماني او سور رنګ د ډيموکراسۍ او جندر برخه ٥ کسانو انتخاب کړې، تر څو (USAID) دي په کې مرسته وکړي، ځکه د يو داسې هيواد لپاره چې د نفوس اکثريت يې لومړنيو اړتياوو ته لاسرسی نه لري، نو په داسې هيواد کې بايد د ډيموکراسۍ

او جنډر تر برخي چي (USAID) دي په کې مرستې تر سره کړي مهمه دا ده، چې د سیمې او ټولنې اولیتونو ته په کتو په ضروري برخو کې مرستې وکړي.

**پایله**

افغانستان چې په وچه کې چاپېره او غرنی هیواد دی، د نړۍ د ډېرو لږو پرمختللو هیوادونو څخه شمېرل کېږي. دا چې هیوادونه په یوازې او جلا شکل سره نه شي کولای، خپلې ټولې دندې او فعالیتونه پرمخ یوسي، او خپلې دوامداره پراختیا او پرمختیا ته ادامه ورکړي، نو اړ کېږي، چې نورو هیوادونو، ادارو او سازمانونو ته د همکارۍ په موخه لاس اوږد کړي او مرسته تر لاسه کړي.

دا یوازې نه چې د افغانستان سره وروسته تر ۲۰۰۱م کال بهرنۍ مرستې پیل شوي، بلکې افغانستان مخکې تر کورنیو جګړو هم له یو شمېر هیوادونو څخه مرستې تر لاسه کړې وې، اما له ۲۰۰۱م کال څخه راپېرخوا د دغه هیواد سره د بهرنیو مرستو په حجم کې پوره زیاتوالی راغلی، خو دا زیاتوالی تر ډېره تر ۲۰۱۴م کال پورې و.

له ۲۰۰۲ کال را په دې خوا د امریکا متحده ایالتونو پرمختیایي اداري په افغانستان کې د پرمختیایي پروګرامونو په برخه کې ۳۱ میلیارده ډالر لګولي دي، د دې پیسو زیاته برخه په دُبۍ کې بانکي حسابونو ته لویدلې او له افغانستانه بهر کې پرې کورونه اخیستل شوي دي .

په ۱۳۸۸ل کال چې د ۲۰۰۹م کال سره سمون لري د افغانستان د مالیې وزارت له خوا د مرسته کوونکو د مالي بیا کتنې رپوټ کې راغلي چې له ۲۰۰۲م کال راهیسی له افغانستان سره ۳،٦میلیارده ډالره مرسته شویده، چې یوازې ۲۳په سلو کې(یعنی ۸۲٦میلیونه ډالره) د افغانستان د حکومت له لارې لګول شوي چې د دې پیسو ډېره برخه یې پور وو. پاتې نورې ټول پیسې د بهرنیو هیوادونو له خوا په خپله لګول سوې یعنې د افغانستان د کلنۍ بودجې برخه نه وه. له بده مرغه بهرنۍ ټولې مرستې تر اوسه پورې په همدې ډول لګول کېږي(www.pashtovoa.com, 24/9/1398) .

د افغانستان د بیارغونې د څار ځانګړې امریکایي اداره "سیګار" وایې، امریکا د تیرو ۱۷ کلنو په اوږدو کې د افغانستان ځینو سیمو ته د ثبات راوستو لپاره میلیاردونه ډالره ضایع کړې. د سیګار په وینا افغانستان کې ناسمې تګلارې د دغو میلیاردونو ډالرو د بې ځایه لګیدنې لامل شوي .

رپوټ وایې له طالبانو د پاکو شویو سیمو د بیا رغونې لپاره او جنګ ځپلو لپاره امریکایي چارواکو په تیرو ۱۷ کلونو کې ۷،۴ میلیارده ډالره لګولې چې په وینا یې هیڅ اغېزه ئې نه ده لرلې. رپوټ زیاتوي د دغوپیسو یوه برخه د فاسدو چاروکو جیبونو ته تللې او یوه برخه یې په داسې پروژو لګیدلې چې له ګټې اخیستنې یې زیانونه ډېر دي(www.nunn.asia, 11/8/2014) .

ډیر خلک په تېره بیا بهرنیان په دې باور دي چې د افغانستان په حکومت کې د مرستو د سمون او انسجام او په سمه توګه د مرستو د لګولو لپاره اړین ظرفیت نشته او د ورټیا دغه تشه به د اداري فساد لامل شي. په دې کې شک نشته چې د افغانستان په حکومت کې ادري فساد په پراخه کچه لیدل کېږي، خو که چېرې د نړیوالو ادارو او بیا په ځانګړې توګه د امریکایي قراردادیانو او نورو غیر دولتي مؤسسو کارونو ته ځیر شو، نو د افغاانستان د حکومت په پرتله دوی ډیر ملامت دي(www.pashtovoa.com, 24/9/1398) .

په پای کې د خپلې فرضیې د ثبوت لپاره د مصاحبو او پوښتنلیک له بشپړ تحلیل وروسته دې پایلې ته رسیږو، چې په کندهار ولایت کې د (USAID) مرستې او پروژې د مثبت اغېز ترڅنګ له ټولنیز منفي تاثیر څخه هم برخورداره دي، او (USAID) په کندها ولایت کې په کرنه، ظرفیت لوړونه، اقتصاد، ډیموکراسي، جنډر، زده کړه، روغتیا او ثبات په برخو کې بیلابیلې پروژې عملي کړې او تراوسه هم په کندهار ولایت کې د (USAID) ډیرې پروژې فعالې دي، چې د دوی دا مرستې هره یوه په خپله ساحه او محدوده کې د اغېز درلودونکې دي. په پوښتنلیک کې راوړل شوې ټولې پوښتنې د چارټونو او ارقامو په اساس تحلیل شوې او کتل شوې،

چې مخکې د هرې یوې یادونه مکمله شوې ده، نو په دې اساس د هدف نفوس او مرکه شویو افرادو څخه ټول افراد، دولتي مامورین، محصلین او د رسمې مراجعو کارمندان څخه د ځواب شوي پوښتنلیک استناد د (USAID) مرستې او پروژې د کندهار ولایت سره په ترسره کېدونکو مرستو او پروژو کې کمه اغیزه لري، خو د (USAID) د مرستو ډیره برخه ضایع شوي او د شخصي منافعو لپاره کارول شوي.

## اخځلیکونه

### الف: پښتو اخځلیکونه


ارزو، دوکتور عبدالغفور، (۱۳۸۹ل)، افغانستان و جامعه ی جهانی، مطبعه بشیر، (مخونه ۲۵۶-۲۵۴) وزار ت امور خارجه ی ج-ا-افغانستان.

دودیال، محمد بشیر، (۱۳۹۲ل). د افغانستان یوه لنډه دیارلس کلنه تجربه، (مخونه۲۲-۱۱)مومند خپروندویه ټولنه، ننګرهار.

د افغانستان د څېړنې او ارزونی اداره، (۱۳۹۴ل)، د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوي لاربنود، دیارلسمه ګڼه، (مخونه ۴ـ۶۱)د لاسرسی وړ لینک، http://areu.org.af/archives/#publication/703?lang=ps

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، (۱۳۸٦ل)، دولت ته مرسته؟ په افغانستان کې نړیوالی مرستې او د دولت جوړوني توپیرونه، (مخ ۱)د لاسرسی وړ لینکhttp://areu.org.af/archives/#publication/1506?lang=ps

سوبمن منګل، نصرالله. ژباړه: محمد امین، واکمن، (۱۳۸۲ل)، افغانستان، ناپیپلتوب او ستر ځواکونه، (مخونه ۲۲۳ـ۲۲۵)دانش خپروندویه ټولنه، پیښور.


### باء: انګلېسي اخځلیکونه


Singh, Vikram. (2012), Public Administration Dictionary, (40) New Delhi: Avon Printers.

USAID, (2018), Risk Appetite Statment, (4) Published in USAID Official website.

USAID, (2018), (USAID) and Afghanistan, (1-6) Published in USAID Official website.

USAID, (2015-2018), Afghanistan Plan for Transition, (1-30) Published in USAID Official website.

USAID, (2017), Agency Financial Report, (2-6) Published in USAID Official website.

USAID, (2013_2016). Kandahar Helmand Power Project, Published in USAID Official website. Available link https://www.usaid.gov/news-information/fact-sheets/Kandahar-helmand-power-project-khpp

USAID, (2013-2015). 10_MW_Kandahar_Solar_Power_Plant, Published in USAID Official website. Available link https://www.usaid.gov/documents/1871/10-mw-Kandahar-solar-power-plant

USAID, (2018), Kandahar Food Zone Program (KFZ), Published in USAID Official website. Available link https://www.(USAID).gov/sites/default/files/documents/1871/Kandahar%20Food%20Zone%20Program%20%28KFZ%29.pdf

Nunn.asia, (2014). Lastest report of SIGAR about Amirican aids in Afghanistan, published in Nunn.asia Official website Availabale link: https://www.nunn.asia/25537/%d8%af-%d8%b3%db%8c%da%ab%d8%a7%d8%b1-%d9%88%d8%b1%d9%88%d8%b3%d8%aa%d9%8a-%d8%b1%d9%be%d9%88%d9%bc-%d9%be%d9%87-%d8%a7%d9%81%d8%ba%d8%a7%d9%86%d8%b3%d8%aa%d8%a7%d9%86-%da%a9%db%90-%d8%af-%d8%a7%d9%85/

Pashtovoa, (1398). How Forgen Aids Emplementing Effictivly, published in Pashtovoa, Official website Availabale link: https: //www.pashtovoa.com/amp/conference-about-uni-corruption-in-afghanistan-/5206466.html#aoh=16145790261672&amp_ct=1614579322319&referrer=https%3A%2F%2Fwww.google.com&amp_tf=From%20%251%24s

# Impact of USAID aids in Kandahar

Sibghatullah Masroor

Quality ensurance department officer

## Abstract

Foreign aid is considered to be transferred from a country, international organization or the relevant international organization of the country to another country. From the group of aid agencies, (USAID) contribute to agriculture, capacity building, economy, democracy, gender, education, health and stability and other fields throughout the country. USAID helps in the mentioned areas in Kandahar province and the aid has positive but very negative consequences in some areas of this province. Mohammad Bashir Dudial who has 13 years of experience in aid to Afghanistan, the Afghanistan Research and Evaluation Agency, Assistance Guide to Afghanistan, and the SIGAR, has proven that most of the USAID aids are wasted in Afghanistan.This research paper, titled (The Impact of USAID Assistance in Kandahar Province), is based on field research in which interview method is used. Besides, questionnairs are also distributed to informants to investigate the impact of USAID aid in Kandahar province. Furthermore, interviews are also conducted to collect qualitative data. Previously, it was thought that USAID assistance in Kandahar province was more effective, but the results of the study found that the mentioned aids have more negative effect besides the benefits.

**Keywords**: Kandahar Province, USAID, Aid, Impacts

# سټرس مدیریت د روغتیایي کارکوونکو تر منځ: د کرونا په جریان کي د ځان او نورو ساتنه

ډاکټر خلیل احمد کاکړ
د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي استاد
۰۷۰۳۱۴۰۰۹۴
Khalilahmad01.ka@gmail.com

**لنډیز**

نړۍ وال روغتیایي سازمان، سټرس نړۍ واله ناروغي یاده کړې ده. کاري سټرس پر نړۍ والو لګښتونو اثر اچوي او د روغتیا په وړاندي د لوی ګواښ په توګه پېژندل کېږي. ارقام ښیي چي په متحده ایالاتو کي د ۵۴ سلنه ناروغیو لامل سټرس دئ. په ورته ډول، راپورونه ښیي چي زیاتره رواني ناروغۍ، ځان وژنه او خیالات یې له سټرس څخه راټوکېږي. همدا راز، سټرس په نړۍ واله کچه پر روغتیا زیات منفي اثر کوي. ددغه څېړني هدف د روغتیایي کارکوونکو تر منځ پر سټرس مدیریت (هغه زیات شمېر تخنیکونه چي په مرسته یې څوک روغتیایي خدمات په ښه ډول عرضه کولای سي؛ همدا راز هغه تداوي چي څوک یې کوي او هغه بدلونونه چي منځ ته راځي.) واضح کول، په داسي حال کي چي دوی هم د ځان او هم د نورو خیال ساتي. په دغه څېړنیزه مقاله کي له ( PRISMA-Preferred Reporting Item for Systematic Reviews) څخه استفاده سوې ده. د PUMED CENTRAL, GOOGLE SCOLAR, MEDICINE او یو شمېر نورو ژورنالونو څخه استفاده سوې ده-له ۲۰۱٦ څخه د ۲۰۲۰ کال تر اګست میاشتي پوري. د منلو او ردولو پروسې پکښې طی سوي دي. د لومړنیو پایلو شمېر ۴۵۱۵ وو. ۲۵۰۰ مشابه مقالې لېري کړل سوې، ۱۵۷۰ یې وکتل سوې او ۹۳۰ یې پر شرایطو برابري وختلې. د دوی له منځ څخه ۱۲ مقالې انتخاب سوې. دغو ۱۲ مقالو ټولو له سټرس سره تړاو درلود. درې په انګلستان، درې په امریکا، دوې په چین، دوې په ایټالیااو یوه یوه په کاناډا او هند کي لیکل سوې دي. د کوویډ ۱۹ د اوسنۍ سناریو مطابق، د څېړني په ډیزاین کي مختلف ګروپونه شامل سوي دي، د نمونې اخیستنې زیاتره تخنیکونه انلاین ول، مګر د نمونې اندازه د شپږو مقالو تر منځ انتخاب سوې ده. په اخځلیکونو کي ټېري، اندېښنې او سټرس ته اشاره سوې ده؛ همدا راز د سټرس اعراضو لوړ شمېر او د دولت نه همکاري یاده سوې وه. د سټرس مدیریت نهه څېړني په ښښه سوي دي او ډېرو لږو یې مکملې موضوع ته انعکاس ورکړی دئ. مګر د څېړنیزو او مېتودلوژیکي محدودیتونو له کبله نه سو کولای واحدي پایلي ته ورسېږو. د کوویډ ۱۹ بې مثاله حالت پر یو شمېر روغتیایي کارکوونکو او د دوی پر شاوخوا نورو کسانو اثر کړی دئ. له دوی سره باید په رواني او تعلیمي برخو کي کار وسي، د دولت له خوا یې څارنه او نظارت وسي، ملاتړ یې وسي تر څو د خپلو ځانونو او او نورو خیال وساتي.

**کلیدي کلمات:** روغتیایي کارکوونکي، سټرس مدیریت، کاري سټرس، کوویډ ۱۹، د سټرس خپوروالی

**پېژندنه**

د سټرس تاريخچه پېژندنه په ۱۹۳۶ کال د نامتو ساينس پوه هنز سېلي ( Hans Selye)له خوا پيل سوه. ده سټرس هغه غير صحيح غبرګون ياد کړ چي وجود يې د هر تغير په وړاندي ښيي. له هماغه وخت راهيسي مختلفو عالمانو سټرس ته مختلف تعريفونه وړاندي کړي دي. د بېلګې په توګه، د انګليسي ژبې ( American Heritage Dictionary)سټرس داسي تعريفوي: هغه ذهني مخرب حالت ته ويل کېږي چي د بهرنيو مختلفو اغېزو په نتيجه کي منځ ته راځي او تر څنګ يې فزيکي روغتيا اغېزمنوي، د ويني سټرس لوړوي، د عضلو شخوالی رامنځ ته کوي، د تخريش او د خپګان سبب ګرځي. په ورته ډول، امريکايي رواني ټولني د سټرس درې ډولونه بيان کړي دي: لږ سټرس، منځنی سټرس، زيات سټرس. د دې هر ډول علايم، ځانګړني، جريان، اغېزې او د علاج کړنچاري يې په ګوته کړي دي [۱-۴].

د سټرس مفهوم په څو عبارتونو سره واضح سوی دئ. په انګليسي کي ورته ( stress)ويل کېږي د لاتيني ژبې له ( stringere)کلمې څخه مشتق سوی دئ او مانا يې سخت سري او سختي ده. په اصطلاح کي هغه حالت ته ويل کېږي چي کله څوک نه سي کولای د پخوا په څېر په کار او نورو ځايونو کي په رواني يا فزيکي ډول ښه فعاليت وکړي. سټرس پر مثبت سټرس او منفي سټرس وېشل سوی. مثبت سټرس ګټور وي ځکه هيجان په وجود راوړي، پرمختګ ته زمينه برابروي، ذهني وړتياوو ته رشد ورکوي، قوت وربخښي او په مرسته يې اهداف لاسته راځي. په داسي حال کي چي منفي سټرس د چا پر روغتيا منفي اثر درلوداى سي. څېړني ښيي هغه څوک چي منفي سټرس ولري کمزوری وي او اهداف لاسته راوړلای نه سي.

يو شمېر پوهان وايي چي سټرس له کار سره تړاو لري. هغه ډول سټرس چي په کار ځای کي تجربه کېږي کاري سټرس يادېږي. دا سټرس هغه وخت منځ ته راځي چي کله څوک په کار کي له غوښتنو سره مخ کېږي. په دې توګه کاري حجم زياتېږي، د کاري چاپېريال انډول له منځه ځي او د ټولي پروسې مديريت ډېر يو ستونزمن کار ګرځي. په زياترو کارځايونو کي سټرس په مختلفو ډولونو شتون لري. دا سټرس د کارکوونکي پر روغتيا منفي اثر کوي. مګر که داسي مختصص پيدا کړل سي چي سټرس کنټرول کړلای سي نو ښايي کارکوونکی روغ پاته سي. د کاريګرو نړۍ وال سازمان د راپور له مخي د کارکوونکو لس سلنه ټکرونه او مخالفتونه له سټرس سره تړاو لري. د سټرس سره د مبارزې اغېزناکه لاره که عملي سي نو په کارځايونو کي همږغي او سمون راتلای سي. کاري حجم، موقعيت، چاپېريال، د مسؤليتونو ټکر، زيات کاري وخت، د کار نامناسب وېش، د عوايدو نامتوازن وېش، اداري موضوعات، نوي تخنيکونه... په زياترو سازمانونو کي د سټرس د لاملونو په توګه پېژندل سوي دي [۵، ٦، ۱۳].

نړۍ وال روغتيايي سازمان سټرس نړۍ واله ناروغي ګڼي. ۹۰ سلنه هغه مراجعين چي روغتونونو ته يې مراجعه کړې وه له سټرس څخه کړېدل[۱۴]. هغه پروژې چي د کاري سټرس کمولو په موخه په لاره اچول کېږي هر کال ۵،۴ بيليونه ډالر لګښت کوي. روغتيايي ټولني د کارکوونکو له پاره خطرناکي ساحې دي چي سټرس پکښي موجود وي. په نړۍ واله کچه، سټرس په هرو دريو کسانو کي يو کس اغېزمنوي. ښودل کېږي چي په امريکا کي ۵۴ سلنه ناروغۍ له سټرس سره تړاو لري. په اروپا کي هم همداسي ده. لګښتونه يې ډېر زيات دي. د اروپا پرمختيايي بنسټ تازه څېړنه ښيي چي د ۱۵۰۰۰ اروپايي کارکوونکو ۲۸ سلنه وګړو ښودلې چي سټرس له دندي سره تړاو لري. په يو شمېر پرمختللو هيوادونو کي د کار ځای سټرس د ملي توليداتو لس سلنه لګښت لري. کارکوونکي غير حاضري کوي، کار پرېږدي، د ناوړه روغتيا له کبله تر تقاعد مخکي دنده پرېږدي، له سټرس سره مبارزې پروژې په لاره اچول کېږي. د ځان وژني تر ټولو لوی لامل رواني ناروغۍ دي [۱۰].

د سټرس شاخصونه ښايي اغېز ولري او په ساحه کې د کاري تباهۍ لامل وګرځي. په ورته ډول، څېړني ښيي چې په هرو دريو کسانو کې يو له کاري سټرس څخه کړېږي. کاري سټرس کار ډېر سخت ګرځولی دئ. په امريکا کې تر نيمايي زياتو خلکو خراب حالت له سټرس سره تړاو درلود. په هرو دريو اروپايي کارکوونکو کې يو په دې باور دئ چې کمزوره حالت يې له کاري سټرس سره تړاو لري.

په امريکا کې هر دريم ناروغ ځکه روغتون ته ځي چې له سټرس څخه کړېږي. په هند کې هم حالت همداسي دئ. څېړني ښيي چې په هند کې ۸۹ سلنه هغه کسان چې ډاکټرانو ته يې مراجعه کړې له سټرس څخه کړېدل. د زيات شمېر ژورنالونو، کتابونو او سازمانونو راپورونه ښيي چې د سټرس شيوع به د ۲۰۲۰ کال تر ختمېدو پورې د ناروغيو له لويو عواملو څخه وشمېرل سي. په سعودي عربستان کې ٦٦،۲ سلنه، په هند کې ۷۳،۵ سلنه [۱۱،۱۲]، په عراق کې ۳۴،۹ سلنه، په ډچ کې ۵۵ سلنه، په کنبته ايتوپيا کې ۳۷،۸ سلنه، په بلجيم کې ۴۰،۴ سلنه هغه کسان چې روغتون ته مراجعه کوي له سټرس څخه کړېږي. هغي څېړني چې د هند د پوهنتونونو په کچه سوې وه وښوده چې ۳۳ سلنه خلک له سټرس څخه کړېږي. يو شمېر سيمه ايزو ډاکټرانو ۹۳۰ مراجعين تر څېړني لاندي ونيول. د څېړني پايلي وښوده چې ياد کسان له درې ډوله سټرس سره مخ ول: ۱۷،۷ سلنه کسان له ټيټه کچه سټرس، ۱۲،۲ سلنه کسان له منځنۍ کچه سټرس او ۲،۹ سلنه کسان له لوړه کچه سټرس څخه کړېدل [۸].

د روغتيايي کارکوونکو سټرس له داخلي او بهرنيو سرچينو څخه راټوکېږي. سټرس له کار سره د کارکوونکو علاقه کموي او له يو شمېر نورو منفي پايلو سره يې مخ کوي [۹، ١٦]. په هند او نړۍ کې په دې هکله محدود شمېر څېړني سوي دي چې سټرس د روغتيايي کارکوونکو پر ګټورتوب څومره تاثر کوي. د روغتيا نړۍ وال سازمان د اټکل له مخې به رواني ناروغۍ، د سټرس په شمول، د ۲۰۲۰ کال له لويو ګواښونو څخه وي. کاري سټرس نړۍ واله ناروغي ده. د کاري سټرس لګښت هر کال ۵،۴ بيليونه ډالرو ته رسېږي. روغتيايي بنسټونه دې ته د لوی خطر په سترګه ګوري [۷]. اټکل کېږي چې د نړۍ په هرو دريو کارکوونکو کې يو تن له سټرس څخه کړېږي. کاري سټرس په هر ډول کارځای کې په وجود راتلای سي، په ځانګړي ډول روغتيايي کار ځايونه د خپل چاپېرل له کبله له دې څخه زيات متضرر دي. په روغتيايي کار ځای کې سټرس د دې لامل ګرځي چې د ناروغ تداوي په سمه توګه و نه سي. همدا راز نوري منفي اغېزې هم لري لکه په دنده او کار ځای کې تغير راتلل، دنده پرېښودل، په اړيکو کې بې نظمي راتلل، خپلي روغتيا ته صدمه رسول. مختلفي څېړني ښيي چې کاري سټرس د مالي زيانونو سبب ګرځي [۱۳،۵]. د دې مقالې هدف دا دئ چې د روغتيايي کارکوونکو تر منځ سټرس مديريت (تخنيکونه او تداوي) روښانه کړي تر څو د کوويډ ۱۹ په جريان کې د ځان او نورو تداوي په ښه ډول ښنګه وکړای سو.

## مېتودلوژي

### د شموليت معيار

په دې مقاله کې له هغو مقالو څخه استفاده سوې ده چې په کليدي کلماتو کې يې د سټرس مديريت، روغتيايي کارکوونکو او هغو کسانو چې تداوي ته ضرورت لري او همدا راز کوويډ ۱۹ يادونه سوې ده. په سکرينينګ کې هغه مقالې په نښه سوي دي چې له دغو څلورو کلماتو څخه يې لږ تر لږه درې کلمات په کليدي کلماتو کې شامل ول. د خپرو سوو او ناخپرو سوو مقالو او څېړنو له سرليکونو او لنډيزونو څخه يادونه سوې ده. سربېره پر دې له مېتودلوژيکي پروسې، د څېړونکي نوم، کال، هيواد، ګډون والو او پايلي څخه يادونه سوې ده. هغه مقالې صرف نظر ګرځول سوي دي چې پر دغو معيارونو برابري نه وې. له ټولو هغو مقالو څخه يادونه

سوې ده چې د روغتيايي کارکوونکو تر منځ سټرس مديريت پکښې شامل وو. همدا راز هغه مقالې هم مد نظر ګرځول سوي دي چې د کوويډ ۱۹ په جريان کي د ځان او نورو د ساتني په موخه ليکل سوي دي. له هغو مقالو څخه استفاده سوې ده چې په انګليسي ژبه خپرې سوي دي. د کيفيت ارزوني په موخه بيانيې، لنډو څېړنيزو مقالو، سرمقالو، متونو، سيستماتيکي کتني او ځانګړو څېړنيزو مقالو ته نظر سوی دئ.

## د لټون ستراتېژي

له (PRISMA-Preferred Reporting Item for Systematic Reviews) څخه استفاده سوې ده. دا د نړۍ په کچه له علمي منل سوو مېتودونو څخه دئ. اخلاقي اصول پکښي مراعت سوي دي. له PUMED CENTRAL, GOOGLE SCOLAR, MEDICINE لټون ماشينونو او يو شمېر نورو ژورنالونو څخه استفاده سوې ده.

## مالومات راغونډونه

په معلوماتو راغونډولو کي ۴۵۱۵ څېړنيزي مقالې وپېژندل سوې. له ګوګل سکالر (GOOGLE SCHOLAR) څخه ۴۴۲۰ څېړنيزي مقالې، له پوميد سنټرل (PUBMED CENTRAL) څخه ۳۰ څېړنيزي مقالې او له ميډيسن (MEDICINE) څخه ٦٥ څېړنيزي مقالې په نښه سوې چې ټول د ۲۰۱٦ او ۲۰۲۰ کلنو تر منځ خپرې سوي دي. د پريسم (PRISM) له طريقې سره سم يې ځيني څېړنيزي مقالې انتخاب سوې او ځيني و ايستل سوې. تر ملاحظې وروسته شاوخوا ۲۵۰۰ څېړنيزي مقالې پاته سوې. ۱۵۷۰ څېړنيزي مقالې له دې کبله لېري سوې چې پر معيار برابري نه وې، لنډيزونه يې نه درلودل او پورتني ذکر سوي مطلوب کليدي کلمات يې نه درلودل. په ځينو کي يې داسي مالومات ځای پر ځای سوي ول چې د دې مقالې له ډيزاين سره يې سر نه خوړی. سربېره پر دې، په مالوماتو راغونډولو کي د مېتود، ګډون والو او جغرافيې له مخې له حدود وضع کولو څخه ډډه سوې ده تر څو د امکان تر حده زيات شمېر څېړنيزي مقالې په لاس کي ولرو. شاوخوا ۹۱۸ څېړنيزي مقالې د دغو دلايلو له مخې شاملې نه سوې: ۲۳۱ څېړنيزو مقالو له دې مقالې سره سر نه خوړی، ۳۲ څېړنيزو مقالو لنډيزونه نه درلودل، ۲۵۱ څېړنيزو مقالو له دې مقالې سره تړاو نه درلود، د ۱۱ څېړنيزو مقالو متون له څېړنيزو مقالو سره سر نه خوړی، په ۱۲۰ څېړنيزو مقالو کي مناسب او ګټور مالومات ځای پر ځای سوي نه ول، د ۱۴۸ څېړنيزو مقالو متون يو شان ول، په داسي حال کي چې سرليکونه يې بدل سوي ول او د ۱۲۰ څېړنيزو مقالو متون يو شان ول او ليکني يې پر معيار برابري نه وې. د ۹۳۰ څېړنيزو مقالو متون وکتل سول چې ۹۱۸ څېړنيزي مقالې يې لېري کړل سوې او ۱۲ يې پاته سوې. پاته ۱۲ څېړنيزي مقالې د دې مقالې له سرليک او موضوع سره سر نه خوړی. په دغو څېړنيزو مقالو کي د روغتيايي کارکوونکو تر منځ د سټرس مديريت يادونه سوې ده. همدا راز دې ته اشاره سوې ده چې د کوويډ ۱۹ په جريان کي د ځان او نورو ساتنه څنګه وکړو.

## سټرس مديريت

په نهو مقالو [۱۸،۱۹،۲۱،۲۳،۲۴،۲۵،۲٦،۲۷،۲۸] کي د سټرس مديريت په هکله بحث سوی وو، په داسي حال کي چې په پاته درېو نورو کي بحث پر سوی نه وو. د انګلستان په يوه مقاله [۱۸] کي يادونه سوې ده چې لومړنۍ رواني مرستي او د ګروپونو ملاتړ د روغتيايي کارکوونکو د حالت په مديريتولو کي مرسته کوي. د چين په يوه مقاله کي ډېره ساده لاره روښانه سوې ده چې په مرسته يې هغه کسان په نښه کولای سو چې په خطرناک حالت کي قرار لري [۱۹]. د ايټاليا په يوه مقاله کي ټينګار پر دې سوی دئ چې د کرنټين حالت بايد د کورنۍ، ټولنيزو همکاريو، همکارانو، مشرانو، مبارزوي تمريناتو او ستراتېژيو په مرسته مديريت سي [۲۱]. د

انګلستان په یوه بله مقاله کې یادونه سوې ده چي رواني ملاتړ د کرنتین په حالت کي خورا زیات اغېز درلودای سي [۲۳]. څېړونکو د مخکینۍ مرستي او وروستۍ تداوي [۲۴]، لومړنیو رواني مرستو تطبیق [۲۵]، دې ته ورته مخکینیو حالاتو څخه تجربې او پوهي استفاده کولو یادونه کړې ده. سازمانونه او افراد ټول د کرونا حالت په دوامداره مدیریتولو کي رول لوبولای سي.

## رواني ملاتړ

په مقالو کي یادونه سوې ده چي رواني مرستي او ملاتړ په حالت مدیریتولو کي د اغېزناکي ستراتېژۍ په حیث رول لوبولای سي [۱۷،۱۹]. همدا راز مبارزوي ستراتېژۍ او مناسبي پالیسۍ هم په حالت مدیریتولو کي زیات اغېز درلودای سي [۱۸،۲۰،۲۱]. په یوه انګلستانۍ مقاله کي یادونه سوې ده چي له حالاتو سره د ځان سازولو موډلونه به تر کرونا وروسته وخت کي ډېره مرسته وکړای سي. دا موډلونه د روغتیایي کارکوونکو له پاره ډېر ګټور ثابت سوي دي، په ځانګړي ډول د هغو خلکو له پاره چي د کرنتین پر مهال یوازي اوسېدلي دي. رواني مرستي او لارښووني ګټوري ثابتي سوي دي. هغه کسان چي یوازي اوسېدلي دي او بېربېري چي د کورنیو غړو ته یې کرونا سرایت و نه کړي د رواني مېتودونو او تخنیکونو په مرسته عادي حالت ته په اسانۍ راتلای سي. په دې وخت کي باید ټول کسان لکه لوړ پوړي مدیران، همکاران، ملګري او دوستان په حالت مدیریتولو کي خپله برخه رول ولوبوي. د دې تر څنګ باید د لومړنیو رواني مرستو پلان تطبیق سي. بیرته دندي ته راګرځېدل ډېره حساسه موضوع ګرځېدلې ده او باید ډېر احتیاط پکښې وسي.

## د معایناتو زیاتوالی

د اړتیا په صورت کي باید ډلییز فعالیتونه، مجلسونه او نور اړین فعالیتونه پلان او تر سره سي تر څو د چاپېریال د خوندیتوب کچه نوره هم لوړه سي. د ساده او لومړنیو روغتیایي وسایلو استفاده باید ټولو ته ور زده کړه سي تر څو دوی یې استفاده کړي او د خطراتو کچه راټیټه سي [۱۹]. څېړونکي ښیي چي روغتیایي کارکوونکو د ناروغانو په هکله فکر کوي، بېربېري چي هسي نه دوی خپله او کورنۍ یې په کرونا اخته سي، له همدې کبله به یې په حالت او فعالیت کي څه ناڅه کمزوري را ښکاره کېږي. په کاري چاپېریال کي په دوامداره توګه تغیر راځي او د شخصي خوندیتوب وسایل د نوي حالت تقاضاوو ته ځواب نه سي ویلای، ځکه خو د روغتیایي کارکوونکو په حالت کي تغیر راځي چي څېړونکي یې د مورال ضعف ګڼي [۲۳]. نورو څېړونکو لیکلي دي چي باید دوی ته له مخکي توجه وسي تر څو تداوي یې وسي، تقویه سي او ارزیابي کړل سي.

## دولت

له پخوانیو دې ته ورته وبایي حالاتو څخه تر لاسه سوې تجربه او پوهه ښایي مرسته وکولای سي تر څو کرونا حالت په ښه ډول مدیریت کړای سو. روغتیایي کارکوونکو ته باید اړین تمرینات ورکول سي. دوی باید وپوهول سي چي د کرونا حالت تر څارني لاندي څنګه ونیسي. د دوی تر منځ فاصله باید مشخصه سي. دوی باید داسي وروزل سي چي د ناروغانو خدمت خپل اخلاقي مسؤلیت وګڼي. دوی باید د ناروغانو تر څنګ د ځان خیال هم وساتي. په مقالو کي یادونه سوې ده چي روغتیایي کارکوونکي او د دوی کورنۍ هم مرستي ته اړتیا لري او باید په داسي وسایلو مجهز کړل سي چي نه هم دوی ته او نه یې هم کورنیو ته ناروغي سرایت وکړي. دولت باید نوي پالیسۍ جوړي کړي تر څو د دغو خلکو مرسته وسي. همدا راز له دوی سره باید زیاتي مرستي وسي تر څو پر سیستم یې باور زیات سي او د دغو سختو حالاتو په جریان کي خپلي ستونزي شریکي کړای سي.

## رواني زدکړې

یوازې فلمونه او ویډیوې کفایت نه کوي، باید سمینارونه، کنفرانسونه او ورکشاپونه دایر سي تر څو د خلکو طبي پوهه زیاته سي. ټولې ادارې او بنسټونه باید د عامه پوهاوي کچې په لوړولو کې همکاري وکړي. ټول اړین اشخاص باید د لومړیتوب پر اساس لیست کړل سي او تداوي يې وسي. هره اداره او ډله له پخوانیو تجربو څخه په استفاده کولای سي خپل خلک په اسانۍ مدیریت او د سټرس کچه راټیټه کړي [۲۸]. څکه خو سایکو کوویډ ( Psychocovid)موډل رامنځ ته سوی دئ. د دې موډل له مخې یو ټیم د ارواه پوهني او عقلي ناروغیو متخصصین خپلو کارکوونکو ته لاربښووني کوي او مالومات ورسره شریکوي تر څو سټرس مدیریت کړي. دوی دا کار پر ځانګړو حالاتو سربېره عادي حالاتو کي هم کوي او ټولې کاري ساحې پکښې رانغاړي.

## فردي ملاتړ

د نورو په خدمت کي جدي اوسئ. له موجوده مبارزوي طریقو او ستراتېژیو څخه استفاده وکړئ. استراحت کوئ، مناسب خوراک کوئ، تمرین ته مخه کړئ او د ژوندانه غیر صحي طریقه مه خپلوئ. مقالو ښودلې چي مثبت وضعیت خپلول په سټرس مدیریت کي له قوي تجویزونو څخه دئ. مبارزوي ستراتېژۍ باید محدودي و نه اوسي. همدا راز د موضوع په حل و فصل کي له نورو اخلاقي طریقو څخه هم ګټه وسي. پخوانیو ورته حالاتو ته انعکاس ورکول سوی دئ تر څو په راتلونکي کي د روغتیایي کارکوونکو په روغتیا کي استفاده سي. هره ستونزه حل لري. د تخنیکي وسایلو په مرسته په اړیکه کي پاته سئ، د اړتیا پر وخت له همکارانو او خپل مشر سره اړیکي نیولو کي زړه نازړه مه کېږئ. ستاسو یو شمېر همکاران ښایي خاص ستاسو په څېر حالت کي اوسي. د اړیکي نیولو او خبرو آترو مختلفي لارې چارې سته [۳۲،۳۳].

رواني مرستي باید یوازې تر هغو کسانو پوري محدودي و نه اوسي چي په خطرناک حالت کي ژوند کوي. روغتیایي مقامات باید پوه او مجهز اوسي تر څو په اضطراري حالاتو کي تر ټولو حساس ناروغ خپل هدف وګرځوي. روغتیایي کارکوونکي باید ډېر ژر هدف وګرځول سي او اړوند پلان په چټکۍ تطبیق سي. په څو مقالو کي یادونه سوې ده چي د روغتیایي کارکوونکو او ډاکټرانو ذهني روغتیا ته باید توجه وسي. روغتیایي کارکوونکي پر روغتیایي مدیریت جوت اغېز درلودای سي. کاري وخت بدلولو او کاري ساعتونو کمولو ته فکر وکړئ؛ په ځانګړي ډول په هغو ځایونو کي چي حالت حساس وي. ځان ساتنه، کنټرول او تداوي زیات ارزښت درلودای سي. په دې توګه د سټرس کچه ټیټېدای سي. د دې تر څنګ کارکوونکي باید وروزل سي او د پوهاوي کچه يې لوړه سي تر څو ځان او نور له ناروغۍ څخه وساتلای سي. له روغتیایي کارکوونکو څخه باید په منظمه توګه څارنه وسي او ارزونه يې وسي. د روغتیایي کارکوونکو ناروغي باید ډېر ژر وڅېړل سي او لامل يې مالوم سي.

دولتي ملاتړ هم له مهمو ستراتېژیو څخه شمېرل کېږي. د ستراتېژیو په مرسته له سټرس سره مبارزه کولای سو. څېړونکو ښودلې ده چي د ټولني مشران او دولت عامه خلکو ته په زمینه برابرولو او پوهولو کي زیات مهم رول لوبولای سي تر څو د تبعیض او توپیري چلن په وړاندي ویښ پاته سي، دا چي دا وبا په اسیا کي راټوکېدلې ده نو نور خلک به د دې سیمو له خلکو سره په بس کي یو ځای نه کښېنستل، دوی به يې هتیو ته نه پرېښودل، له دوی څخه يې کرکه کېده او ناوړه ناسم الفاظ به يې ورته کارول. له ښه مرغه، نړۍ وال روغتیایي سازمان دا ټوله کړني نامناسبي وبللې. د دې تر څنګ څېړونکو ځینو نکاتو ته اشاره کړې ده چي په مرسته يې په

روغتیايي کارکوونکو کې سټرس مالوملای او مبارزه ورسره کولای سو: د کرونا پر مهال د ځان او نورو خیال ساتل [۳۵]. سربېره پردې، دولت باید داسي پالیسۍ وضع کړي چې په مرسته یې د روغتیايي کارکوونکو په روغتیا کې ښه والی راتلای سي.





Figure 1: PRISMA 2009 Flow Diagram

| Table 1: Descriptive analysis of stress management among health care workers | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **Ref/Author/ Country** | **Population** | **Topic** | **Design/ sampling/SS** | **Result on Stress Prevalence** | **Management** | **Concusion** |
| **17. Wen Lu et. al. China** | Fujian Provincial Hospital(Medical work force) | Psychological status of medical workforce during the COVID-19 pandemic: A cross-sectional study | CS- MHWs Non-probability online SS= 2299 | fear, anxiety and depression/ 1.4 times to feel fear, twice more likely to suffer anxiety and depression. | Not reported | Working condition. Effective strategies for psychological intervention to be provided. |
| **18. B. Gavin et.al. UK** | HCW | Caring for the Psychological Well-Being of Healthcare Professionals in the Covid-19 Pandemic Crisis | Short Review | High rates of depression, distress, anxiety insomnia & lack of govt. support. | RAPID-PFA, support groups & helplines. | Adaptive coping strategies were restricted. Ethical duty post COVID19. Reflect on past event to prepare. |
| **19. Zhou Zhu et.al., Wuhan, China** | Tongji Hospital | COVID-19 in Wuhan: Immediate Psychological Impact on 5062 Health Workers | CS- HWs Non-probability Online SS= 6568 | HWs reported stress, depression and anxiety symptoms. | Developed three effective, easy-to-use clinical screening tools to identify high-risk individuals of acute stress, depression, and anxiety among HWs. | psychological impact on HWs can be alleviated by timely implementation of psychological protective measures. |
| **20. Indrashis Podder India** | Dermatologist | Comparative analysis of perceived stress in dermatologists and other physicians during national lock-down and COVID-19 | CS- HWs Non-probability online (snow ball) SS= 384 | Perceived stress non-dermatologists (63%) compared to dermatologists (38%) & Unmarried females higher. | Not reported | Proper policies on mental health care especially in the current COVID19 era. |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | pandemic with exploration of possible risk factors | | | | |
| **21. Claudia Carmassi et.al. Italy** | HCW | PTSD symptoms in healthcare workers facing the three coronavirus outbreaks: What can we expect after the COVID-19 pandemic | Systematic reviewed studies/ PPRISMA flow chart/ SS= 24 | Level of exposure<br>Occupational role<br>Age and gender<br>Marital status<br>Quarantine, isolation and stigma<br>Previous psychiatric disorders | Family and social support<br>Supervisors and colleagues support<br>Training<br>Work organization<br>Coping strategies<br>HCWs survivors to coronavirus outbreaks<br>Coping strategies | Include these when planning for intervention to enhance resilience among HCW. |
| **22. Aman Prasad et.al., USA** | Non physician HCW | Snapshot Impact of COVID-19 on Mental Wellness in Non-Physician Otolaryngology Health Care Workers: A National Study | CS/ Non-probability Online SS= 347 | High rate of psychological symptoms, particularly anxiety, distress, burn out | Not reported | Increased screening and support for those on the frontlines.<br>Psychological assistance hotlines, group activities or meetings.<br>Increased workplace accommodations for rest.<br>Increase work-related benefits, and safer work environments. |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **23. Matthew Walton UK** | Medical staff & HCW | Mental health care for medical staff and affiliated healthcare workers during the COVID-19 pandemic | Short Review | Acute stress reactions Moral injury PTSD | Psychological support provision Support for HCW in quarantine Team leader support Colleagues support Individual support | Has impacted many HCW psychologically but encourage opportunities to assist them. |
| **24. Neil Greenberg et.al. UK** | HCW | Managing mental health challenges faced by healthcare workers during covid-19 pandemic | Short Review | Moral injury | Early support After care | HCW should be supported, monitored & provided EBT |
| **25. Jessica A. Gold USA** | HCW | Covid-19: adverse mental health outcomes for healthcare workers | Short Review | mental health, substance use, stigma, lack of time, hazard pay, inadequate & lack of PPE | psychological first aid (PFA) implementation | Screening, triage and reference HCW |
| **26. Ambrose H. Wong et.al. USA** | HCW | Healing the Healer: Protecting Emergency Health Care Workers' Mental Health During COVID-19 | Literature review | Re-use of face masks, PPEs beyond specialty Physical & psychological hardship. Altruistic care for the in need was aim. | Learnt lessons from previous disaster on mental health. Improve wellbeing Ensure unmet needs | Ensure unmet needs in order of priority by govt. Serving patients regardless. Healing the healer to protect their lives & patients |
| **27. Niall Galbraith et.al. Canada** | Doctors | The mental health of doctors during the COVID-19 pandemic | Literature review | Reluctant to disclose mental health problems | At organizational level At the individual level | Argued HCWS & their families are to be supported. Authorities to show sound leadership |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **28. Rodolfo Buselli et.al. Italy** | Hospital staff | Psychological Care of Health Workers during the COVID-19 Outbreak in Italy: Preliminary Report of an Occupational Health Department (AOUP) Responsible for Monitoring Hospital Staff Condition | Intervention study SS= 106 | Psychosocial problems | Psico-Covid19 Aim is to prevent , support and treatment | Urgent need for psyco-educational improvement like videos, seminars and so on to empower the HCWs. Collaborative strategies from other departments. Gener specific since seems women are more vulnerable. Improve on the intervention for long term. |

**پایله**

په پورته جدول کي هغه ټولي ځانګړني ليکل سوي دي چي له مخي يې څېړنيزي مقالې انتخاب سوي او په دې مقاله کي استفاده سوې دي. استفاده سوي څېړنيزي مقالې د ۲۰۱٦ او ۲۰۲۰ کلونو تر منځ خپرې سوي دي. د هيوادونو له مخي يې شمېر په دې ډول دئ: انګستان درې مقالې [۱۸،۲۳،۲۴]، امريکا درې مقالې [۲۲،۲۵،۲٦]، چين دوې مقالې [۱۷،۱۹]، ايټاليا دوې مقالې [۲۱،۲۸]، کاناډا يوه مقاله [۲۷]، هند يوه مقاله [۲۰]. ليکوالانو هغه خلک مطالعه کړي دي چي په روغتونونو کي کار کوي او تمرکز يې پر روغتيايي کارکوونکو دئ، مګر په يوه مقاله کي د غير صحي کارکوونکو يادونه هم سوې ده. په څلورو مقالو کي د مختلفو ګروپونو خلک مطالعه سوي دي [۱۷،۱۹،۲۰،۲۲]، په څلورو مقالو کي لنډي کتني سوي دي [۱۸،۲۳،۲۴،۲۵]، په يوه مقاله کي تېرو اثارو ته سيستماتيکه کتنه سوې ده [۲۱]، په دوو مقالو کي تېرو اثارو ته په مخکينۍ طريقه کتنه سوې ده [۲٦،۲۷]. د کرونا له وجهي د نمونې اخيستنه انلاين وه، مګر د نمونې اندازه د شپږو مقالو له منځ څخه انتخاب سوې ده [۱۷،۱۹،۲۰،۲۲،۲۴،۲۸]. د مقالو پايلي ښيي چي ټولي مقالې د موجوده سټرس په هکله دي. موږ پرېکړه وکړه چي موجوده سټرس وازمويو، څکه له موجوده سټرس پرته مديريت شتون نه سي درلوداى. اخځليکونه د وهم، اندېښنې او خپګان [۱۷]، د خپګان لوړي کچې او دولت کم رنګه مرستي [۱۸]، د خپګان نښو سټرس [۲۰]، له دندي، کرنتين، يوازيوالي او رواني بې نظميو څخه راپورته سوي سټرس [۲۱] يادونه کوي. رواني سټرس په روغتيايي کارکوونکو کي زيات وو [۲۲]. په طبي کارکوونکو کي PTSD, post-traumatic stress disorders, moral injury and acute stress ليدل کېږي [۲۳]. په انګلستان کي هم دمورال ضعف ليدل سوى دئ [۲۴]. په امريکا کي ليدل سوي چي سټرس د نشه توکو استفاده کولو، تور، خطر، لږ وخت، د ځان ساتني وسايلو د ناسم استعمال يا دوهم ځل استعمال څخه رامنځ ته سوى دئ [۲۵]. په يوه مقاله کې ليکل سوي ول چي د ځان ساتني وسايلو دوهم ځل استعمال کارکوونکي له رواني ستونزو سره

مخ کړي دي [۲٦]. په کاناډا کې لیکل سوي مقالې ښودلې چې ډاکټران د خپل ذهني روغتیایي حالت او ستونزو څرګندولو سره علاقه نه ښيي [۲۷]. د ایټالیا په روغتیایي کارکوونکو کې هم رواني ستونزي لیدل سوي دي. یوازي په دوو مقالو کې ښودل سوي چې روغتیایي کارکوونکو د ځان خیال ساته [۲۳،۲۷].

## مباحثه

د دې څېړنیزي مقالې په ترڅ کې وښودل سوه چې د روغتیایي کارکوونکو تر منځ سټرس مدیریت له ډېرو مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي؛ همدا راز وښودل سوه چې دوی څنګه کولای سي په دې وخت کې د خپلو ځانونو او ناروغان خیال وساتي. تحلیل او د مالوماتو خلاصې وښوده چې روغتیایي کارکوونکي په ځومره زیاته کچه سټرس تجربه کوي. مقالو وښوده چې دولتونو په مختلفو کچو کې مختلف مېکانیزمونه په لاره اچولي دي. په روغتیایي خدماتو کې رواني تخنیکونو استفاده کولو ته هم اشاره سوې ده تر څو د کرنتین په حالت کې د افرادو مورال له زخمي کېدو څخه ژغورل سوی وي. د نړۍ وال روغتیایي سازمان راپور ښيي چې د اوسنیو جریاناتو له کبله روغتیایي کارکوونکو تر سټرس لاندي حالت او ملګري یې په عادي حالت قرار لري. څکه خو نه سو ویلای چې دوی خپلي دندې په ښه ډول مخته وړلای نه سي. څکه خو د خپلي ذهني روغتیا او شاوخوا خلکو ساتلو کې مدیریت ډېر زیات اغېزناک ثابت سوی دئ.

## اخځليکونه


1. Vuppalapati C, Raghu N, Veluru P, Khursheed S. A system to detect mental stress using machine learning and mobile development. In2018 International Conference on Machine Learning and Cybernetics (ICMLC) 2018 Jul 15 (Vol. 1, pp. 161-166). IEEE.
2. Bernstein A. The Myth of Stress: Where Stress Really Comes From and How to Live a H. Simon and Schuster; 2010 May 4.
3. Tomaszewski J. The Effects of Stress on College Students.
4. Freshwater S. Types of stress and health hazards. Spacious Therapy. 3 Jan;17.
5. Birhanu M, Gebrekidan B, Tesefa G, Tareke M. Workload Determines Workplace Stress among Health Professionals Working in Felege-Hiwot Referral Hospital, Bahir Dar, Northwest Ethiopia. Journal of environmental and public health. 2018;2018.
6. Kramer RA. Identifying and reducing organizational stress: recommendations for law enforcement leaders.
7. Godifay G, Worku W, Kebede G, Tafese A, Gondar E. Work related stress among health care workers in Mekelle City Administration Public Hospitals, North Ethiopia. Work. 2018;46.
8. Saini NK, Agrawal S, Bhasin SK, Bhatia MS, Sharma AK. Prevalence of stress among resident doctors working in Medical Colleges of Delhi. Indian journal of public health. 2010 Oct 1;54(4):219.
9. KOMPIER M, Cooper C. Introduction: Improving work, health and productivity through stress prevention. InPreventing stress, improving productivity 2012 Nov 12 (pp. 19-26). Routledge.

**10.** Bachmann S. Epidemiology of suicide and the psychiatric perspective. International journal of environmental research and public health. 2018 Jul;15(7):1425.

**11.** Kalia M. Assessing the economic impact of stress [mdash] The modern day hidden epidemic. Metabolism-Clinical and Experimental. 2002 Jun 1;51(6):49-53.

**12.** Nilachal N, Trivedi P. A case study of the effect of Yagya on the level of stress and anxiety. Interdisciplinary Journal of Yagya Research. 2019 Dec 31;2(2):07-10.

**13.** Parashar M, Singh M, Kishore J, Pathak R, Panda M. Prevalence and correlates of stress among working women of a tertiary health centre in Delhi, India. Indian Journal of Medical Specialities. 2017 Apr 1;8(2):77-81.

**14.** Schonfeld IS, Mazzola JJ. A qualitative study of stress in individuals self-employed in solo businesses. Journal of occupational health psychology. 2015 Oct;20(4):501.

**15.** Petreanu V, Iordache R, Seracin M. Assessment of work stress influence on work productivity in Romanian companies. Procedia-Social and Behavioral Sciences. 2013 Oct 10; 92:420-5.

**16.** AbuRuz ME. A comparative study about the impact of stress on job satisfaction between Jordanian and Saudi nurses. European scientific journal. 2014 Jun 1;10(17).

**17.** Lu W, Wang H, Lin Y, Li L. Psychological status of medical workforce during the COVID-19 pandemic: A cross-sectional study. Psychiatry research. 2020 Apr 4:112936.

**18.** Gavin B, Hayden J, Adamis D, McNicholas F. Caring for the psychological well-being of healthcare professionals in the Covid-19 pandemic crisis. Irish Medical Journal. 2020 Apr 3;113(4):51-.

**19.** Zhu Z, Xu S, Wang H, Liu Z, Wu J, Li G, Miao J, Zhang C, Yang Y, Sun W, Zhu S. COVID-19 in Wuhan: Immediate Psychological Impact on 5062 Health Workers. MedRxiv. 2020 Jan 1.

**20.** Podder I, Agarwal K, Datta S. Comparative analysis of perceived stress in dermatologists and other physicians during home-quarantine and COVID-19 pandemic with exploration of possible risk factors-A web-based cross-sectional study from Eastern India. Dermatologic Therapy. 2020 Jun 7.

**21.** Carmassi C, Foghi C, Dell'Oste V, Cordone A, Bertelloni CA, Bui E, Dell'Osso L. PTSD symptoms in Healthcare Workers facing the three Coronavirus outbreaks: what can we expect after the COVID-19 pandemic. Psychiatry Research. 2020 Jul 20:113312.

**22.** Prasad, Aman et al. "Snapshot Impact of COVID-19 on Mental Wellness in Nonphysician Otolaryngology Health Care Workers: A National Study." *OTO Open* vol. 4,3 2473974X20948835. 7 Aug. 2020, doi:10.1177/2473974X20948835

**23.** Walton M, Murray E, Christian MD. Mental health care for medical staff and affiliated healthcare workers during the COVID-19 pandemic. European Heart Journal: Acute Cardiovascular Care. 2020 Apr 28:2048872620922795.

24. Greenberg N, Docherty M, Gnanapragasam S, Wessely S. Managing mental health challenges faced by healthcare workers during covid-19 pandemic. bmj. 2020 Mar 26;368.

25. Gold JA. Covid-19: adverse mental health outcomes for healthcare workers.

26. Wong AH, Pacella-LaBarbara ML, Ray JM, Ranney ML, Chang BP. Healing the Healer: Protecting Emergency Health Care Workers' Mental Health During COVID-19. Annals of Emergency Medicine. 2020 May 3.

27. Galbraith N, Boyda D, McFeeters D, Hassan T. The mental health of doctors during the Covid-19 pandemic. BJPsych bulletin. 2020 Apr 28:1-4.

28. Buselli R, Baldanzi S, Corsi M, Chiumiento M, Del Lupo E, Carmassi C, Dell'Osso L, Cristaudo A. Psychological Care of Health Workers during the COVID-19 Outbreak in Italy: Preliminary Report of an Occupational Health Department (AOUP) Responsible for Monitoring Hospital Staff Condition. Sustainability. 2020 Jan;12(12):5039.

29. AdamsJG, WallsRM. Supporting the Health Care Workforce During the COVID-19 Global Epidemic. JAMA 2020, published online 12 March. 10.1001/jama.2020.3972 32163102

30. BrooksSK, WebsterRK, SmithLE, etal . The psychological impact of quarantine and how to reduce it: rapid review of the evidence. Lancet 2020;395:912-20. 10.1016/S0140-6736(20)30460-8 32112714

31. LaiJ, MaS, WangY, etal . Factors Associated With Mental Health Outcomes Among Health Care Workers Exposed to Coronavirus Disease 2019. JAMA Netw Open 2020;3:e203976.32202646.

32. Shechter A, Diaz F, Moise N, Anstey DE, Ye S, Agarwal S, Birk JL, Brodie D, Cannone DE, Chang B, Claassen J. Psychological distress, coping behaviors, and preferences for support among New York healthcare workers during the COVID-19 pandemic. General hospital psychiatry. 2020 Jun 16.

33. Ho CS, Chee CY, Ho RC. Mental health strategies to combat the psychological impact of COVID-19 beyond paranoia and panic. Ann Acad Med Singapore. 2020 Jan 1;49(1):1-3.

34. Low JGH, Wilder-Smith A. Infectious respiratory illnesses and their impact on healthcare workers: a review. Ann Acad Med Singapore 2005; 34:105–10.

35. O'Shea BA, Watson DG, Brown GDA, Fincher CL. Infectious disease prevalence, not race exposure, predicts both implicit and explicit racial prejudice across the United States.

# STRESS MANAGEMENT AMONG HEALTH CARE WORKERS: CARING FOR YOUR SELF & OTHERS DURING COVID-19 PANDEMIC: SYSTEMATIC REVIEW

Dr. Khalil Ahmad Kakar MD, MPH,

Lecturer

## Abstract:

**Introduction:** Worldwide the United Nations for example the world health organization (WHO) has classified stress as a universal epidemic. Work related stress affects global expenditure yearly and has been considered to be of high health threat. In the Unites States, the projection revealed that a little above average (54%) illness was due to stress. Similarly reports have it that most of the psychological problems for example suicides and the thoughts of it was associated with stress and has led to diverse ill health around the world. Aim: Highlighted stress management (the wide range of techniques, therapies and changes an individual makes or needed to make to alleviate a better health and wellbeing) among health care workers, while caring for themselves and others "healing the healer" as some would say.

**Method**: Involved the use of PRISMA strategy "the preferred reporting item for systematic reviews". Search engines like PUMED CENTRAL, GOOGLE SCHOLAR, MEDLINE and open access journals retrieved between 2016 and August 2020. Inclusion criteria and exclusion criteria was applied. Data extraction and synthesis followed in a qualitative descriptive format by the consultants.

**Result**: Initial result yielded 4515 identified through data base after duplicates removed (2500), screening (1570) and eligible articles (930) remained 12 articles included for this review finally. Of this 12, showed all the studies was identified with prevalence of stress. Three studies in the UK, three studies in USA, two in China, two studies in Italy, one study each was identified with Canada and India. Due to the current scenario of COVID19, study design was majorly cross-sectional non probability online, sampling technique was majorly online but the sampling size was identified among 6 articles. References reported fear, anxiety and depression, high rates of depressive symptoms and lack of governmental support. Stress management highlighted 9 studies and very few studies reflected the entire topic. However, due to lack of research and methodological draw backs we are unable to draw concrete conclusion.

**Conclusion**: This COVID19 unprecedented situation has impacted several HCWs, and those around them. Regardless several interventions would be needed not limited to psychological support, increased screening, psycho-social education and government support to monitor, support and care for HCWs when caring for themselves and others during COVID-19.

**Keywords:** HCWs, Stress management, Work stress, COVID19, prevalence of stress.

# په کاربو هايدريتونو کې د مونو سکرايډونو ساختماني جوړښتونه

نوماند پوهنيار محمد هاشمي
د طب پوهنځي استاد
0707210465
Mg.hashami2010@gmail.com

**لنډيز**

کاربوهايدريتونه تقريباً د اتلسمي پېړۍ له پيل څخه تر مطالعې لاندې نيول سوي دي. چې د اتلسمي پېړۍ تر آخري لسيزې پورې ئې مختلف ساختمانونه پېژندل سوي دي. هر ساختمان ئې د مرکب خاص کيمياوي خواص څرګندوي. د کاربوهايدريتونو ساختمانونه د دې مرکبونو د ښه پېژندني له پاره لومړنی مهم پړاو دئ. د ساختمانونو په پېژندلو سره د کاربوهايدريتونو مختلف ډولونه يو له بل سره توپيرولای سو، همدارنګه د کاربوهايدريتونو ساختمانونه او مهم مصنوعي مرکبونه چې په صنعت او طبابت کې زيات ارزښت لري، په کاربوهايدريتونو کې د مونو سکرايدونو ساختمانونه په مختلفو وختو کې د مختلفو اشخاصو له خوا پېژندل سوي دي. چې بد بختانه په پښتو ژبه په دې اړه کره او فهمېدونکي معلومات شتون نه لري. په همدې منظور مې و غوښتل يوه کتابتوني څېړنه وکړم، تر څو پښتو ژبه د دې معلوماتو په خپرولو سره لا غني کړم. د کاربوهايدريتونه ساده مرکبونه يعني مونو سکرايدونه ځنځيري او کړئيز جوړښتونه لري، ځنځيري جوړښتونه ئې د ايمل فيشر له خوا او کړئيز جوړښتونه ئې د هاورډ له خوا پېژندل سوي دي. د کاربوهايدريتونو کړئيز او ځنځيري جوړښتونه همېشه تعادل رامنځ ته کوي، په دې معنا چې د کاربوهايدريتونو د ډېر او لږ مقدار تر منځ د دوی د جوړښتونو په نسبت کې کوم تغير نه ليدل کېږي او که د ډېر لږ وخت له پاره هم توپير وليدل سي، همزمانه ئې نسبت برابرېږي. کاربوهايدريتونه په طبيعت کې شتون لري، د طبعي سرچينو څخه په اسانۍ سره لاسته راوړل کيږي. خو يو شمېر کاربوهايدريتونه په لابراتوار کې په مصنوعي ډول هم لاسته راځي؛ د بيلګې په توګه ويلای سو لکه اسپارتم، سکارلوز، اسوسلفيم، پوتاشيم او داسي نور چې د نړۍ د صنعت او اقتصاد د پرمختګ سبب ګرځيدلي دي.

**کليدي کلمې:** کاربوهايدريتونه، فورانوزونه، پيرانوزونه، مصنوعي قندونه

**پېژندنه**


د کائيناتو ستر لايزال خالق تعالی بشريت ته د ژوند کولو د بشري ضرورتونو د پوره کولو او مختلفو سهولتونو د برابرولو له پاره ټول طبيعت را منځ ته کړی دئ. انسانانو ته ئې د فکر کولو او څېړني قوت او طاقت ورکړی دئ. د بشريت د پيل څخه انسانانو د خپل ژوندانه د پېشرفت او پرمختګ په موخه د طبيعت مختلف رازونه څېړلي دي. دا چي د کاربوهايدريټونو ساختمانونه کوم ډولونه لري؟، په صنعت کي ئې مشهور مصنوعي مرکبونه کوم دي؟ او څه ارزښت لري؟ د دې موضوع اړوند ضروري ده چي په پښتو ژبه کره معلومات راټول سي، د کاربوهايدريټونو د ساختمانونو ډولونه وپېژندل سي او مهم مصنوعي کاربوهايدريټونه وپېژندل سي. کاربوهايدريټونه چي د قندونو او سکرايدونو په نومونو هم مشهور دي د ډېري موديې څخه انسانان ورسره اشنا دي. په مختلفو غذايي موادو کي استفاده کېږي. قندونه يا کاربوهايدريټونه خوږ خوند لري، همدارنګه ويلای سو؛ هغه عضوي مرکبونه چي په خپل ترکيب کي د کاربن (C)، هايدروجن (H) او اکسيجن (O) عناصر ولري او د ($Cn(H_2O)m$) فورمول پر اساس جوړ وي، د قندونو يا کاربوهايدريټونو په نوم ياديږي.که څه هم ډېری قندونه د پورته عمومي فورمول په شان په خپل ترکيب کي د هايدروجن او اکسيجن اتومونو تر منځ (۱:۲) نسبت لري؛ لکه د سکروز ماليکولي فورمول ($C_{12}H_{22}O_{11}$) دئ، چي ($C_{12}(H_2O)_{11}$) ئې هم ليکلای سو. همدارنګه د ګلکتوز ماليکولي فورمول ($C_6H_{12}O_6$) دئ، چي ( $C_6(H_2O)_6$) ئې هم ليکلای سو، مګر داسي ډېر قندونه سته چي د هايدروجن او اکسيجن د اتومونو ترمنځ ئې (۱:۲) نسبت نه وي؛ لکه ډي اوکسي رايبوز(DNA) قند چي ماليکولي فورمول ئې ( $C_5H_{10}O_4$) دئ. دا ډول ساختمانونه د قندونو له عمومي فورمول څخه توپير لري. هغه اشخاص چي د شکري (Diabetes) ناروغي لري، نو د مصنوعي قندونو څخه استفاده کوي. مصنوعي قندونه چي خوږ خوند لري مګر د کاربوهايدريټونو په شان لوی ماليکولونه نه جوړوي. تر اوسه په زياته کچه مصنوعي قندونه پېژندل سوي دي، چي په صنعت کي ئې توليدي فابريکې وجود لري او روزمره په زياته پيمانه توليديږي.

**کړنلاره**

زما څېړنه کتابتوني ده، چي د کاربوهايدريټونو د ساختماني جوړښتونو او مصنوعي قندونو په هکله تر سره سوې ده. په دې څېړنه کي له معتبرو کتابونو او مقالو څخه ګټه اخيستل سوې ده، تر څو د موضوع په هکله خصوصاً په پښتو ژبه کي موجوده خلا ډکه سي. په دې مقاله کي له کتابو، مجلو، انټرنيټي سايټو او نورو څخه ګټه اخيستل سوې ده.

**کاربوهايدريټونه**

قندونو ته کاربوهايدريټونه ويل کيږي. د کاربو کلمه د کاربن او هايدريټونه د اوبو نمايندګي کوي. په دې خاطر که قندونو ته تودوخه ورکول سي، اوبه او کاربن لاسته راځي. همدارنګه ويلای سو کاربوهايدريټونه د پولي هايدروکسي الديهايدونو، پولي هايدروکسي کيټونونو او د دوی د هايدروليز سوو مرکبونو څخه عبارت دي.
روزمره نباتات کاربن ډای اکسايد او اوبو ته د لمر د وړانګو په شتون کي تعامل ورکوي او په يو قيمته قندونو ئې تبديلوي، چي دې عمليې ته فوتو سينتيز (ضيايي ترکيب) ويل کيږي.





Glucose

په دې عمليه کې د نبات د پاڼو په واسطه د لمر انرژي جذبيږي، نبات دغه جذب سوې انرژي د کاربن ډای اکسايد څخه د لوی عضوي مرکبونو لکه ګلوکوز په جوړولو مصرفوي. د کاربن ډای اکسايد د (C = O) کاربن او اکسېجن دوه ګوني اړيکه د عضوي لوی مرکب په(C – H) او (C – O) اړيکو باندې بدلوي.

**د کاربوهايدريتو ساختمانونه (Structures of Carbohydrates):** کاربوهايدريتونه درې مشهور جوړښتونه لري، کوم چې تر اوسه پېژندل سوي او کارول کيږي.


**۱- ځنځيري ساختمانونه (Line Structures):**

په(۱۸۹۱م.) کال کې د کاربوهايدريتو له پاره ځنځيري ساختمانونه د جرمن کيميا پوه ايمل فيشر (Emil Fischer) له خوا طرحه سوي دي.





کاربوهايدريتونه په ځنځيري ساختمانو کې خلاص جوړښتونه لري، په دې جوړښتو کې به د الديهايد ګروپ او يا د کيتون ګروپ وجود لري. پاتي دې نه وي! هغه کاربوهايدريتونه چې په خپل ترکيب کې د الديهايد ګروپ لري، د الدوزونو په نوم سره ياديږي. همدارنګه هغه کاربوهايدريتونه چې په خپل ترکيب کې د کيتون ګروپ لري، د کيتوزونو په نوم سره ياديږي.

**۲- کړييز ساختمانونه (Ring Structures):** کاربوهايدريتونه په اوبلن محيط کې له ځان څخه داسي خاصيتونه ښيي، چې يوازي ځنځيري ساختمانونه ئې جواب نه سي ويلای. د نولسمي پېړۍ په شروع کې هاورډ کيميا پوه د کاربوهايدريتونو له پاره کړييز ساختمانونه طرحه کړه. په اوبلن محيط کې کاربو هايدريتونه د فوران او يا پيران کړييز ساختمانونه جوړوي، چې دې عمليې ته (Cyclization) ويل کيږي، لکه:





کړييز جوړښتونه په خپل ترکيب کې د هيمي اسيتال گروپ لري. هاورډ هم کله چې د خپلو تجربيو په جريان کې د هايدروکاربونو هغه تعاملونه وپيژندل، کوم چې پرته د هيمي اسيتال گروپ څخه ممکن نه دي نو د کاربوهايدريتو له پاره ئې کړييز ساختمانونه پيشنهاد کړل. د سايکلايزيشن په عمليه کې ځنځيري جوړښت په کړييز او کړييز جوړښتونه په ځنځيري جوړښتونو د کيمياوي تعاملونو په جريان کې تبديليږي.

**۳- چوکۍ ډوله ساختمانونه (Chair Structures):** د کاربوهايدريتونو په ډايميرونو او پوليميرونو کې د اړيکو جوړښت د هاورډ ساختمان په پرتله په (Chair structures) چوکۍ ته ورته ساختمانونو کې ښه صدق کوي، نو ځکه د کاربو هايدريتونو له پاره چوکۍ ته ورته ساختمانونه ډېر استعماليږي، لکه:





چوکۍ ته ورته ساختمانونه لاندې ډولونه لري، چې يو له بل سره ئې ثبات (Stability) توپير لري.





په پورته ساختمانو کي (upper, rear, right corner) ساختمان تر نورو ساختمانو ډېر ثبات لري.

### د کاربو هایدریتونو د پیرانوز او پورانوز جوړښتونه (Furanose & Fyranose Structures):

هغه کاربوهایدریتونه چي کرييز ساختمانونه ئې د پیران ساختمان ته ورته وي؛ يعني شپږ ضلعي وي، د پیرانوز په نوم سره یادیږي، لکه: ګلوکوز، ګلکتوز اونور...





پیران هتروسایکلیک عضوي مرکب دئ کوم چي شپږضلعي جوړښت لري. نو هغه هایدروکاربونونه کوم چي شپږ ضلعي جوړښتونه جوړوي، د پیرانوز په نوم سره یادیږي. همدارنګه هغه کاربوهایدریتونه چي کرييز ساختمان ئې د فوران ساختمان ته ورته وي؛ يعني پنځه ضلعي وي، د فورانوز په نوم سره یادیږي، لکه: فرکتوز او نور...



**په کاربو هايدريتونو کي فضايي جوړښتونه(The Stereochemistry of Hydrocarbons)**

۱. ايناټنميرونه (Enantiomers):


هغه کاربوهايدريتو ته ويل کيږي چي ساختهانونه ئې يو د بل تصوير وي. دا خرګندوني د لومړي ځل له پاره په(۱۸۹۱م.) کال د جرمني کيميا پوه ايمل فيشر (Emil Fischer) له خوا سوي او همدارنګه د مونو سکرايدونو له پاره ځنځيري ساختهانونه د فيشر طرحي (Fischer projections) په نوم سره ياديږي. لکه په ګلايسر الديهايد کي.




د (D) توری د Dextrorotatory) راسته طرف ته څرخېدل) او د (L) توری د (Levorotatory چپه طرف ته څرخېدل) د کلمو څخه اخيستل سوي دي.

(-)-glyceraldehyde)) ته (L-glyceraldehyde) او (+)-glyceraldehyde)) ته (D-glyceraldehyde) هم ويل کيږي. همدارنګه ويلای سو هغه ساختهانونه چي د کاربونيل ګروپ څخه ئې د تر ټولو ليري (Chiral) کاربن د هايدروکسيل د ګروپ فاصله د کاربونيل د اکسيجن څخه زياته وي (D) او که کمه وي د (L) جوړښت درلودونکي بلل کيږي.


د ګلوکوز په ماليکول کي د کاربن د اتومو ډولونه په لاندي ډول دي:




د (D) او (L) ساختهانونه د فينل تاميت (د کاربونيل ګروپ څخه تر ټولو ليري Chiral کاربن) د کاربن په هايدروکسيل ګروپ پوري تړاو لري. که د ( OH) ګروپ راسته طرف ته وي د (D) او که چپه طرف ته وي د (L) ساختمان بلل کيږي.


**۲. α او β ساختهانونه (Enanomeres):**

په کريزو ساختمانو کي د ايناميريک کاربن د هايدروکسيل ګروپ لوړ او کښته ساختمانونه جوړوي، چي لوړ ئې د(β) او کښته ئې د (α) جوړښت بلل کيږي، لکه:




۳- ايفيميرونه(Epimeres):


هغه کاربو هايدريتونه چي د (Epimeric carbon) اتومو ساختمان ئې توپير ولري د ايفيميرونو په نوم سره ياديږي، لکه:





**په کاربوهايدريتونو کي (Chiral) کاربونونه:**

په کاربوهايدريتو کي هغه دريمي او خلورمي کاربونونه چي دري بعدي (فضائي) جوړښتونه ولري د (Chiral) کاربونو په نامه سره ياديږي.

د کاربوهايدريتو د ايزوميرو شمېر هم د (Chiral) کاربونو سره مستقيم تړاو لري او د($2^n$) د فورمول پر اساس ئې ايزوميرونه محاسبه کيږي. په دې فورمول کي(n) د (Chiral) کاربونو د شمېر سمبول دئ، لکه په لاندي مرکبونو کي:



کليسترول نه (Chiral) کاربونونه لري نو په کليسترول کي ( $2^9$ =512 ) فضايي ايزوميرونه احتمال لري.



ګلوکوز څلور (Chiral) کاربونونه لري نو په ګلوکوز کي

($2^4$ =16) فضایي ایزومیرونه احتمال لري. a

**مصنوعي قندونه (Artificial sweeteners):**


سکروز په زیات استعمالولو د انسان په وجود کي مختلف صحي مشکلات رامنځته کوي، لکه شکره (Diabetes) او د غاښو ورستیدني ناروغي (Tooth Decay) او داسي نور...

پورته یاد صحي مشکلات او د خلکو ډېره غوښتنه وه چي د مصنوعي قندونو د انکشاف سبب سول او د مصنوعي قندونو ډېر ډولونه وپېژندل سول، دلته ئې له څو مشهورو مرکبونو څخه یادونه کوو.

**سکارین(Saccharin):**

سکارین په (۱۸۷۹م.) کال کي په تصادفي ډول کشف سوی. سکارین د لومړیو پېژندل سوو مصنوعي قندونو څخه شمېرل کیږي او لومړنی مصنوعي قند دئ چي د شکري د ناروغانو د سکروز د بدیل په توګه ئې استفاده کړې دئ.

تر(۱۹۷۰م.) کال پوري ځینو څېړنو سکارین سرطاني باله خو د پوره او پراخه څېړنو څخه معلومه سوه چي سکارین د استعمال له پاره مناسب دئ او هیڅ سرطاني نه دئ. دا چي د سکارین په استعمالولو سره د انسان د خولې خوند بدېدی نو ځکه ډېر نور مصنوعي قندونه بازار ته عرضه سوه.



Saccharin


**اسپارټم (Aspartame):**


د مصنوعي قندونو له جملې څخه یو هم اسپارټم دئ. د اسپارټم تجارتي نوم نیوتراسویټ (NutraSweet) دئ. د لومړي ځل له پاره په (۱۹۸۱م.) کال کي د (FDA) له خوا بازار ته عرضه سو. د اسپارټم خوږوالی تقریباً (۲۰۰) ځلي د سکروز په پرتله زیات دئ. د اسپارټم په استعمالولو ډېرو خلکو د پینایل کیتونوریا (Phenylketonuria) په نامه ناروغۍ څخه شکایت کاوه. همدارنګه د اسپارتم په استعمال سره د انسان په وجود کي د میتابولیزم پروسه په مکمل ډول سرته نه رسېدله نو همداوجه وه چي د اسپارټم د ډېر استعمال مخه ئې ونیول.

د یادوني وړ ده چي د پینایل کیتونوریا (Phenylketonuria) په (PKU) سره مشهوره نارغي ده. د (PKU) ناروغانو په وجود کي د هغه خاصو انزایمونو ترشحات ډېرېږي چي د پینایل الانین (Phenylalanine) د تجزیې له پاره د نارمل انسان په وجود کي تولیدیږي او په پایله کي د پینایل الانین چي یو امینو اسید دئ، اندازه ئې د مریض په وجود کي ډېرېږي. د پینایل الانین ډېرېدل

مختلفي صحي ستونزي را منځ ته کوي؛ لکه په ميندو کي د ماشوم بې وخته زېږېدنه (Pregnancy loss)، په وجود کي د حياتي فعاليتونو ورو والی (Delayed Development) او د عضلاتو شخ والی (Seizures).


په (۲۰۰۱م.) کال کي د (FDA) له خوا د اسپارټيم بل مرکب د نيوټيم (Neotame) په نوم بازار ته عرضه سو، چي تقريباً له سکروز څخه (۱۰۰۰۰) ځلي زيات خوږوالی ئې درلود، مګر ياد مرکب هم د ورته صحي مشکل يعني پيناېل کيتونوريا (Phenylketonuria) ناروغۍ منځ ته راوړنکی وو.




### اسوسلفيم پوتاشيم (Acesulfame potassium):

اسوسلفيم پوتاشيم ته (Acesulfame K) هم ورته ويل کيږي. نوموړی مرکب د (FDA) (Food development Association) له خوا په (۱۹۹۸م.) کال بازار ته عرضه سو. په اولو وختو کي د مشروباتو په جوړولو کي ورڅخه زيات کار اخيستل کېدی مګر اوس د اسوسلفيم پوتاشيم او اسفارټيم له مخلوطونو څخه په مشروباتو کي استفاده کيږي.




### سکارلوز (Saccharlose):

سکارلوز تقريباً يوازنۍ مصنوعي خوږه ده چي ساختمان ئې کاربوهايدريتونو ته ورته دئ. د سکروز په پرتله (٦٠٠) ځله زيات خوږوالی لري. د ځينوکيمياوي تعاملونو په مرسته له سکروز څخه لاسته راځي. د سکروز سره ئې توپير دا دئ چي د سکروز ځيني د هايدروکسيل ګروپونه په کلورين تعويض سوي دي. د نورو مصنوعي قندونو پر خلاف د تودوخي په واسطه نه تجزيه کيږي، نو ځکه په پخو غذاوو کي زيات استعماليږي.



**پایله**

کاربوهايدريتونه د کاربن، هايدروجن او اکسيجن څخه تشکيل سوي مرکبونه دي. تر ټولو ساده کاربوهايدريتونه د مونو سکرايدونو په نوم سره ياديږي. مونو سکرايدونه د ژونديو موجوداتو د وجود له پاره د انرژۍ د ښه منبع په توګه پېژندل کيږي. د فوتو سنتيز د عمليې پر اساس په نباتاتو کي په طبعي ډول توليديږي. په کاربوهايدريتونو کي مونو سکرايدونه ځنځيري او کړييز جوړښتونه لري. ځنځيري جوړښتونه ئې د الديهايدي ګروپ په درلودلو سره الدوزونه او د کيتوني ګروپ په درلودلو سره کيتوزونه تشکيلوي، چي هر يو ئې بېل بېل خواص لري. کيتوزونه د ټاټو ميرايزيشن د عمليې په واسطه چي يوه خود سرانه عمليه ده، په الدوزونو بدليږي. د مونو سکرايدونو ځنځيري جوړښتونه مختلف ايزوميرونه تشکيلوي، چي مشهور ئې د انانتيميرونو (L-D جوړښتونو) او ايفيميرونو څخه عبارت دي.

همدارنګه د مونو سکرايدونو کړييز جوړښتونه په خپل ترکيب کي د هيمي اسيتل ګروپ په درلودلو سره بېل کيمياوي خواص خپلوي. د مونو سکرايدونو سايکليک جوړښتونه د سايکلايزيشن د عمليې په ترڅ کي په ځنځيري جوړښتونو بدليږي. د مونو سکرايدونو سايکليک او ځنځيري جوړښتونه رجعي دي او يو خاص تعادل قايموي. هر کله چي په يوه لوښي کي د مونو سکرايدونو ځنځيري ساختمانونه د يوې کيمياوي عمليې په جريان کي کميږي، نو فوراً سايکليک جوړښتونه خپلي کړۍ خلاصوي او په ځنځيري ساختمان باندي بدليږي. د دې له پاره چي سايکليک جوړښتونه په اسانۍ سره وليکل سي، نو د چوکۍ په شکل ساختمانونه ئې کارول کيږي. چوکۍ ته ورته ساختمانونه درې ډوله رامنځ ته کيږي چي په درو سرو کي ئې (upper, rear. right corner) ساختمان ډېر باثباته جوړښت بلل کيږي. د مونو سکرايدونو ايزوميرونه په ساختمان کي د کارل (Chiral) د کاربن په اتومو پوري اړه لري. کيميا پوهانو په لابراتوارو کي مختلف مصنوعي قندونه جوړ کړي، لکه: اسفارټم، پوتاشيم اسوسلفيم او داسي نور چي په صنعت کي زيات ارزښت لري.

**اخذ ليکونه**

پوهاند دوکتور احمدزی، خان محمد (۱۳۹۰ل.). طبي بيوشيمي، چاپ: کابل طبي پوهنتون.

ويب پاڼه: www.Kmu.edu.af

پوهندوی، ديپلوم انجينرمشکانی، رکن الدين (۱۳۹۰ل.). عضوي کيميا، چاپ وزارت تحصيلات عالي.

Swanson, K. S., Grieshop, C. M., Flickinger, E. A., Merchen, N. R., & Fahey, G. C. (2002). Effects of Supplemental Fructooligosaccharides and Mannanoligosaccharides on Colonic Microbial Populations, Immune Function and Fecal Odor Components in the Canine. The Journal of Nutrition,

Klein, D. (2013). Organic chemistry. 2nd ed. Wiley.

Goldenberg JZ, Day A, Brinkworth GD, Sato J, Yamada S, Jönsson T, Beardsley J, Johnson JA, Thabane L, Johnston BC. (2021). Efficacy and safety of low and very low carbohydrate diets for type 2 diabetes remission: systematic review and meta-analysis of published and unpublished randomized trial data. BMJ. 2021 Jan.

Jeff S. Volek, Maria Luz Fernandez, Richard D. Feinman, Stephen D. Phinney, Dietary carbohydrate restriction induces a unique metabolic state positively affecting atherogenic dyslipidemia, fatty acid partitioning, and metabolic syndrome, Progress in Lipid Research, Volume 47, Issue 5, Pages 307-318, ISSN 0163-7827, https://doi.org/10.1016/j.plipres.2008.02.003.

Navarro, D.M.D.L., Abelilla, J.J. & Stein, H.H. (2019). Structures and characteristics of carbohydrates in diets fed to pigs: a review. J Animal Sci Biotechnol 10, 39 (2019). https://doi.org/10.1186/s40104-019-0345-6

Aimutis WR, Polzin K. (2011). The gastrointestinal tract and its microflora. In: Paeschke TM, Aimutis WR, editors. Nondigestible carbohydrates and digestive health. Ames: Blackwell Publishing Ltd.; 2011. https://doi.org/10.1002/9780470958186.ch2.

Sinnott M. (2013). Carbohydrate chemistry and biochemistry: structure and mechanism. 2nd ed. Cambridge: The Royal Society of Chemistry; 2013.

Bruice, Paula Yurkanis. (2015). Organic chemistry / Paula Yurkanis Bruice, University of California, Santa Barbara.Eighth edition. | Upper Saddle River, NJ: Pearson Education, Inc.

Jonathan Clayden, Nick Greeves, and Stuart Warren. (2012). Oxford University press.

John McMurry. (2015). Organic chemistry. Ninth edition. Cornel University.

Francis A. Carey, and Robert M. (2017). Organic chemistry, Giuliano, (10th ed.)-Villanova University.

# Construction Structures of Monosaccharides in Carbohydrates

Mohammad Hashmi

Lecturer

**Abstract**

Carbohydrates have been studied since the beginning of the eighteenth century and its different structures have been known until the end of eighteenth century. Each structure of carbohydrate shows the specific chemical properties of the compound. Carbohydrate structures are the first stage for better identification of these compounds. By recognizing these structure, different types of carbohydrates can be differentiated from each other. The structures of carbohydrate and important artificial compounds are also of great importance in medicine and medicine. Monosaccharides structures in carbohydrates have been recognized by different people at different times. But, unfortunately, there is no accurate and accurate information about this in Pashto. For this reason, I wanted to investigate and add this information in Pashto. Simple compounds of carbohydrates, i.e. monosaccharides, have chains and scarlet structures. Chain structures are recognized by Emil Fisher and the structure of the chains by Harvard. Carbohydrate and chain structures always create balance, meaning that there is no change between the high and small amount of carbohydrates compared to their structures, and even if there is a difference for a long time, the ratio is equal. Carbohydrates are present in nature and can be easily obtained from natural sources. But a number of carbohydrates are obtained in the laboratory in a regular way. Such as Spartans, Scarlose, Ossalafim, Potassium and others that have led to the development of the world 's economy and industry.

**Keywords:** Carbohydrate, Foranozoone, Piranuzone, Synthetic Sugar

# کندهار ولايت کې د میکروب ضد درملو د استعمال سروې راپور

# Magnitude of antibiotic use in Kandahar Health Facility

ډاکټر احمد شاه عمر (MD,MPH)
د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې طب پوهنځي رئیس
dr.ahmadshah31@gmail.com
0700302681

**لنډيز (Abstract)**

له هغه وخته راهيسې چې د نړۍ په سطحه د عامې روغتيا په برخه کې د انټي بيوټيک درملو د غيري صحيح استعمال او په وړاندې يې د مقاومت اندېښنه پيدا سوې ده، مهمه وبلل سوه چې په ټولنه کې په خاص ډول د روغتيا پالانو د پوهې او روش په باب چې د ميکروب ضد درملو په اړه يې لري علمي او تحقيقي توجه وسي، دغه څېړنيزه ليکنه د روغتيا پالني د برخي دمختلفو علمي درجه لرونکو ډاکټرانو د تجويز کيدونکو انټي بيوټيک اندازه او پر ځای د استعمال کچه ښيي. ددې څيړني څخه هدف دادئ، ترڅو د ډاکټرانو د تشخيص مطابق د استعمال کونکو انټي بيوټيک درملو ډول او شمېر يا اندازه معلومه سي او ترڅنګ يې د ډاکټرانو د علمي رتبې ډول،د نارينه او ښځينه مريضانو نسبت او د مريضانو اجتماعي او ډيموګرافيک معلومات تحليل سي. دا سروي د کندهار ښار په يو خصوصي روغتون کې د ځانګړي پوښتنپاڼي د لاري د مريضانو د نسخو څخه چې درملتون ته يې مراجعه کول په cross sectional ډول ترسره سويده. ددې سروې د لاري دا معلومه سول چې د ډاکټرانو له لوري زيات شمېر انټي بيوټيک درمل بغير ددې چې واضح تشخيص يې کړی وي مريضانو ته تجويز کوي چې د دغه ستونزي د حل لپاره اړوند حکومتي، تحصيلي او روغتيايي اداري بايد د ځانګړو پاليسيو له مخې لازم اجرآت وکړي.

**مهم کلمات:**انټي بيوټيک، مقاومت(مکروب ضد درملو په وړاندې)، تجويز،روغتياپالان، تشخيص

## پېژندنه (Introduction)

د انتي بيوتيک په وړاندي مقاومت د ټولي نړۍ په سطحه د عامي روغتيا يوه لويه او مضره ستونزه ده،چي په کلينيکي او اقتصادي لحاظ يې ټولنه ننګولې ده، د روغتيا نړيوال سازمان اټکل کړی چي دغه مشکل د مړيني کچه زياته کړې او زياتوي ، چي په اروپايي روغتونونو کي هر کال د ددغه مشکل له کبله ۲۵۰۰۰ کسان مري او يو اعشاريه پنځه بليونه يورو اضافه مصرفېږي(۱). انتي بيوتيک ډېر زيات استعماليدونکي درمل دی ليکن دا درمل ځيني وخت په غيري مناسب ډول استعمالېږي(۲). دغه غيري صحيح استعمال د انتي بيوتيک په وړاندي مقاومت منځته راوړي ( ۳) . يو له هغو علتونو څخه چي انتي بيوتيک و مريضانو ته بې ځايه توصيه کيږي د ډاکټرانو غلط روش دی (۴) . ډېر فکتورونه سته چي د ډاکټرانو پر هغو پريکړو چي د انتي بيوتيک د تجويز اړوند يې کوي تاثير لري، او دوی د مريض اړوند کلينيکي برخه کي يو ښه لوري ته رهنمايي کوي.د مثال په ډول :په خپلو مريضانو کي د راتلونکو خرابو اختلاطاتو ويره او د مريضانو توقعات په مثبت ډول پوره کول (۵ ) . د مريضانو غيري صحيح عادتونه او کمه اندازه پوهه ددې باعث کيږي چي انتي بيوتيک بې ځايه استعمال سي او په وړاندي يې مقاومت منځته راسي (٦ ) . تعليمي اداري د انتي بيوتيک د صحيح استعمال او تجويز اړوند دواړو برخو عامه ټولني او روغتيايي مسلکي کارکوونکو ته وړ خدمتونه کوي، تر څو په دې برخه کي پرمختګ وسي (۷). په ځانګړي ډول دا مهمه ده چي د روغتيا په برخه کي نوی نسل وروزل سي او فارغه سويو ډاکټرانو ته توجه وسي (۸ ) . په حقيقت کي دوی بايد په دې پوه سي چي په راتلونکي کي د انتي بيوتيک د غلط استعمال له کبله نور هم مقاومت زياتيږي ( ۹) .

په دې برخه کي مختلفي مطالعې او سروې ګاني سرته رسيدلي دي تر څو د انتي بيوتيک په وړاندي د طبي ډاکټرانو پوهه او روش معلوم کړي. د دغو زياتو مطالعاتو څخه معلومه سوې ده، چي لږو کسانو د دغو ډاکټرانو څخه په دې برخه کي جواب ويلی دی او ونډه يې اخيستې ده. دغه ټوله مطالعات په يوه يوه هيواد کي لکه ( چين، کانګو، فرانسه، هندوستان، انګلستان، امريکا متحده ايالات او اردن ) ترسره سوي دي (۱۰) . ددغو مطالعاتو په نتيجه کي دا معلومه سوې ده، چي د انتي بيوتيک په وړاندي عامه پوهاوي کم دی او د انتي بيوتيک په صحيح استعمال، تجويز ، اهميت او تشويق باندي تمرکز سوی دی ( ۱۱) . په افغانستان کي تر ټوله لويه فاجعه دا ده چي د انتي بيوتيک د ا ستعمال اړوند په ټولنه کي عامه پوهاوي تر ټولو په ټيټه کچه دی، په داسي حال کي چي د روغتيايي سکتور اړوند کارکوونکي حتی ډاکټران د انتي بيوتيک په تجويز کي په صحيح ډول پريکړه نه کوي.ددې سروې د لاسته راغلو پايلو شريک کول د اړوندو ادارو، روغتياپالانو او ټولني سره به ډېر اهميت په دې کي ولري چي ټوله اړخونه د انتي بيوتيک درملو د بې ځايه ا ستعمال په وجه د مقاومت د منځته راتګ د ننګونو، د غير صحيح تشخيص د مخنيوي او وړ سپارښتنو سره ا شنا کړي.

## د سروې اهداف (Goals)

۱- د انتي بيوتيک د استعمال اړوند د معلوماتو را ټولول:

- د انتي بيوتيک درملو د نوم ډول
- د انتي بويتيک استطباب نظر و تشخيص ته
- د روغتيا پال د تحصيل کچه

۲- د پالیسي جوړونکو او طبي کارکوونکو سره د انټي بیوټیک د استعمال اړوند مرسته کول:

- په روغتون کې د انټي بیوټیک د استعمال اړوند عامه پوهاوي زیاتول.
- د انټي بیوټیک د تجویز اړوند د ستونزو مشخصول.

## میتودولوژي (Methodology)

دا یوهcross-sectional څېړنه ده چې د کندهار ولایت په یوه خصوصي روغتون کې د نارینه، ښځینه او اطفالو مریضانو د ۲۲۹ نسخو د مشاهدې پر اساس ترسره سوې ده، دمریضانو هغه نسخې چې درملتون ته یې راوړې وې د مشاهدې له مخې یې پوښتنپاڼې د دوو میاشتو په جریان کې ( ۱۴۰۰ کال د ثور دمیاشتې له لومړۍ نیټې څخه د همدغه کال د سرطان د میاشتې تر لومړۍ نیټې پورې ډکې سوې. سمپل سایز د دغه فارمول ( $n = Z^2pq/d^2$) په واسطه و ټاکل سو او ډاټا د SPSS سافټویر په واسطه تحلیل سول ترڅو په دقیق او هر اړخیز شکل بغیر د نیمګړتیا څخه تحلیل سي. د ډاټا ټولو د پاره د شخصي ـ روغتون د اداري او د مریضانو رضایت اخیستل سوی دئ، د روغتون او مریضانو نومونه د سروې په تحلیلي راپور کې د اخلاقي او حقوقي اړخه ندي ذکر سوي.

## د سروې نتایج او ډاټا تحلیل(Results and Data analysis)

نوموړې سروې چې د کندهار ولایت د ښار په مرکز څلورمه ناحیه کښې کې په یو نسبتا پرمختللي خصوصي روغتون کې ترسره سوې ده چې ټول ټال ۲۲۹ سمپلونه (نسخې )راټول سوي چې (۱۰۰ تنه) ئې د نارینه او (۱۲۸ تنه) ئې د ښځینه مریضانو څخه وه او ۹۹ فیصده مریضان د ښار اوسېدونکي ول. په اول او دوهم جدول کې د مریضانو ځانګړتیاوې (Socio-demographic characteristics) ښودل کیږي او د هغه وروسته په نورو جدولونو کې د پوښتنلیک د جوابونو تحلیلي بڼه ښودل کیږي.

### د ناروغ جنسیت:

| Gender of patients | | |
|---|---|---|
| | Frequency | Percent |
| Male | 100 | 43.7 |
| Female | 128 | 55.9 |
| Not specified | 1 | .4 |
| Total | 229 | 100.0 |

جدول ۱: د مریض جنسیت

**د ناروغ عمر:**

د مریضانو د ۲۲۹ نسخو د مشاهدې له مخې په ۱۹۳ نسخو کې د مریضانو عمرونه نه وه لیکل سوي فقط د ۳٦ مریضانو عمرونه لیکل سوي وه چې وضاحت یې په لاندې جدول کې ورکړل سوی دی.

| Age category of patients | | | |
|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent |
| Valid | 1-18 | 13 | 5.7 |
| | 19-45 | 15 | 6.6 |
| | 46-70 | 8 | 3.5 |
| | Total | 36 | 15.7 |
| Unspecified age | | 193 | 84.3 |
| Total | | 229 | 100.0 |

جدول ۲: د مریض عمر (سن)

**د انټي بیوټیک استعمال:**

روغتون ته چې (۲۲۹) ناروغانو مراجعه کړې وه د هغو څخه یې ۹۵،٦٪ ناروغانو ته د ډاکټرانو له لوري انټي بایوټیک تجویز سوي وه.

**Antibiotic Prescribed**

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | Yes | 219 | 95.6 |
| | No | 10 | 4.4 |
| | | 229 | 100.0 |

جدول ۳: په نسخه کې د انټي بایوټیک لیکل

**د استعمال سوو انټي بایوټیک درملو اندازه:**

د ۲۲۹ مریضانو څخه ۱۴۰ تنو مریضانو ته فقط یو انټي بیوټیک، ۷۱ تنو ته دوه، ۸ تنو ته درې او ۱۰ تنو مریضانو ته هیڅ مکروب ضد درمل ندي تجویز سوي.

**Number of Antibiotic Used**

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | 1 | 140 | 61.1 |
| | 2 | 71 | 31.0 |
| | 3 | 8 | 3.5 |
| | Total | 219 | 95.6 |
| Not prescribed | | 10 | 4.4 |
| Total | | 229 | 100.0 |

جدول ۴: په نسخه کي د انتي بایوټیک لیکل

**د ناروغیو تشخیص:**

ددغه سروي د ۲۲۹ مریضانو څخه فقط د (۱۰ تنو) مریضانو تشخیص په نسخه کي لیکل سوی وو او د ۹۵،۶٪ مریضانو ته بغیر د دې چي تشخیص ئې یقیني سي انتي بایوټیک یا د مکروب ضد درمل ورته تجویز سوي دي.

**Diagnosis**

| | | Frequency | Percent |
|---|---|---|---|
| Valid | Un diagnosed | 219 | 95.6 |
| | fever | 1 | .4 |
| | h-pylori | 6 | 2.6 |
| | tonsillitis | 1 | .4 |
| | typhoid | 2 | .9 |
| | Total | 229 | 100.0 |

جدول ۵: د ناروغیو تشخیص

**د ډاکتر د تحصیل درجه:**

په سروي کي د ۲۲۹ مریضانو څخه يې تر ۵۰٪ زیات مریضان د متخصص ډاکټرانو په واسطه کتل سوي دي.

| Education level of doctors | | | |
|---|---|---|---|
| | | Frequency | Percent |
| Valid | MD | 68 | 29.7 |
| | Master Degree | 46 | 20.1 |
| | Specialty | 115 | 50.2 |
| | Total | 229 | 100.0 |

جدول ٦: د ډاکټر د تحصیل درجه

## د سروې قوي او ضعیف نقاط:

**الف: د سروې قوي نقاط:**

1. د سروې له پاره ډاټا په اسانۍ سره لاسته راغلل.
2. مریضانو په خپله خوښي او داوطلب شکل خپلي نسخې د ډاټا ټولونکو سره شریکولې.
3. د درملتون روغتیایي کارکوونکو د ډاټا ټولونکو سره پوره همکاري کړې ده.
4. ډاټا ټولونکي د ډاټا ټولولو دمیتود سره پوره اشنا او مسلکي ول.

**باء: د ضعف نقاط:**

1. د سروې له پاره ډاټا د ښار په یوه خصوصي روغتون کي را جمع سوې ده.

## پایله (Conclusion)

د کندهار ښار په مرکز کي په یوه خصوصي روغتون کي په ۲۲۹ مریضانو کي د سروې په نتیجه کي دا واضح سول چي د ۹۵،٦ ٪ سلنه زیاتو مریضانو ته د مختلفو علمي درجو لرونکو ډاکټرانو له لوري یو یا د یوه څخه اضافه انټي بیوټیک تجویز سوي دي چي دا د انټي بیوټیک درملو د استعمال ډیره لوړه کچه ده او په راتلونکي کي د انټي بیوټیک په وړاندي د لوړ مقاومت د خطر احتمال شونی کوي او د مریضانو څخه تر ۵۰ فیصده زیاته برخه د متخصص ډاکترانو په واسطه کتل سوي دي چي دا تر یو حده د ټولني د افرادو پر عامه پوهاوي دلالت کوي ولي بیا هم د ښار په مرکز کي په تقریبا یو مشهوره روغتون کي ۲۹،۷٪ مریضان د MD درجه لرونکو ډاکترانو په وسیله کتل سوي. تر ۹۵،٦ ٪ فیصده زیاتو نسخو کي د ډاکترانو له لوري تشخیص نه دی لیکل سوی چي دا د نقد او اندیښني وړ موضوع ده چي د نورو څیړنو او جدي قانوني اقداماتو ایجاب کوي. په ۱۹۳ نسخو کي د مریضانو عمرونه نه وه لیکل سوي فقط د ۳٦ مریضانو عمرونه لیکل سوي وه چي د انټي بیوټیک د مناسب ډوز اړوند نظر د مریض عمر ته په صحیح ډول نه معلومیږي. د نسخو ۹۹ فیصده برخه د ویلو وړ او واضح وه لیکن د نسخو ځیني برخي د ډاکترانو له لوري تشي پاته سوي وي لکه د مریضانو عمرونه، د بدن د حرارت درجه، د ویني د فشار اندازه، د تنفس ریټ. د ټولو درملو نومونه په جنیریک نامه لیکل سوی ول. د ښځینه او نارینه مریضانو نسبت ۱۰۰ نارینه او ۱۲۸ ښځینه وه او تقریبا ۹۹ فیصده مریضان د ښار اوسېدونکی ول.

## سپارښتني (Suggestions)

1. په ټولنه کي بغير د اړتيا څخه پر خپل سر د انټي بيوټيک د استعمال څخه جدي ډډه وسي.
2. د ټولني ټولو قشرونو ته داسي عامه پوهاوي ورکړل سي تر څو د ناروغۍ په وخت کي مربوط متخصص او پوه ډاکټر ته مراجعه وکړي.
3. ډاکټران بايد د دقيق تشخيص چي د مکملي تاريخچې ، فزيکي معايناتو او لابراتواري معايناتو په مرسته يې ټاکي وروسته مناسب انټي بيوټيک استعمال کړي.
4. روغتياپالانو ته بايد دا وښودل سي چي بغير د سختې اړتيا څخه تر يو اضافه انټي بيوټيک تجويز نه کړي.
5. ډاکټرانو او مريضانو ته بايد دحاملګۍ په جريان کي هغه انټي بيوټيک چې مضاد استطباب دي په وړاندي عامه پوهاوي ورکړل سي.
6. په ماشومانو کي د انټي بيوټيک غيري مناسب تجويز څخه بايد پرهيز وسي تر څو د انټي بيوټيک په وړاندي ژر مقاومت تر لاسه نه کړي.
7. د ضرورت پر اساس د انټي بيوټيک د استعمال په وخت کي د انټي بيوټيک د کمپنۍ کيفيت د انټي بيوټيک ميعاد په نظر کي ونيول سي.
8. هغه مريضان چي په پرلپسې شکل انټي بيوټيک د زيات وخت له پاره اخلي ډاکټران بايد د کلچر وروسته انټي بيوټيک ورته تجويز کړي.
9. د انټي بيوټيک د استعمال او په وړاندي يې د مقاومت منځته راتګ باندي بايد پراخه کچه د دولتي او غير دولتي اړوند ادارو له لوري څېړني وسي .
10. د ډاکټر او يا همکار په واسطه يې بايد د نسخو او دوسيو ټولي برخي ډکي سي.

## ماخذونه (References)


World Health Organization (WHO) (2012) The evolving threat of antimicrobial resistance.

Options for action. Geneva: World Health Organization ,2012. Available: http://whqlibdoc. who. int/publications/ 2012/9789241503181_eng. pdf. Accessed:10December2014.

Chambers HF.General principles of antimicrobial therapy. In Good man&Gilman's The Pharmacological Basis of Therapeutics 11th edition. Editors: BruntonL,ParkerK,BlumenthalD,BuxtonI. New York, USA, McGrawHill.2006;pp.1095–110.

World Health Organization (WHO)(2014)Antimicrobial Resistance. Global Report on Surveillance. Geneva: World Health Organization,2014.Available:http://apps.who.int/iris/bitstream/10665/112642/ 1/9789241564748_eng.pdf.Accessed10December2014.

Centers for Disease Control and Prevention( CDC)(2013) Antibiotics Aren't Always the Answer. Available: http://www.cdc.gov/Features/GetSmart/. Accessed:10December2014.

Tonkin-CrineS,YardleyL,LittleP.Antibiotic prescribing for acute respiratory tract infection primary care: a systematic review and meta-ethnography.J Antimicrob Chemother.2011; 66(10):2215–2223. doi:10.1093/jac/dkr279PMID:21764827

Butler CC,RollnickS,PillR,Maggs-Rapport F,StottN.Understanding the culture of prescribing: qualitative study of general practitioners' and patients' perceptions of antibiotics for sore throats. BMJ.1998; 317(7159):637–642.PMID:9727992

KumarS, LittleP ,BrittenN.Why do general practitioners prescribe antibiotics for sore throat? Grounded theory interview study.BMJ.2003; 326(7381):138.PMID:12531847

Teixeira RodriguesA,RoqueF,FalcãoA,FigueirasA,HerdeiroMT.Understanding physician antibiotic prescribing behavior :a systematic review of qualitative studies.IntJAntimicrobAgents.2013; 41(3): 203–212.doi:10.1016/j.ijantimicag.2012.09.003PMID:23127482

CarsO,MölstadS,MelanderA.Variation in antibiotic use in the European Union.Lancet.2001; 357 (9271):1851–1853.PMID:11410197

CorbettKK,GonzalesR,Leeman-CastilloBA,FloresE,MaselliJ,KafadarK.Appropriate antibiotic use: variation in knowledge and awareness by His panic ethnicity and language.PrevMed.2005; 40 (2):162–169.PMID:15533525

McNultyCAM,BoyleP,Nichols,ClappisonP,DaveyP.Don'twearmeout—The public's knowledge of and attitudes to antibiotic use.JAntimicrobChemother.2007; 59(4):727–738.PMID:17307770

# Magnitude of antibiotic use in Kandahar Health Facility

Dr. Ahmad Shah Omar (MD, MPH)

Dean of Medical Faculty

**Abstract**

When the public health activists detected the inappropriate usage of antibiotic medicine in international level. This situation caused to conduct several scientific research in the world about the usage of antibiotic and to rise the understanding of people and doctors about the negative effects of antibiotics. The objective of this survey is to collect the data to show that in which quantity the doctors prescribe antibiotics to patients in Kandahar. This research is conducted based on cross-sectional research method in which the data is collected through questionnaires from 229 prescription of patients from 21 April 2021 till 22 May 2021 in one of a private hospital in Kandahar province. The data is collected by assistants of the doctors. The results of this survey show that most of doctors from any level of education prescribed many antibiotics without well diagnosis. Governmental, educational and health departments should make the policies to prohibit the unnecessary prescription of antibiotics.

**Keywords**: antibiotic, resistance, prescription, doctors, diagnosis